بسم الله الرحمن الرحيم

WWW.AL-SHIA.ORG

مؤسسهٔ امام علي(ع)
اسلامي جمهوري ايران قم
پوسټ بکس: 37185/737
ټيليفون: 7743996
فيکس: 7743199
پريښتا:

# شیعه ځواب ورکوي

لیکوال : سید رضا حسیني نسب

ژباړونکی: عبدالرحیم دراني

نام کتاب: شيعه پاسخ مي دهد (پشتو)
نويسنده: سيد رضا حسني نسب
زير نظر: آيت الله جعفر سبحاني
مترجم : عبد الرحيم دراني
حروفچيني: سرفراز علي مهدي
ويراستاري : سرفراز علي مهدي
ناشر : موسسه امام علي (ع)
تيراژ: 2000
نوبت چاپ: اول
تاريخ انتشار: 1429
چاپخانه: ستاره

شابك: 978-600-5213-12-6

---

## الشيعة تجيب باللغة البشتو

د کتاب نوم: ــــــــــ شيعه ځواب ورکوي
ليکوال: ــــــــــ سيد رضا حسيني نسب
ژباړونکې: ــــــــــ عبد الرحيم دراني
کمپوز او تصحيح: ــــــــ سرفرازعلي مهدي
ترتيب: ــــــــــ محمد رحيم دراني
د چاپ کال: ــــــــــ 2007 م
شمير: ــــــــــ 2000 ټوکه
خپرونکې اداره: ــــــــ موسسه امام علي(ع)

# لړلیک


سریزه ........................................................................................... 7
و عترتی *صحیح دے که *و سنتی*.......................................................... 10
د شیعه مطلب څه دے؟........................................................................ 22
ولې علي بن ابي طالب د پیغمبر وصي، خلیفه او ځاې ناستے دے؟ ................. 25
امامان څوک دي؟..................................................................................... 29
ولې پر محمد (ص) د صلوة او درود په وخت د هغه حضرت آل هم په واو سره عطف کوئ او ذکر کوئ او وایئ * اللهم صل علی محمد و آل محمد ؟ ....................... 32
ولې خپلو امامانو ته معصوم وایئ؟ ................................................................ 34
ولې په بانګ کې اشهد ان علی ولی الله وایئ .................................................. 37
مهدی آل محمد څوک دے او تاسو ولې د هغه د راتللو په تمه یئ؟.................... 41
که شیعه په حقه دي نو ولې په اقلیت کې (لږ) دي .......................................... 45
رجعت څه څیز دے او ولې پرې عقیده لرئ؟ .................................................. 48
شفاعت چې تاسو پرې عقیده لرئ څه ته وایې؟ ................................................. 55
ایا له حقیقي شفیعانو د شفاعت غوښتل شرک دے؟......................................... 59
آیا بې له خدایه له بل چا مرسته غوښتل شرک دے؟ ......................................... 64
آیا د نورو بلل او ورته اواز کول د هغوي عبادت او شرک معنا لري؟ ................. 68
بداء څه څیز دے او تاسو پرې ولې عقیده لرئ؟................................................ 75
آیا شیعه د قران د تحریف عقیده لري؟ ........................................................... 80
د اصحابو په هکله د شیعهؤ نظر څه دے؟ ........................................................ 91
د متعې مطلب څه دے او ولې شیعه متعه وادهٔ حلال ګڼي؟.............................. 101
شیعه ولي په خاوره (سجده ګاه) سجده کوي؟ ................................................ 111
ولي شیعه د زیارت کولو په وخت د زیارت (حرم) دروازې او دیوالونه ښکلوي ..... 122
ایا د اسلام له نظره دین له سیاسته جدا نه دے؟ ............................................ 128
ولې شیعه، امام حسن او امام حسین ته د رسول الله مبارک بچې وایې؟............. 137
ولې شیعه خلافت تنصیصي (په نص سره) ګڼي؟ ............................................ 144
آیا بې له خدایه د بل چا قسم خوړل شرک دے؟............................................. 150
آیا د خداي تعالیٰ په ولیانو پورې توسل کول شرک دے او د بدعت سبب کیږي؟..157

آيا د خداي د وليانو د کليزې لمانځل بدعت يا شرک دی؟ ............................ 164
ولې شيعه پينځه لمونځونه په دريو وختونو کښې کوي؟ ............................... 170
د شيعه فقهې منابع (سرچينې) کومې دي؟ ................................................ 191
آيا ابوطالب په ايمان سره له دنيا لاړ چې تاسو يې زيارت ته ورځئ؟ ................ 206
آيا د شيعهؤ له نظره جبرائيل د رسالت په رسولو کښې خيانت کړی دی او د حضرت
علی(ع) په ځاي يې په رسول الله مبارک قرآن نازل کړی دی؟ ............................ 229
د تقيې معيار څه دی؟ ......................................................................... 234
په ايران کې جعفري مذهب د هيواد رسمي مذهب دی ولې؟ .............................. 239
آيا شيعه د وتر لمونځ واجب ګڼي؟ ............................................................ 242
آيا د خداي د وليانو په غيبي قدرت عقيده شرک دی؟ ..................................... 244
ولې د امام مقام د رسالت تر مقامه لوړ دی؟ ................................................ 249
له شرکه د توحيد د پيژندلو معيارڅه دی؟ ................................................... 260

## سریزه

پر اسلامي نړۍ له واکمنو شرائطو خبر کسان ښه پوهیږي چې نن له اسلامي امته "څو امتونه" جوړ شوي دي او هر امت د ځان لپاره په بیله لاره او طریقه روان دے د دې په نتیجه کښې د هغوي د ژوند واګې د داسې کسانو لاسته ورغلي دي چې خپله مشري او بقا اختلافاتو ته په لمن وهلو کښې ګڼي له دې امله یې په دې لاره کښې په مختلفو ډولونو پانګه ونه کړې ده او له هرې ممکنې وسیلې کار اخلي.
په دې کښې شک نشته چې په اسلامي طایفو کښې اختلافي مسائل شته دي که څه هم زیاتره یې په کلامي مسائلو پورې اړوند دي چې اسلامي متکلمانو یې بنیاد ایښے دےاو عام مسلمانان له هغو نه دي خبر خو د اختلافي مسایلو په وړاندې ګڼ چورلیزونه هم شته چې د مسلمانو پرګنو د یو ځاي کیدو کړۍ ده بلکه مشترک ټکي یې تر اختلافي ټکیو زیات دي – له دې سره سره – د اختلاف سرغنو په اختلافي ټکیو تکیه کړې ده او په اصولو او فروعو کښې ګڼ او مشترک مسایل نه بیانوي.
"د اسلامي مذهبونو تر مینځ د نزدیکت" په یو کانفرنس کښې د شخصي چارو (لکه طلاق، میراث، نکاح و غیره) په هکله د فقهي مسائلو د موضوع بیانول ماته وسپارل شول. ما په دې هکله کانفرنس ته یوه مقاله ورکړه چې د کانفرنس برخوال یې حیرانه کړل هغوي د دغه رسالې له لوستلو مخکښې هیڅکله نه منله چې

شیعه فقه په اکثرو مسائلو کښې چې له دغه باب (شخصي احوالو) سره تعلق لري د اهل سنتو له اوسنیو څلورو مذهبونو سره یو نظر لري.
هغوي یوازې د اوریدلو تر حده او د نندارچیانو په توګه شیعه له نورو اسلامي مذهبونو یوه لرې شوې طائفه ګڼي او شپه او ورځ د تاریخ د دې مظلومې ډلې په خلاف په رسندویو کښې خبرې کوي دوي بې له دې چې د دشمن لپاره خوش خدمتي وکړي او د دشمن ژرندې ته اوبه واچوي بل څه نه کوي او زه (لیکوال) دغو ناخبرو کسانو ته سپارښتنه کوم چې د شیعه ؤو له عالمانو او پوهانو سره دې نزدې تماسونه او اړیکې ټینګ کړي چې له سترګو یې د ناپوهۍ پردې ورلیرې کړي او شیعه به ورته د یو سکه ورور په توګه وښیي چې پیړۍ پیړۍ یې دوي غوښتنه کوله او په دې ډول د دې ایت معنا تحقق ومومي چې فرمایي "اِنّ اُمّتَکُم اُمّة واحِدة وَ اَنا رَبُّکُم فَاعبُدُون"
په اسلامي امتونو کښې د ښکیلاک (استعمار) یو زوړ چل د شبهو پیدا کول او د شکونو او عتراضونو مطرحول دي او دا د هغوي پخوانۍ طریقه ده چې په وروستیو پیړیو کښې یې په منځني ختیځ او ځینو نورو سیمو کښې وچلوله.
د حج په ورځو کښې د خداي د کور ډېر حاجیان چې له اسلامي انقلاب سره اشنا شوي او له بلې خوا یې د دښمنانو ناوړه تبلیغاتو ذهنونه لالهانده کړي دي له ایرانیو حجیانو سره د کتنې په وخت پوښتنې کوي او د هغوي ځواب غواړي.

دغه غوښتنې ته د ځواب ويلو لپاره د دغو پوښتنو لويه برخه چې زياتره يې ديني او کلتوري اړخ لري په دې ټولګه کښې راغونډې شوي او قدرمن پوه او عالم سيد رضا حسيني نسب زما تر څارنې لاندې دغه ځوابونه منظم کړي دي او تر خپله وسه يې د هغو وضاحت کړے دے او په ځواب کښې د لنډون او اختصار لپاره د ضرورت په حد بسنه شوې ده او که څوک تفصيل او څيړنه غواړي نو هغه دې نورو کتابونو ته مراجعه وکړي.

بله دا چې دا وړوکے شان خدمت دې د زمانې امام _ ارواحنا فداه_ قبول کړي

د قم علميه حوزه

جعفر سبحاني 1374\9\1

# لومړۍ پوښتنه

## و عترتی *صحیح دے که *و سنتی*

محدثانو حدیث ثقلین چې ډیر مشهور دے په دوه ډوله نقل کړے او د حدیثو په کتابونو کې یې راوړے دے اوس دا کتل پکار دي چې په دغو دوو کې کوم یو سم دے. ؟

الف: کتاب الله و عترتی اهل بیتي

ب: کتاب الله و سنتی

ځواب:

له رسول الله مبارک راغلے صحیح او ثابت حدیث هماغه * و اهل بیتی * لفظ دے هغه روایت چې د * اهل بیتی * په ځای پکې * وسنتی* راغلے د سند له نظره باطل دے او د اهل بیتی د حدیث سند پوره صحیح او بشپړ سم دے.

د * اهل بیتی * د حدیث سند

دا متن دوو لویو محدثانو نقل کړے دے

1ـ مسلم په خپل صحیح کې له زید بن ارقمه نقلوي چې : د خدای رسول یوه ورځ د *خم* په نامه په یوه ژوره سیمه کې چې د مکې او

مدينې ترمينځ پرَتَه ده يوه خطبه ورکړه ـ په دغه خطبه کې يې د خداي پاک حمد او ثنا ووېله خلکو ته يې نصيحت وکړ او بيا يې داسې وفرمايل:

الا ايها الناس فانما انا بشر يوشک ان ياتی رسول ربی فاجيب، و انا تارک فيکم ثقلين: اولهما کتاب الله فيه الهدی و النور فخذوا بکتاب الله و استمسکوا به ـ فحث علی کتاب الله و رغب فيه ثم قال: ـ و اهل بيتی، اذکر کم الله فی اهل بيتی، اذکرکم الله فی اهل بيتی، اذکرکم الله فی اهل بيتی.*

ای خلقو زه هم يو انسان يم او نزدې ده چې زما د رب مامور او استازے راشي او زه د هغه غوښتنې ته لبيک ووايم او زه په تاسو کې دوه قيمتی څيزونه پرېږدم او ځم يو د خداي کتاب چې په هغه کې هدايت او رڼا ده، د خداي کتاب واخلئ او ټينګ يې کړئ ـ پيغمبر د خداي د کتاب په عمل ټينګار وکړ بيا يې وفرمايل او زما اهل بيت، زه تاسو ته د خپلو اهل بيتو په هکله خداي دريادوم ( د خداي لپاره)، زه تاسو ته د خپلو اهل بيتو په هکله خداي دريادوم ( د خداي لپاره)، زه تاسو ته د خپلو اهل بيتو په هکله خداي دريادوم (د خداي لپاره) [1]

دا متن دارمي هم په خپل سنن کې راوړے دے [2] دا ويل ضروري دي چې د دغو دواړو سند د لمر په شان روښانه او صفا دے او هيڅ کرچ پکې نيشته.

---

[1]. صحيح مسلم 4 ټوک 1803 مخ 2408 شمير ـ چاپ عبد الباقي

[2]. سنن دارمي 2 ټوک 431 ـ 432 مخونه

2ـ ترمذي دا متن د * و عترتی اهل بیتی * په لفظ ســــره راوړے دے. د حديث متن دا دے.

(( انی تارک فیکم ما ان تمسکتم به لن تضلوا بعدی، احدهما اعظم من الآخر کتاب الله حبل ممدود من السماء الی الارض و عترتی اهل بیتی لن یفترقا حتی یردا علی الحوض فانظروا کیف تخلفونی فیها )) [1]

زه په تاسو کې دوه ګرانبيه څيزونه په امانت پريږدم تر کومه چې په هغو پورې تمسک او لاس ولرئ هيڅ کله به ګمراه نه شئ، يو تر بل لوي دے. د خداي کتاب چې له اسمانه تر زمکې د اويزان رحمت رسۍ ده او بل زما عترت او اهل بيت او دا دوه هيڅ کله له يوه بله نه جدا کيږي تر دې چې په حوض (کوثر) ماته راورسيږي وګورئ چې زما له امانتونو سره څرنګه سلوک کوئ.

مسلم او ترمذي چې د صحاحو او سننو ليکونکي دي دواړه د * اهل بيت * په لفظ ټينګار لري او دا زمونږ د نظر د ثابتولو لپاره کافي ده او د دواړو ســـند ډير يقيني او باوري دے چې بحث ته اړتيا نه لري.

## د *و سنتی* د متن سند

---

[1]. سنن ترمذي 5 ټوک 663 مخ ـ شمير 37788

هغه راویت چې د و اهل بیتی* په ځاي یې د سنتی * لفظ راوړے دے یو جعلي حدیث دے چې هم یې سند ضعیف دے او هم د امویانو عواملو جوړ کړے دے.

1ـ حاکم نیشابوري په خپل مستدرک کې دغه متن په لاندینیو اسنادو سره نقل کړے دے.

((عباس بن ابی اویس)) عن ((ابی اویس)) عن ((ثور بن زید الدیلمي))، عن ((عکرمه)) عن ((ابن عباس)) قال رسول الله :

(( یا ایها الناس انی قد ترکت فیکم، ان اعتصمتم به فلن تضلوا ابدا کتاب الله و سنة نبیه!))[1]

ـ ای خلقو زه تاسو ته دوه څیزونه پریږدم تر هغه وخته چې په دغو دوو مو منګولې ښخې کړي وي هیڅ کله به لاره ورکه نه کړئ د خداي کتاب او د پیغمبر سنت!

د دغه متن په راویانو کې یو زوے او پلار دي چې د سند افت دي. او هغه دوه اسماعیل بن ابي اویس او ابو اویس دي داسې پلار او زوے چې نه یوازے موثق نه دي بلکې په دروغو او د حدیثونو په جعل او جوړولو تورن دي.

## د دغو په هکله د رجال د علماو خبره

حافظ مزي چې د رجال د هنر یو څیړاندے دے په تهذیب الکمال کتاب کې د اسماعیل او د هغه د پلار په هکله لیکلي:

---

1. مستدرک حاکم ج 1 93 مخ

((يحيى بن معين (چې د علم رجال لوي عالم دے) وايي: ابو اويس او د هغه زوے ضعيف دي او همدا راز له يحيى بن معين نقل شوې ده چې وايي: دا دوه کسان حديثونه پټوي، ابن معين هم دا راز د ابو اويس د بچی په هکله ويلی دي. * په هغه باور نه شي کيد ے*

نسايي د زوي په هکله وايي: هغه ضعيف د ے او ثقه (باوري) نه د ے. ابو القاسم لالکائي ويلی دي: (نسايي) د هغه په خلاف زياتې خبرې کړي دي تر دې چې ويلي يې دي بايد د هغه حديث پريښودل شي.

ابن عدي (چې د رجال له علماوو د ے) وايي: ابن ابي اويس له خپل ماما(مالک) عجيبه حديثونه روايتوي چې هيڅوک يې نه مني. [1]

ابن حجر، په مقدمه فتح الباري کې راوړي دي. هيڅ کله د ابن ابي اويس په حديث سره احتجاج نه شو کولے (دليل نه شو راوړلے) د هغه قدحې په وجه چې نسايي د هغه په هکله کړې ده [2]

حافظ سيد احمد ابن صديق په فتح الملک العلی کتاب کې له سلمه بن شيب روايتوي چې له اسماعيل ابن ابې اويسه يې اوريدلي دي چې ويل يې: کله چې د مدينې خلک د يو حديث په هکله دوه ډلې شي نو زه حديث جعلي کوم [3]

---

[1]. حافظ مزي تهذيب الکمال، ټوک 3 مخ 127

[2]. ابن حجر عسقلاني، مقدمه فتح الباري مخ 391 چاپ دارالمعرفه

[3]. حافظ سيد احمد ابن صديق ، فتح الملک العلی، مخ 15

په دې اساس زوے (اسماعیل بن ابي اویس) د حدیثونو په جعل تورن دے او ابن معین هغه دروغجن ګڼلے دے، له دې ورتیر د هغه حدیث هیڅ کله په صحیحینو ترمذي او د صحاح په نورو کتابونو کې نه دے نقل شوے.

د ابو اویس په هکله همدومره بس ده چې ابو حاتم رازي په کتاب ((جرح و تعدیل)) کې وایي: د هغه حدیث لیکل کیږي خو دلیل ورسره نه راوړل کیږي او د هغه حدیث قوي او محکم نه دے.[1]

هم دا راز ابو حاتم له ابن معینه نقل کړې ده چې ابو اویس باوري کس نه دے. هغه روایت چې د دغو دوو کسانو نومونه په سندونو کې دي هغه روایت بالکل صحیح نه دے له دې ورتیر، له صحیح او ثابت حدیث سره مخالف دے.

د پام وړ ټکے دا دے چې د حدیث ناقل، یعني حاکم نیشابوري د حدیث په ضعف اعتراف کړے دے. ځکه یې د هغه د سند د صحیح کولو هڅه نه ده کړې خو د هغه د مفاد په سموالي یې شهادت راوړے دے چې هغه هم د سند له نظره سست او د اعتبار له درجې پریوتے دے نو ځکه د حدیث د قوي کولو په ځاي د هغه ضعف او کمزوري زیاتوي اوس د هغه چټي شاهد ته راګرځو.

1. ابو حاتم رازي، الجرح والتعدیل ټوک 5 مخ 92

د ((و سنتی)) د روایت دوهم سند

حاکم نیشابوري په هغه سند سره چې رابه شي له ابو هریره په مرفوع[1] ډول نقلوي:. (( انی قد ترکت فیکم شیئین لن تضلوا بعدهما: کتاب الله و سنتی و لن یفترقا حتی یردا علی الحوض [2]

دا متن حاکم په داسې سند سره نقل کړے دے:. ( الضبی) عن ... (صالح بن موسی الطلحی) عن (عبد العزیز بن رفیــــــع) عن (ابی صالح) عن ( ابی هریره)

دا حدیث هم د مخکیني حدیث په شان جعلي دے او د سند په رجالو کې یې صالح بن موسی الطلحی راغلے دے چې دلته غواړو د هغه په هکله د علم رجال د علماو نظر وړاندې کړو:

یحیی بن معین وایي: صالح بن موسی باوري نه دے، او حاتم رازي وایي: د هغه حدیث ضعیف او منکر دے. د هغه ډیر منکر حدیثونه له ثقه کسانو نقلوي نسایي وایي:

د هغه حدیث نه لیکل کیږي

په یوۀ بل ځای کې وایي : د هغه حدیث متروک دے [3]

ابن حجر په تهذیب التهذیب کې لیکي: ابن حبان وایي صالح ابن موسی په ثقه کسانو پورې داسې شیزونه تړي چې د هغوي د خبرو

---

[1]. هغه حدیث چې راوي یې په معصوم پورې نسبت ورنه کړي مرفوع بلل کیږي.

[2]. حاکم مستدرک، ټوک 1 مخ 93

[3]. حافظ مزي تهذیب الکمال، ټوک 13 مخ 96

په شان نه دي او اخر وايي د هغه حديث حجت نه دے. او ابو نعيم وايي: د هغه حديث متروک دے او هميشه منکر حديث نقلوي.[1]
بيا هم ابن حجر په تقريب کې وايي[2] د هغه حديث متروک دے او ذهبي په کاشف[3] کې وايي: د هغه حديث سست دے تر دې چې ذهبي په (ميزان الاعتدال)[4] کې له هغه يو کړکيچن حديث نقل کړے او ويلي يې دي چې دا د هغه له منکر حديثونو دے.

د ((و سنتی)) حديث دريم سند

ابن عبدالبر په (التمهيد)[5] کتاب کې دا متن له دغه سند سره نقل کړے دے. عبد الرحمان بن يحيى) عن ( احمد بن سعيد) عن ( محمد بن ابراهيم الدبيلي) عن (علی بن زيد الفرائضی ) عن (الحنينی) عن ( کثـــير بن عبد الله بن عمرو بن عوف) عن ( ابيه ) عن (جده)

امام شافعي د کثير بن عبد الله په هکله وايي: هغه د دروغو يو رکن دے[6] ابو داوود وايي: هغه يو دروغجن او کذاب کس دے[7]
ابن حبان وايي عبد الله بن کثير له خپل پلار او نيکه د حديثونو

---

[1]. ابن حجر تهذيب التهذيب، ټوک دوهم، مخ 255
[2]. ابن حجر تقريب ترجمه، شمير 2891
[3]. ذهبی ، الکاشف، ترجمه شمير 2412
[4]. ذهبي ، ميزان الاعتدال دوهم ټوک 302 مخ
[5]. التمهيد 4 ټوک، 331 مخ
[6]. ابن حجر تهذيب التهذيب ټوک 8 مخ 377 ط دار الفکر ، تهذيب الکمال ، 24 ټوک 138 مخ
[7]. همدغه حواله

کتاب نقلوي چې اساس يې جعل دے. او وايي چې له عبد الله د روايت نقلول او ليکل بالکل حرام دي مګر که د حيرانتيا يا کره کتنې له پاره وي [1]
نسايي او دار قطني وايي د هغه حديث متروک دے امام احمد وايي هغه منکر الحديث دے. او باور پرې نشي کيدے. ابن معين هم همدا نظر لري.
د حيرانتيا خبره له ابن حجره په (التقريب) کتاب کې راغلي ده. چې د هغه په ترجمه کې يې يوازې د (ضعيف) په لفظ اکتفا کړې ده .او هغه کسان چې هغه يې په دروغو تورن کړے دے افراطيان بللي دي حال دا چې د علم رجال مخکښانو هغه په کذب او جعل تورن کړے دے. او حتی ذهبي وايي د هغه خبره چټي او سسته ده.

## بې سنده نقل

مالک په (الموطا) کې هغه بې له سنده او په مرسل ډول نقل کړے دے. او مونږ ټولو ته پته ده چې داسې حديث ارزښت نه لري.[2]
دا جاجونه ښه روښانوي چې د ((و سنتی )) حديث دروغجنو او په اموي دربار پورې تړلو راويانو جوړ کړے دے. او هغه يې د (( و عترتی)) د صحيح حديث په مقابل کې جعل کړے دے. له دې امله د جوماتونو په خطيبانو او امامانو او ديني ويناوالو لازمه ده. چې هغه حديث چې د خداي له رسوله نه دے راغلے پريږدي. او د دې

---

[1]. ابن حبان المجروحين، 2 ټوک 221 مخ
[2]. مالک، الموطا مخ 889، 3 ح

په ځاي يې خلکو ته صحيح حديث ووايي يعني هغه حديث چې مسلم په صحيح کې د (( اهل بيتی )) په شکل او ترمذي د عترتي او اهل بيتی په شکل راوړے دے. د علم لټونکو ته ضروري ده. چې د حديث علم زده کړي او صحيح حديث له ضعيف حديثه جدا کړي.

په پاي کې يادونه کوو چې د اهل بيتی له کلمې د خداي د رسول مطلب د هغه ذريت او زوزات دے. لکه حضرت فاطمه، حسن ، حسين سلام الله عليهم ـ ځکه چې مسلم په صحيح کې [1] او ترمذي په سنن کې [2] له عايشې نقل کړې ده. چې:

((نزلت هذه الايه على النبی صلی الله عليه و آله وسلم انما يريد الله ليذهب عنكم الرجس اهل البيت و يطهر كم تطهيرا فی بيت ام سلمه فدعا النبی صلی الله عليه و آله وسلم فاطمه و حسنا و حسينا فجللهم بكساء و على خلف ظهره فجلله بكساء ثم قال: اللهم هولاء اهل بيتی فاذهب عنهم الرجس و طهرهم تطهيرا قالت ام سلمة: و انا معهم يا نبی الله؟ قال: انت على مكانک و انت الی الخير)).

ـ د ((انما يريد الله ليذهب عنكم الرجس اهل البيت و يطهركم تطهيرا)) د ام سلمه په کور کې نازل شو پيغمبر، فاطمه، حسن او حسين تر خپلې عبا لاندې کړل او علي د هغه حضرت شاته ؤ. هغه يې هم په عبا کې پټ کړ او وې فرمايل: اي زما ربه ! دا زما اهل

---

[1]. صحيح مسلم 4 ټوک 1883 مخ 2424 ح.

[2]. ترمذي، 5 ټوک ، 663 مخ

بيت دي له دوي ككړتيا ليرې کړه او دوي پاک وګرځوه ام سلمه وويل: اي د خداي پيغمبره ايا زه هم له هغوي يم (او په دې ايت کې په راغلو اهل بيتو کې شمار يم)؟ وې فرمايل: ته په خپل ځاي کې اوسه (عبا ته مه راننوځه ) او ته د خير په لاره کې يې. [1]

## د حديث ثقلين مفهوم

دا چې د خداي رسول عترت د قران مجيد په څنګ کې راوستي دي او دواړه يې په امت کې د خداي حجت بللي دي. دوه نتيجې اخستلے شو.

1 ـ د پيغمبر د اهل بيتو (عترت) وينا د قران د وينا (خبرې) په شان حجت ده. او په ديني چارو کې که عقيدتي وي که فقهي بايد د هغوي په وينا عمل وکړو او که د هغوي له خوا دليل موجود وي نو بل چاته تلل نه دي پکار.

مسلمانان د پيغمبر اکرم صلى الله عليه و آله وسلم له رحلته وروسته د خلافت او د امت د سياسي چارو د ادارې په مسله کې په دوو ډلو تقسيم شول او هر يو ځانته دليل او برهان لري که هغوي په موضوع کې اختلاف لري خو د اهل بيتو په علمي مرجعيت کې شک او اختلاف نه د ے پکاره ځکه چې ټول د حديث ثقلين په صحيحوالي متفق دي او دا حديث په عقايدو او احکامو کې علمي مرجع قران او عترت ګڼي. او که اسلامي امت په دې

[1]. حسن بن علي السقاف، صحيح صفة صلاة النبى صلى الله عليه و آله وسلم **289ـ294** مخونه

حدیث عمل وکړي نو د اختلافاتو دایره به تنګه شي او یو والے به زیات شي.

2 ـ قران په دې حکم سره چې د خداي کلام دے له خطا او غلطۍ خوندي دے او څرنګه په قران کې د خطا احتمال وکولے شو حال دا چې خداي تعالی قران داسې ستایلے دے

(لاَ يَأْتِيهِ الْبَاطِلُ مِن بَيْنِ يَدَيْهِ وَلاَ مِنْ خَلْفِهِ تَنزِيلٌ مِّنْ حَكِيمٍ حَمِيدٍ)[1]

باطل هغه ته له مخکې او له شا لاره نه لري هغه کتاب دے چې د حکیم او حمید خداي له لوري نازل شوے دے.

که قران له خطا خوندي وي طبعا د هغه قرین او سارے هم باید له خطا خوندي وي ځکه چې صحیح نه ده چې خطاکار کس یا کسان د قران عدیل او هم څنګ شي.

او دا حدیث له هر ډول تیروتنې او ښوییدو د هغوي د عصمت ګواه دے البته باید دقت وکړو چې عصمت له نبوت سره ملازم او ضروري نه دے ځکه چې کیدے شي یو کس له خطا پاک وي خو پیغمبر نه وي حضرت بي بي مریم د دې ایت مطابق

إِنَّ اللّهَ اصْطَفَاكِ وَطَهَّرَكِ وَاصْطَفَاكِ عَلَى نِسَاء الْعَالَمِينَ)[2]

له ګناه پاکه ده خو پیغمبره نه ده.

---

[1]. سوره فصلت ایت 42

[2]. سوره ال عمران ایت 42

## دوهمه پوښتنه

## د شیعه مطلب څه دے؟

### ځواب:

شیعه د عربۍ لغت کې د پیرو او منونکي په معنا دے قران مجید فرمايي: ((و ان من شیعته لإبراهیم))[1]

د نوح یو منونکے ابراهیم علیه السلام دے خو د مسلمانانو په اصطلاح کې شیعه هغې ډلې ته وايي چې باور لري د خداې رسول حضرت محمد صلی الله علیه و آله وسلم له خپل رحلته مخکې په ډیرو ځایونو کې خپل ځاې ناستے او د مسلمانانو خلیفه ټاکلے ؤ منجمله د هجرت په لسم کال د ذي الحجې په اتلسمه نیټه چې د ((غدیر)) په ورځ مشهوره ده په یوې لوې غونډې کې یې خپل خلیفه په ګوته کړ او هغه یې له ځانه وروسته د سیاسي ، علمي او دیني مرجع په توګه وټاکه:

د دې خبرې د نور وضاحت له پاره به ووایو چې له ګران رسول وروسته مهاجر او انصار په دوو ډلو وویشل شول.

1. یوه ډله عقیده لري چې د خداې پاک پیغمبر اکرم د خلافت مسلې ته بې پامي نه ده کړې او خپل ځاې ناستے یې ټاکلے دے او هغه هماغه علي بن ابي طالب دے یعني لومړنے کس چې په پیغمبر یې ایمان راوړے ؤ.

---

[1]. صافات 83

دغه کسان چې مهاجر او انصار په کې شامل وو او په سر کې د بني هاشمو ټول شخصیتونه او یو شمیر لوي اصحاب لکه سلمان، ابوذر، مقداد، خباب بن ارت او داسې نور وو په هم دې عقیده پاتې شول او دوي ته د علي علیه السلام د شیعه ؤ نوم ورکړے شو.

البته دا لقب د خداې ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم په خپل ژوند کې د امیر المؤ منین منونکو او پیروانو ته ورکړے ؤ هلته چې علي بن ابي طالب ته په اشارې سره فرمایي:

(( والذی نفسی بیده، ان هذا و شیعته لهم الفائزون یوم القیامة)[1]

قسم په هغه ذات چې زما ژوند د هغه په لاس کې دے هغه (علي (ع) او منونکي یې د قیامت په ورځ کامیاب دي.

په دې اساس شیعه د اسلام د لومړیو وختونو د مسلمانانو هغه ډلې ته وایي چې د ولایت د مقام د تنصیص والي او د پیغمبر اکرم له لوري د ټاکل کیدو د عقیدې په وجه په دغه نامه مشهوره شوه او دغه کسان نن هم د پیغمبر اکرم صلی الله علیه و اله د اهل بیتو په پیروي او د وصایت په لاره باقي پاتي دي.

د شیعه مقام او پوزیشن له هم دې ځایه او هم دې لارې معلومیږي او په دې وینا سره د ځینو جاهلو یا غرضي جهل کوونکو د خبري باطل والے ثابتیږي چې وایي شیعه په وروسته وختونو کې پیدا شوي دي.

---

[1]. جلال الدین سیوطي در المنثور 6 ټوک د سوره بینه د اووم ایت ( ان الذین آمنوا و عملوا الصالحات اولئک هم خیر البریه په تفسیر کې

د شيعه ؤ د تاريخ څخه د زياتې اشنايۍ او معلوماتو له پاره دغو کتابونو ته مراجعه وکړئ (اصل شيعه و اصولها) ( المراجعات) (اعيان الشيعه)

2: يوه بله ډله په دې نظر وه چې د خلافت مقام انتخابي مقام دے له دې امله يې له حضرت ابوبکر سره بيعت وکړ او وروسته په اهل سنت يا تسنن مشهور شول او نتيجه دا شوه چې د دواړو اسلامي ډلو تر مينځ په اصولو کې له زياتو مشترکاتو سره سره د پيغمبر اکرم د جانشينۍ اوخلافت په مسله اختلاف پيدا شو او د دغو دواړو ډلو لومړي کسان مهاجر او انصار وو.

## دريمه پوښتنه

## ولې علي بن ابي طالب د پيغمبر وصي، خليفه او ځاې ناستے دے؟

**ځواب:**

لکه څنګه چې مو يادونه وکړه چې شيعه د خلافت د مقام په تنصيص والي کلکه عقيده لري او په دې باور دي چې امامت د خداې له رسول وروسته له ځينو اړخونو د نبوت په شان دے لکه څنګه چې ضروري ده چې پيغمبر د خداې له خوا وټاکل شي د هغه وصي هم بايد د خداې له لوري په ګوته او معرفي شي.

د رسول الله مبارک د ژوند تاريخ په دې خبره ګواهي ورکوي ځکه چې دوي په ډيرو ځايونو کې امام علي عليه السلام د خپل خليفه په توګه ټاکلے دے چې اوس يې يوازې دريو موردونو ته اشاره کوو.

### 1:۔د بعثت په پيل کښې

هغه وخت چې رسول ته د خپل خداې له لوري امر وشو چې خپل خپلوان د (و انذر عشيرتک الاقربين) [1] د ايت مطابق د توحيد

---

[1]. سوره شعراء ايت 214

دين ته وبله. د خداې رسول د خپلو خپلوانو غونډې ته وفرمايل ځوک چې په دې لاره کې زما مرسته وکړي هغه به زما وصي، وزير او ځاې ناستے وي) د هغه حضرت تعبير په دې ډول و:

(( فايكم يوازرنى فى هذا الامر على ان يكون اخى و وزيرى و خليفتى و وصيى فيكم))

په تاسو کې چې ځوک په دې چاره کې له ما سره مرسته کوي چې ستاسو تر مينځ زما ورور، وزير، وصي او جانشين وي؟

يوازنے کس چې دغه ملکوتي غږ ته يې مثبت ځواب ورکړ علي بن ابي طالب عليه السلام ؤ په دې وخت کې د خداې رسول خپلو خپلوانو ته مخ واړوه او وې فرمايل:

((ان هذا اخى و وصى و خليفتى فيكم فاسمعوا له و اطيعوه [1]

دا علي په تاسو کې زما ورور، وصى او ځاې ناستے دے د هغهٔ خبره واورئ او د هغهٔ پيروي وکړئ.

2: د تبوک په غزا کښې

د خداې رسول حضرت علي ته وفرمايل:

اما ترضى ان تكون منى بمنزلة هارون من موسى الا انه لا نبى بعدي [1]

---

[1]. تاريخ طبري دوهم ټوک 62 ـ 63 مخونه ـ کامل التواريخ دوهم ټوک 41 ـ 42 مخونه ـ مسند احمد لومړے ټوک 111 مخ ـ شرح نهج البلاغه (ابن ابي الحديد) 11 ټوک 210 ـ 212 مخونه

ايا په دې خوشحاله نه يې چې ته زما په نسبت داسې يې لکه هارون د موسى په نسبت ؤ فرق يوازې دا دے چې زما وروسته بل نبی نيشته.

يعني هماغه راز چې هارون د موسى عليه السلام وصي او بلافصل جانشين ؤ ته هم زما خليفه او ځاې ناستے يې.

## 3: د هجرت په لسم کال

د خداې رسول د حجة الوداع د ستنيدو په وخت د غدير خم په نامه په يوه سيمه کې حضرت علي عليه السلام د ګڼ شمير مسلمانانو په مخ کې د مسلمانانو او مؤمنانو ولي وباله او وې فرمايل:

(مَن كُنتُ مَولاهُ فَهذا عَلِي مَولاه) هر هغه کس چې تر اوسه يې زه مولا او سرپرست وم له دې وروسته دا علي د هغه مولا او سرپرست دے.

مهم او د پام وړ ټکے دا دے چې د خداې رسول د خپلو خبرو په پيل کې وفرمايل ( الستُ اولى بكم من انفسكم؟) آيا زه پر تاسو ستاسو تر خپلو ځانونو زيات لوړ او حقدار نه يم؟ ټولو مسلمانانو د دې خبرې تصديق وکړ او په دې اساس ويلے شو چې په دې حديث کې د مولا له لفظه مطلب پر مومنـــــانو اولويت د هغوي د مشرۍ او د هغوي د ټول اختيار په لاس کې اخستل دي او داسې نتيجه اخلو چې د خداې رسول هغه د اولويت او مشرۍ مقام چې

---

[1]. سيره ابن هشام 2 ټوک 520 مخ صواعق ابن حجر دوهم چاپ مصر 9 باب دوهم فصل 121 مخ

پخپله يې درلود د علي لپاره هم ثابت کړ او په هماغه ورځ حسان بن ثابت د غدير تاريخي کيسه په نظم کې وويله چې شعرونه يې دا دي.

| | |
|---|---|
| يناديهم يوم الغدير نبيهم | بخـــمِ واسمع بالرسول منادیـــاً |
| فقال فمن مولاکم و نبيکم؟ | فقالوا و لم يبدوا هناك التعاميا |
| الهـک مولانا و انت نبينا | و لــم تلق منا فی الولاية عاصيـا |
| فـــقال له قـــم علي فانني | رضيتک من بعدی اماما و هاديا |
| فـمن کنت مولاه فهذا وليه | فکونوا لـــه اتباع صدق مواليـــا |
| هناک دعـا: اللهم وال وليه | و کـــــن للذی عادی عليا معاديا[1] |

د غدير حديث يو متواتر اسلامي حديث دے چې له شيعه ؤ علماوو پرته کابو درې سوه شپيتو سني عالمانو هم نقل کړے دے [2] چې سندونه يې يو سل لسو تنو اصحابو ته رسيږي او د اسلام شپږ ويشتو لويو عالمانو د دغه حديث د سندونو په هکله روغ روغ کتابونه ليکلي دي.

مشهور مسلمان مورخ ابو جعفر طبري د دې حديث اسناد او طريق په دوو لويو ټوکو کې راغونډ کړي دي. د نورو معلوماتو له پاره (( الغدير)) کتاب ته مراجعه کولې شئ.

---

[1]. المناقب (خوارزمي مالکي) 80 مخ او تذکرة خواص الامه (سبط ابن جوزي حنفي) 20 مخ کفايت الطالب 17 مخ گنجي شافعي ليکلے او .....

[2]. د مثال په توگه د ابن حجر صواعق محرقه کتاب دوهم چاپ مصر باب 9 فصل 2 او 122 مخ ته مراجعه وکړئ.

# څلورمه پوښتنه

## امامان څوک دي؟

### ځواب:

د خداي رسول حضرت محمد صلی الله علیه و آله وسلم په خپل ژوند کې فرمايلي وو چې له ما وروسته به دولس کسان خليفه وي چې ټول به له قريشو وي او د اسلام عزت به د هغوي د خلافت په سيورې کې وي.

جابر بن سميره وايي:

سمعت رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم يقول لايزال الاسلام عزيزا الی اثناعشر خليفة ثم قال کلمة لِمَ اسمعها فقلت لابی ما قال؟ فقال کلهم من قريش [1]

له رسول الله مبارک مې واوريدل چې وې فرمايل اسلام به په دولسو خليفه ګانو او لارښوونکو عزتمن شي بيا يې څه وويل چې ما وانه وريدل له پلاره مې پوښتنه وکړه چې څه يې وفرمايل؟ ځواب يې راکړ چې وې فرمايل: هغه ټول له قريش دي.

د اسلام په تاريخ کې داسې دولس خليفه ګان چې د اسلام د عزت ساتونکي وي نه شو موندلې مګر هغه دولس امامان چې شيعه پرې عقيده لري ځکه هغه دولس خليفه ګان چې پيغمبر يې

1. صحيح مسلم ټوک 6 2مخ چاپ مصر

معرفي کوي د هغه حضرت له وفاته سملاسي وروسته د هغه حضرت خليفه ګان معرفي شول.

اوس بايد وګورو چې دغه دولس کسان کوم دي؟ که له هغوڅلورو خليفه ګانو چې داهل سنتو په اصطلاح کې خلفاي راشدين بلل کيږي تير شو نور خليفه ګان د اسلام د عزت سبب نه وو، د اموي او عباسي خلفاو د ژوند تاريخ د دې خبري ګواهي ورکوي خو د شيعه دولس امامان چې ټول په خپل خپل وخت کې د تقوا او پرهيزګارۍ سمبلونه وو د خداې د رسول د سنت ساتونکي وو او د اصحابو تابعانو او راتلونکو نسلونو ورته توجه وکړه او تاريخ ليکونکي د هغوي په علم او وثاقت (باور والي) ښه ګواهي ورکوي او .....

دغه دولس امامان دا دي.

1ـ علي بن ابي طالب

2ـ حسن بن علي (مجتبی)

3ـ حسين بن علي

4ـ علي بن الحسين (زين العابدين)

5ـ محمد بن علي (باقر)

6ـ جعفر بن محمد (صادق)

7ـ موسی بن جعفر (کاظم)

8ـ علي بن موسی (رضا)

9ـ محمد بن علي (تقي)

10ـ علي بن محمد (نقي)

11 ـ حسن بن علي (عسکري)

12 ـ امام مهدي (قايم منتظر) چې اسلامي محدثانو له رسول خدا د هغه په باره کې متواتر روايتونه نقل کړي دي چې هغه مهدي موعود دے.

د دغو لويو لارښودانو او امامانو له ژونده د خبريدو له پاره چې نومونه يې هم د رسول الله مبارک له خولې راغلي دي دغو کتابونو ته مراجعه کولې شئ.

1 ـ تذکرة الخواص (تذکرة الخواص الامة)

2 ـ کفاية الاثر

3 ـ وفيات الاعيان

4 ـ اعيان الشيعه (ليک د سيد محسن امين عاملي) چې تر پورتنيو کتابونو زيات معتبر دے.

## پینځمه پوښتنه

## ولې پر محمد (ص) د صلوة او درود په وخت د هغه حضرت آل هم په واو سره عطف کوئ او ذکر کوئ او وایئ * اللهم صل علی محمد و آل محمد ؟

ځواب:

دا خبره منل شوي او مسلمه ده چې د خداي رسول صلی الله علیه و اله وسلم پخپله په خپل ځان د درود استولو طریقه مسلمانانو ته ښودلې ده. کله چې دا ایت (إِنَّ اللهَ وَمَلاَئِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى النَّبِيِّ يَا اَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا صَلُّوا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوا تَسْلِيماً)[1] نازل شو مسلمانانو پوښتنه وکړه چې مونږ څرنګه درود ووایو؟ د خداي رسول وفرمایل (لا تصلوا علی الصلوة البراء) په ما نیمګړے درود او صلوات مه لیږئ. بیا یې پوښتنه وکړه. نو څرنګه درود ووایو؟ وي فرمایل: اللــــــــهم صل علی محمد و آل محمد[2] د پیغمبر اکرم د اهل بیتو شان دومره لوړ دے چې شافعي په خپل مشهور شعر کې وایي:

---

[1]. سوره احزاب ایت 56

[2]. الصواعق المحرقه (ابن حجر) دوهم چاپ (مکتبة القاهره) مصر یوولسم باب لومړےفصل **146** مخ او مثال یې په (الدر المنثور) 5 ټوک د احزاب سورې د 56 ایت په تفسیر کې د محدثانو د صحاحو او مسانیدو لیکونکو لکه عبد الرزاق، ابن ابي

يا اهل بيت رسول الله حبكم ـــــــ فـرض من الله فى القران انزله
كفاكم من عظيم القدر انكم ـــــ من لم يصل عليكم لا صلاة له [1]

ـ اي د پيغمبر کورنۍ ستاسو محبت فرض دے چې خداي تعالى هغه په قران کې فرض کړے دے.
ـ ستاسو په ستر توب او د مقام په لوړاوي همدومره بس چې هر کس په لمانځه کې په تاسو درود ونه ليږي د هغه لمونځ نه قبليږي.

---

شيبه او احمد او بخاري او مسلم، ابو داوود ، ترمذي، نسايي، ابن ماجه، ابن مردويه او کعب ابن عجرة له پيغمبر اکرم(ص) نقل کړے دے

[1]. الصواعق المحرقه **11** باب **148** مخ له لومړي فصله او اتحاف (شبروي) کتاب 29 مخ او (مشارق الانوار) حمزاوي مالکي 88 مخ، والمواهب (زرقاني) او الاسعاف (صبان) 119 مخ

## شپږمه پوښتنه

# ولې خپلو امامانو ته معصوم وايئ؟

## ځواب:

د شيعه ؤ د امامانو په عصمت (معصوم والي) چې ټول د پيغمبر اکرم اهل بيت دي ډير دليلونه موجود دي چې مونږ په کې يوازې يو دليل ته اشاره کوو.

د شيعه او سني پوهانو د روايتونو په اساس د خدای ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم د خپل ژوند په وروستيو ورځو کې وفرمايل:

انی تارک فيکم الثقلين کتاب الله و اهل بيتی و انهما لن يفترقا حتی يردا علی الحوض [1]

زه په تاسو کې دوه درانه او قيمتي څيزونه پريږدم يو د خداي کتاب (قران مجيد) او بل زما اهل بيت دا دوه به له يوۀ او بله نه جدا کيږي تر دې چې د قيامت په ورځ د حــوض کوثر تر څنګ ماته راورسيږي.

دلته يوه په زړه پورې نکته ده او هغه دا چې بې له شکه قران مجيد له هر ډول انحراف او غلطۍ په امان کې دے او څرنګه ممکنه ده

[1]. مستدرک حاکم دريم ټوک 148 مخ ـ الصواعق المحرقه 11 باب لومړے فصل، 149 مخ هم دې مضمون ته نزدې په کنزالعمال کتاب اول جزء باب الاعتصام بالکتاب والسنة 44 مخ او په مسند احمد پنځمه برخه 182 او 189 مخونه وغيره کې راغلي دي.

چې د خداي پاک په وحي کې غلطي وشي حال دا چې نازلوونکے یې خداي پاک او روړونکے یې د وحي فرښته او تر لاسه کوونکے یې پیغمبر وي؟ ځکه چې د دریو واړو عصمت د لمر په شان روښانه دے او د نړۍ مسلمانان د خداي رسول د وحي د اخستلو او ساتلو او تبلیغ په مقام کې له غلطۍ خوندي ګڼي او روښانه ده چې کله د خداي پاک کتاب داسې رښتینے او پایداره عصمت ولري د رسول د خداي اهل بیت به هم له هرې غلطۍ او تیروتنې پاک وي ځکه چې په دې حدیث کې د پیغمبر عترت د امت د مشرۍ او لارښودنې لپاره له قران مجید سره برابر ګڼل شوي دي او دا مقارنت حکم کوي چې دواړه د عصمت له نظره یو شان وي.

په بله وینا صحیح نه ده. چې یو غیر معصوم کس یا کسان له قران مجید سره برابر وګڼل شي. د امامانو د معصوموالي تر ټولو لوي دلیل هماغه د رسول الله مبارک وینا ده. چې فرمایلي یې دي : لن یفترقا حتی یردا علی الحوض (دا دواړه په هدایت او رهبرۍ) کې هیڅ کله له یو او بله نه جدا کیږي تر دې چې د کوثر د حوض په غاړه ماته راورسیږي.

که اهل بیت له غلطیو او تیروتنو په امان کې نه وي او په ځینو مواردو کې خطا وکړي له قرانه چې خطا په کې لاره نه لري جدا کیږي او بې لارې کیږي حال دا چې خداي تعالی په سخته دا خبره نفي کړې ده.

البته د پیغمبر (صلی الله علیه و آله وسلم په وینا کې د اهل بیتو مطلب ټول نسبي او سببي خپلوان نه دي ځکه چې په دې کې شک

نیشته چې هغوي ټول له خطا پاک نه وو نو یوازې د عترت یوه خاصه ډله او خاص کسان دا ویاړ لري او دا مقام او موقعیت په هغوي کې په ګوته په شمیر کسانو تطبیق کیږي او هغه هماغه امامان دي چې په تاریخ کې د امت د لارې مشالونه او د شریعت ساتندویي او د پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم د سنتو ساتونکي وو

اوومه پوښتنه

## ولې په بانګ کې اشهد ان علی ولی الله وایئ او د علي علیه السلام په ولایت ګواهي ورکوئ ؟

ځواب:

د دې پوښتنې په ځواب کې غوره ده چې ځینو ټکو ته پام وشي.

1ـ شیعه فقها په خپلو کتابونو کې که استدلالي دي او که غیر استدلالي دا خبره جوتوي چې د علي علیه السلام د ولایت شهادت او ګواهي ورکول د اذان یا اقامت برخه نه ده او هیڅوک حق نه لري هغه د اذان او اقامت د جزء (برخې) په توګه ووایي.

2ـ امام علي علیه السلام د قران مجید له نظره د خداي پاک یو ولي بلل شوی دی. او په هماغه ایت کې پر مؤمنانو د هغه ولایت په ډاګه شوی دی. هلته چې فرمایي:

إِنَّمَا وَلِيُّكُمُ اللّهُ وَرَسُولُهُ وَالَّذِينَ آمَنُواْ الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلاَةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَهُمْ رَاكِعُونَ. [1]

ستاسو ولي او سرپرست یوازې خداي دی د هغه رسول او هغه کسان دي چې ایمان یې راوړی دی لمونځ کوي او د رکوع په حال کې زکات ورکوي .

د صحاحو او د اهل سنتو د مسندونو روایات هم په دې خبره ټینګار او صراحت لري چې دا ایت د حضرت امام علي علیه

[1]. سورة مایده ایت 55

السلام په شان کې هغه وخت چې د رکوع په حالت کې يې فقير ته ګوتمه ورکړه نازل شوے دے [1]
کله چې دا ايت د امام علي عليه السلام په شان کې نازل شو نو حسان بن ثابت دا پيښه په شعر کې داسې بيان کړې ده .

فانت الذی اعطیت اذ انت راکع ــــ فدتک نفوس القوم یا خیر راکع
فــــانزل فیک الله خیر ولایــــــة ــــ و بینها فی محکمـــات الشرایع

ژباړه: ته هغه کس يې چې د رکوع په حالت کې دې شندنه (بخشش) وکړه سرونه له تا قربان ای تر ټولو لوړ رکوع کوونکيه ـ نو خداي ډير غوره ولايت ستا لپاره راوليږه او هغه يې د شريعت
په نه خرابيدونکو احکامو کې بيان کړ۔
3۔ ګران رسول وفرمايل * انما الاعمال بالنيات* د هر عمل معيار او پارسنګ د انسان نيت دے.
په دې اساس کله چې د علي عليه السلام ولايت د قــــران يو بيان شوے اصل دے او له بل پلوه دغه جمله د جزئيت په نيت سره ونه ويل شي او د اذان جزء ونه ګڼل شي نو څه باک او مانع لري چې دا

---

[1]. د دې ايت د نازليدو مدارک دومره زيات دي چې دلته په دې لنډ ځاي کې نه ځاي کيږي خو په دغوګنيو مدرکونو کې يو څو ته اشاره کوو
1۔ تفسير طبري شپږم ټوک **186** مخ
2۔ احکام القران (تفسير جصاص) دوهم ټوک **542** مخ
3۔ تفسير بيضاوي لومړے ټوک **345** مخ
4۔ الدر المنثور دوهم ټوک **293** مخ

حقيقت هم په رسالت د شهادت تر څنګ ذکر شي؟ دلته يوه خبره ضروري ده چې وکړے شي او هغه دا چې که په اذان کې د کومې جملې زياتول بد او ناخوښ کار وي او په دې وجه په شيعه ؤ اعتراض کيږي دا دوه موردونه به چې لاندې يې راوړو څنګه توجيه کړئ.

1ـ صحيح تاريخ ګواهي ورکوي چې د * حی علی خير العمل * جمله د اذان برخه وه [1]

خو د دوهم خليفه په وخت کې په دې خيال چې خلک د دې په اوريدو سره دا ګومان کوي چې لمونځ تر ټولو ښه عمل دے او خلک به بيا جهاد ته نه ځي هغه يې ليرې کړه او اذان تر ننه بې له دغه جملې ويل کيږي[2]

2ـ د * الصلوة خير من النوم* جمله د رسول الله مبارک صلی الله عليه و آله وسلم په وخت کې د اذان برخه نه وه او وروسته د اذان په فصلونو کې ورزياته شوه [3]

او څکه شافعي په خپل کتاب * الام * کې داسې وايي:

---

[1]. کنز العمال، کتاب الصلوة څلورم ټوک ، 266 مخ عن الطبراني ـ (کان بلال يؤذن بالصبح فيقول *حی علی خير العمل* د سنن بيهقي لومړے ټوک 424 او 425 مخونه او موطا د مالک لومړے ټوک 93 مخ

[2]. کنز العرفان 2 ټوک 158 مخ او کتاب * الصراط المستقيم و جواهر الاخبار والاثار* 2 ټوک 192 مخ، او شرح التجريد (قوشجي) د امامت بحث 484 مخ ((صعد المنبر و قال : ايها الناس ثلاث کن علی عهد رسول الله انا انهی عنهن و احرمهن و اعاقب عليهن و هی متعة النساء و متعة الحج و حی علي خير العمل))

[3]. کنز العمال ، کتاب الصلوة څلورم ټوک 270 مخ

اکره فی الاذان الصلوة خير من النوم لان ابا محذورة لم يذكره [1]
يعني زه دا نه خوښوم چې په اذان کې * الصلوة خير من النوم * ووايم ځکه چې ابا محذوره (يو راوي او محدث) هغه په (خپل حديث کې ) نه دے راوړے.

## اتمه پوښتنه

[1]. د دلايل الصدق* په حواله 3 ټوک القسم الثاني 97 مخ

## مهدی آل محمد څوک دے او تاسو ولې د هغه د راتللو په تمه يئ؟

ځواب:

یوه مسله چې اسماني شریعتونه پرې یوه خوله دي د (( نړیوال مصلح)) مسئله ده چې په وروستۍ زمانې کې به راڅرګندیږي او ظهور به کوي. نه یوازې اسلامي ټولنه بلکې یهودیان او نصارا هم د دغه مصلح او عدالت راوستونکي په تمه دي. د زاړه دور او نوي دور (عهد عتیق او عهد جدید) کتابونو ته په مراجعې سره دا حقیقت رونبانه کیږي [1]

په دې هکله له رسول الله مبارک هم یوه وینا نقل شوې ده چې اسلامي محدثانو نقل کړې ده. هلته چې فرمایي:

(( و لـــو لـــم یبـــق من الـــدهر الا یـــوم لبعث الله رجلا من اهـــــل بیتی یملاها عـــــدلا کمـــــا ملئت جورا [2]

ـ که د زمانې یوازې یوه ورځ هم باقي پاتې وي بیشکه خدای تعالی به زما له کورنۍ (اهل بیتو) یو کس پاڅوي. چې نړۍ به له

---

[1]. عهد عتیق مزامیر داوود مزمور**96ـ 97** او دانیال نبی کتاب **12** باب، عهد جدید: متی، باب **24**، انجیل مرقوس، **13** باب، انجیل لوقا **21** باب د (هغه موعود چې نړۍ یې په انتظار ده) په حواله.

[2]. صحیح ابي داوود، مصر چاپ، المطبعة التازیه، 2 ټوک، 207 مخ او ینابیع المودة 432 مخ او نور الابصار (2 باب 154 مخ)

عدل او انصافه ډکه کړي هماغه ډول چې له ظلم او زياتي به ډکه شوي وي.

په دې اساس لکه څرنګه چې مخکې اشاره وشوه په اسماني شريعتونو او دينونو کې د يو داسې مصلح په راتللو د نظر يو والے موجود دے هم دا راز د اهل سنتو په صحاح او مسانيد کتابونو کې د امام مهدي عليه السلام په هکله ډير روايتونه راغلي دي. او د شيعه ؤ او سنيانو محدثانو او څيړاندو د هغه حضرت په هکله ډير کتابونه ليکلي دي.[1]

دغو روايتونو د امام مهدي عليه السلام ځانګړتياوې او نخښې په دا ډول بيان کړي دي. چې د شيعه ؤ د يوولسم امام حضرت امام حسن عسکري عليه السلام له زوي سره سمون خوري. د دغو روايتونو په اساس د امام مهدي نوم به د پيغمبر اکرم (ص) نوم وي.[2] دولسم امام به وي[3] او د حضرت حسين بن علي بن ابي طالب عليهما السلام له لمسيو به وي.[4]

---

[1]. لکه کتاب البيان فی اخبار صاحب الزمان، ليک محمد بن يوسف ابن الکنجی شافعي، او کتاب البرهان فی علامات مهدي اخر الزمان، ليک علي بن حسام الدين په متقي هندي مشهور او کتاب المهدي و المهدويه، ليک احمد امين مصري. خو شيعه ؤ علماو په دې هکله ډير کتابونه ليکلي دي چې شمير يې اسان نه دے لکه الملاخم ولفتن و ....

[2]. ينابيع الموده مخ **76** په مناقب کې از جابر بن عبد الله انصاري

[3]. صحيح ترمذي ډيلي چاپ 1342 کال 2 ټوک 46 مخ او مسند احمد طبع مصر، کال 1313 ټوک لومړے 376مخ

[4]. ينابيع الموده **443** مخ

حضرت امام مهدي د خداي په امر په 255 هجري قمري کال کې وزیږیده او اوس هم د نورو خلقو په شان ژوندے دے البته څوک یې نه پیژني.
دا ویل ضروري دي چې دومره اوږد عمر له علم او پوهې سره تضاد نه لري او نه د وحی له منطق سره کوم ټکر لري نن سبا علم او سائنس د انسانانو د طبیعي عمر د زیاتولو هڅه کوي او په دې باور دي چې انسان د اوږده عمر استعداد او وړتیا لري او که د ځینو ناروغیو او افتونو مخه ونیول شي د انسان د عمر د زیاتیدو امکان شته تاریخ هم د هغو کسانو چې اوږده عمرونه یې لرلي نومونه یې راوړي دي. قران مجید د حضرت نوح علیه السلام په هکله فرمایي:
((فَلَبِثَ فِيهِمْ اَلْفَ سَنَةٍ إِلاَّ خَمْسِينَ عَاماً [1]
ـ نوح په خپل قوم کــې زر کاله عمر وکړ مګر پنځوس کاله او د حضرت یونس علیه السلام په هکله فرمایي:
((فَلَوْلاَ اَنَّهُ كَانَ مِنْ الْمُسَبِّحِينَ)
(لَلَبِثَ فِي بَطْنِهِ إِلَى يَوْمِ يُبْعَثُونَ) [2]
ـ که هغه له تسبیح کوونکو نه وے، د قیامت تر ورځې پورې به د کب په خیټه کې پاتې ؤ. هم دا راز حضرت خضر پیغمبر او حضرت عیسی علیه السلام د قران له نظره او د نړۍ د مسلمانانو په اجماع تر اوسه ژوندي دي او ژوند کوي.

---

[1]. عنکبوت ایت 14
[2]. صافات ایت 143 و 144

# نهمه پوښتنه

## که شیعه په حقه دي نو ولې په اقلیت کې (لږ) دي او د نړۍ اکثره مسلمانانو هغوي نه دي منلي؟

### ځواب:

د حق او باطل پیژندل د شمیر په کمي او زیاتي پورې اړه نه لري په نني نړۍ کې مسلمانان د کافرانو په اندازه پنځمه یا شپږمه برخه ابادي لري د لیرې ختیځ اکثره اوسیدونکي بت پرستان او د غواګانو منونکي دي یا نور داسې کسان دي چې د ما فوق طبیعت د نړۍ منکران دي.

چین تر یو میلیارد زیاته ابادي لري د کمیونزم د الحادي بلاک برخه ده او د هندوستان اکثره اوسیدونکي بت پاله او غوا پاله دي په داسې حال کې چې کابو یو میلیارد ابادي لري.

نو داسې نه ده چې اکثریت د حق نخښه وي قران مجید په ډیرو ځایونو کې د اکثریت غندنه کړې ده او د لږکې ستاینه یې کړې ده چې دلته یې ځینو ایتونو ته اشاره کوو.

1ــ وَلاَ تَجِدُ اَكْثَرَهُمْ شَاكِرِينَ [1]

په دوي کې په اکثره مننددویي (شکر ګزاره) ونه مومې.

2ــ إِنْ اَوْلِيَآؤُهُ إِلاّ الْمُتَّقُونَ وَلَـكِنّ اَكْثَرَهُمْ لاَ يَعْلَمُونَ [2]

د هغه ملګري نه دي مګر پرهیز ګاران خو اکثره یې نه پوهیږي.

---

[1]. سوره اعراف ایت 17

[2]. سوره انفال ایت 34

3ـ وَقَلِيلٌ مِّنْ عِبَادِيَ الشَّكُورُ [1]
او زما ډير کم بندګان شکر ايستونکي دي.
په دې اساس واقع بين انسان هيڅ کله بايد له دې ونه ويريږي چې د دين منونکي يې کم دي او په دې هم فخر نه دے پکار چې د کوم دين پيروي کوي د هغه پيروان زيات دي بلکه غوره دا ده چې هميشه د عقل چراغ بل وساتي اوله رڼا يې استفاده وکړي
يو کس امير المومنين حضرت علي عليه السلام ته عرض وکړ ځرنګه ممکنه ده چې د جَمل په جنګ کې ستا مخالفان چې نسبي اکثريت ورسره دے په باطله وي؟
امام علي وفرمايل: ان الحق و الباطل لا يعرفان باقدار الرجال اعرف الحق تعرف اهله، اعرف الباطل تعرف اهله.
حق او باطل د هغه د پيروانو په شمير سره نه معلوميږي حق وپيژنه اهل حق به پخپله وپيژنې او باطل وپيژنه اهل باطل به هم وپيژنې.
يو مسلمان بايد دا مسله له علمي او منطقي نظره وڅيري او دا ايت ((وَلاَ تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ)) [2] د يو چراغ په شان د خپلې لارې مشال وګرځوي..
له دې ورتير که څه هم د شيعه ؤ شمير اهل سنتو ته نه رسيږي خو که دقيقه سر شميرنه وشي معلومه به شي چې د نړۍ د مسلمانانو څلورمه برخه شيعه دي او هغوي د نړۍ په مسلمان ميشته سيمو

---

[1]. سوره سباء ايت 13
[2]. سوره اسراء ايت 36

کې او سیرې [1] او د تاریخ په ټولو پړاوونو کې په هغو کې لوې عالمان پوهان او د کتابونو مشهور لیکوالان او نامتو کسان اوسیدلي دي. د دې خبرې وضاحت هم ضروري دے چې د اسلامي علومو بنسټ ایښودونکي هم زیاتره شیعه وو چې په هغو کې
ابو الاسود دئلي ، د علم نحو بنسټ ګر
خلیل بن احمد د علم (عروض) بنسټ ګر
معاذ بن مسلم بن ابي ساره کوفي د ((صرف)) د علم بنسټ ګر
او ابو عبدالله محمد بن عمران کاتب خراساني (مرزباني) د علم بلاغت یو مخکښ ته اشاره کولے شو. [2]
د لا ډیرو معلوماتو له پاره د شیعهٔ عالمانو او پوهانو ګڼ شمیر تالیفاتو او تصنیفاتو ته چې شمیر یې ډیر ګران دے له زیاتو خبریدو لپاره (( الذریعه الی تصانیف الشیعه)) ارزښتمن کتاب ته مراجعه کولې شئ هم دا راز له لویو شیعه شخصیتونو سره د اشنایۍ لپاره کتاب (( اعیان الشیعه)) او د شیعهٔ له تاریخچې د خبریدو لپاره (( تاریخ الشیعه)) کتاب ته مراجعه وکړئ.

---

[1]. د له ډیر وضاحت له پاره کتاب (( اعیان الشیعه لومړے ټوک 12 بحث 194 مخ ته مراجعه وکړئ.

[2]. په دې سلسله کې د سید حسن صدر لیکلے کتاب تاسیس الشیعه وګورئ.

# لسمه پوښتنه

## رجعت څه شيز دے او ولې پرې عقيده لرئ؟

ځواب:

رجعت په عربۍ کې د ستنيدو او جاروتلو په معنا دے. او په اصطلاح کې له مرګه وروسته او له قيامته مخکې د ځينو کسانو ستنيدو ته وايي چې دا چاره به د امام مهدي له نړيوال غورځنګ او د هغوي له راتللو سره په يوه وخت وي. دا حقيقت نه له عقل سره تضاد لري او نه د وحي له منطق سره ټکر خوري.

د اسلام او نورو الهي دينونو له نظره د انسان جوهر د هغه مجرد روح دے. چې هغه ته (( نفس)) هم ويل شوي دي. او د بدن له فنا کيدو وروسته باقي پاتې کيږي. او خپل تل پاتے ژوند جاري ساتي له بل پلوه خداي تعالی د قران له نظره قادر مطلق دے او هيڅ خنډ د هغه وس او طاقت نه محدودوي ـ

په دغو دوو لنډو سريزو سره روښانه کيږي چې د رجعت مسئله له عقلي نظره يوه ممکنه خبره ده، ځکه چې که لږ شان هم فکر وکړو معلوميږي چې د دغو انسانانو ستنول د هغوي د لومړي ځل تر پيدا کولو اسان دي.

نو کوم خداي چې هغوي په لومړي ځل پيدا کړي دي بې له شکه د هغوي د بيا ستنولو وس هم لري د وحي د منطق په اساس په تيرو امتونو کې هم د رجعت نمونې موندلے شو.

قران مجید په دې هکله فرمايي:
وَإِذْ قُلْتُمْ يَا مُوسَى لَن نُّؤْمِنَ لَكَ حَتَّى نَرَى اللّهَ جَهْرَةً فَأَخَذَتْكُمُ الصَّاعِقَةُ وَأَنتُمْ تَنظُرُونَ * ثُمَّ بَعَثْنَاكُم مِّن بَعْدِ مَوْتِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ [1]

او (ياد کړئ!) هغه وخت چې تاسو وويل ای موسی مونږ به ستا په خبرې (بيخي) باور ونهٔ کړو تر هغه پورې چې په خپله الله تعالی ښکاره ووينو پس تاسو تندر (اور) ونيولئ په داسې حال کښې چې تاسو (ورته) کتل. ستاسو له مرګه وروسته بيا مونږ تاسو ژوندي کړئ لپاره د دې چې تاسو شکرګزار شئ.

او په يو بل ځاي کې د حضرت عيسی عليه السلام له خولې فرمايي:
وَأُحْيِي الْمَوْتَى بِإِذْنِ اللّهِ [2]
د لوي خداي په حکم مړي ژوندي کوم

قران مجيد نه يوازې د رجعت امکان تاييدوي بلکه د ځينو کسانو د ستنيدو تحقق او واقع کيدل وروسته له دې چې هغوي له دنيا لاړل هم تاييدوي قران مجيد په دوو ايتونو کې چې اوس يې ذکر کوو له مرګه وروسته او له قيامته مخکې د ځينو کسانو ستنولو ته اشاره کوي هلته چې فرمايي:

---

[1]. سورة بقره 55 ـ 56

[2]. سورة ال عمران 49

**(وَإِذَا وَقَعَ الْقَوْلُ عَلَيْهِمْ اَخْرَجْنَا لَهُمْ دَابَّةً مِّنَ الاَرْضِ تُكَلِّمُهُمْ اَنَّ النَّاسَ كَانُوا بِآيَاتِنَا لاَ يُوقِنُونَ)(وَيَوْمَ نَحْشُرُ مِن كُلِّ اُمَّةٍ فَوْجاً مِّمَّن يُكَذِّبُ بِآيَاتِنَا فَهُمْ يُوزَعُونَ)** [1]

او کله چې په هغوي د خداي خبره واقع (اجراء ) شي د هغوي له منځه يو مخلوق راوباسو چې له خلکو سره په دې باره کې چې زمونږ په خبرو يې باور نه درلود خبرې وکړي. او هغه ورځ چې له هر امته زمونږ د نښو نخښانو ځينې دروغ ګڼونکي راپاڅوو نو هغوي به منع کړے شي.

د قيامت له ورځې مخکې د رجعت په مسئلې د دغو دوو ايتونو د استدلال د زمينې برابرولو لپاره غوره ده چې اول دغو ټکو ته توجه وکړئ.

1 ـ اسلامي مفسران په دې عقيده دي چې دا دوه ايتونه د قيامت په هکله خبره کوي او لومړی ايه له قيامته مخکې يوه نښه بيانوي. لکه څنګه چې جلال الدين سيوطي په تفسير (( الدر المنثور)) کې له ابن ابي شيبه او هغه له حذيفه نقلوي چې ((خروج دابه)) له قيامته مخکې پيښنو څخه يوه پيښه ده [2]

2 ـ په دې کې شک نيشته چې د قيامت به ورځ په ټول خلک محشور او ژوندي کيږي نه د هر امت ځينې کسان، قران مجيد د ټولو انسانانو د حشر او ژوندي کيدو په هکله داسې فرمايي :

---

[1]. سورة نمل ايت 83 ـ 82

[2]. الدر المنثور 5 ټوک 177 مخ د سوره نمل د 82 ايت په تفسير کې.

ذٰلِكَ يَوْمٌ مَّجْمُوعٌ لَّهُ النَّاسُ [1]

هغه ـ هغه ورځ ده چې ټول خلق به راغونډول کیږي.[2]

او په یو بل ځاي کې فرمایي:

(وَيَوْمَ نُسَيِّرُ الْجِبَالَ وَتَرَى الأَرْضَ بَارِزَةً وَحَشَرْنَاهُمْ فَلَمْ نُغَادِرْ مِنْهُمْ أَحَداً) [3]

او هغه ورځ چې غرونه په حرکت راولو او زمکه ښکاره ووینې او هغوي ټول راغونډ کړو او هیڅ کس پرې نه ږدو.

نو مطلب دا چې د قیامت په ورځ به ټول خلک راپاڅول کیږي او راپاڅول کومو خاصو کسانو پورې اړه نه لري.

3 ـ له دغو دوو ایتونو دوهم ایت له امتونو د یوې خاصې ډلې او خاصو کسانو په ژوندي کولو صراحت لري نه ټولو انسانانو څکه چې دا ایت فرمایي: و یوم نحشر من کل امة فوجا ممن یکذب بایاتنا.... )) او هغه ورځ چې له هر امته به یوه خاصه ډله هغه کسان چې زمونږ ایتونه یې دروغ ګڼل راپاڅوو.

دا جمـــــله په ډاګه د ټولو انسانانو په نه ژوندي کیدو ګواهي ورکوي.

نتیجه:

په دغو دریو مقدمو ښه څرګندیږي چې د ځینو هغو کسانو راپاڅول او ژوندي کول چې د خداي ایتونه یې دروغ ګڼلي دي او

---

[1]. سوره هود ایت 103

[2]. په الدرالمنثور دریم ټوک 349 مخ کې دا ورځ د قیامت په ورځ تفسیر شوې ده

[3]. کهف ایت 47

له دويم ايته دا استفاده کيږي چې دا يوه داسې پيښه ده چې له قيامته مخکې به پيښيږي.
ځکه چې د قيامت په ورځ د انسانانو پاڅول به د ټولو انسانانو وي او په کومې خاصې ډلې پورې نه محدوديږي.
په دې بيان سره زمونږ خبره چې له مرګه وروسته او له قيامته مخکې به ځينې کسان راستنيږي ثابتيږي او دا هماغه رجعت دے.
په دې اساس د پيغمبر صلی الله عليه و آله وسلم اهل بيتو چې د خداي د وحي مفسران او د قران ساري دي په دې مسئلې کې وضاحتونه کړي دي چې مونږ د اختصار او لنډون په وجه دلته يوازې دوو حديثونو ته اشاره کوو حضرت امام صادق عليه السلام فرمايي: ايام الله ثلاثة يوم القائم (ع) و يوم الکره و يوم القيمة))
د خداي ورځې درې دي د حضرت مهدي عليه السلام د پاڅون ورځ، د رجعت ورځ او د قيامت ورځ.
او په يو بل ځاي کې فرمايي:
لَيسَ مِنا مَن لَم يُومِن بِکرتنا
ـ څوک چې دنيا ته زمونږ بيا ستنيدل ونه مني له مونږ نه دے.
غوره ده چې دلته دوو ټکو ته اشاره وکړو.

## د رجعت فلسفه

د رجعت انګیزې او محرک ته په پام سره له دوو لوړو اهدافو سره مخامخیږو یو د اسلام د حقیقي جلال او پرتم او د کفر د سر کوزی، او ذلت ښودل او بل ایماندارو او نیکو کسانو ته د بدلې ورکول او کافرانو او ظالمانو ته د سزا ورکول.

## له تناسخ سره د رجعت ښکاره توپیر

د دې خبرې وضاحت ضروري دے چې د شیعه و له نظره د رجعت مسئله په تناسخ د عقیدې لرل نه لازموي ځکه چې د تناسخ نظریه د قیامت په انکار ولاړه ده. د تناسخ منونکي نړۍ په دایم ګردش او څرخ کې ګڼي چې هر پړاو یې د تیر پړاو تکرار دے.

د دغه (تناسخ) نظریې په بنیاد د هر انسان روح له مرګه وروسته یو ځل بیا دنیا ته ستنیږي او په یو بل بدن کې ننوځي نو که روح په تیره زمانه کې نیک ؤ. په یوه داسې بدن کې ننوځي چې ښه او خوشحاله وخت تیر کړي او که بدکاره روح ؤ نو په داسې بدن کې ننوځي چې راتلونکے ژوند یې سخت او بد وي. او دا ستنیدل د هغوي د قیامت په معنا دے. حال دا چې په رجعت د عقیدې لرونکي د قیامت په ورځ ایمان لري او دا خبره محاله ګڼي چې له

يوه بدنه جدا شوے روح بل بدن ته ننوځي[1] دوي يوازې دا وايي چې له قيامته مخکې ځينې کسان دې دنيا ته بيا راځي او د هغوي د حکمتونو او مصلحتونو له پوره کيدو وروسته يو ځل بيا تل پاتې نړۍ ته ځي چې د قيامت په ورځ له نورو انسانانو سره يو ځاي راپاڅيږي او هيڅ کله يو روح له يوه بدنه له جدا کيدو وروسته بل بدن ته نه ننوځي.

[1]. صدر المتالهين په اسفار کتاب نهم ټوک اتم باب لومړي فصل دريم مخ کې د تناسخ د باطلوالي په هکله وايي ـ (فلو تعلقت نفس منسلخة ببدن آخر عند كونه جنينا او غير ذلك يلزم كون احدهما بالقوة والاخر بالفعل و كون الشي بما هو بالفعل بالقوه و ذلك ممتنع لان التركيب بينها طبيعي اتحادي، والتركيب الطبيعي يستحيل بين امرين احدهما بالفعل والاخر بالقوه

## یولسمه پوښتنه

## شفاعت چې تاسو پرې عقیده لرئ څه ته وایي؟

**ځواب:**

شفاعت د اسلام یو مسلم اصل دے. چې ټولو اسلامي فرقو او مذهبونو د قران د ایتونو او روایتونو په پیروی هغه منلے دے. که څه هم د شفاعت په نتیجه کې له یو بل سره اختلاف لري. د شفاعت حقیقت دا دے چې عزتمن انسانان چې د خداي په نزد مقام او درنښت او نزدیکت لري. د یو بل انسان لپاره له خدایه د هغۀ د ګناهانو بخښل او د انساني درجې لوړاوے غواړي.

رسول الله مبارک فرمایي:

((اَعطَیتُ خَمسًا ....... وَ اَعطَیتُ الشفَاعَة فَادخَرتَها لِاُمَتی[1]

پنځه څیزونه ماته راکړل شول .... او شفاعت ماته راکړل شو نو هغه مې د خپل امت لپاره ذخیره کړ.

### د شفاعت محدودیت

د قـــرآن مجید له نظره مطلق او بې قید او شرطـــــه شفاعت مردود دے. شفاعت په هغه بڼه کې اغیز من دے چې:

---

[1]. مسند احمد لومړے ټوک 301 مخ صحیح بخاري لومړے ټوک 91 مخ چاپ مصر

اول: شفيع ته په شفاعت کې د خداي له خواه اذن او اجازه ورکول کيږي يوازې هغه کسان د بل چا شفاعت کولے شي چې له خداي سره پر معنوي نزديکت سربيره د خداي له لورې ورته د شفاعت کولو اجازت هم ورکړل شوې وي. قران مجيد په دې هکله فرمايي:

(لاَ يَمْلِكُونَ الشَّفَاعَةَ إِلاَّ مَنِ اتَّخَذَ عِندَ الرَّحْمَنِ عَهْداً) [1]

د شفاعت مالک نه دے مګر هغه کس چې د خداي په نزد يې عهد (ژمنه) لاسته راوړي وي او په يو بل ځاي کې فرمايي:

(يَوْمَئِذٍ لاَّ تَنفَعُ الشَّفَاعَةُ إِلاَّ مَنْ اَذِنَ لَهُ الرَّحْمَنُ وَرَضِيَ لَهُ قَوْلاً) [2]

د قيامت په ورځ د بل چا په حق کې د چا شفاعت فايده نه ورکوي مګر د هغه چا چې خداي ورته اجازه ورکړي او د هغه له خبرې راضي شي.

دوهم: د چا چې شفاعت کيږي هغه هم د شفيع له لارې د الهي فيض ورتيا ولري. يعني له خداي سره د هغه ايماني رابطه او له شفيع سره د هغه روحاني اړيکې سست نه شي له دې امله کافران چې له خداي سره ايماني رابطه نه لري او ځينې ګناهکاره مسلمانان او بې لمانځه او قاتلان کسان چې له شفيع سره روحي تړاو نه لري د دوي شفاعت نه کيږي

قران مجيد د بې لمانځو او د قيامت د منکرانو په هکله فرمايي:

(فَمَا تَنفَعُهُمْ شَفَاعَةُ الشَّافِعِينَ) [3]

---

[1]. سوره مريم ايت 87

[2]. سوره طه ايت 109

[3]. سوره مدثر ايت 48

ـ د شفیعانو شفاعت هغوي ته ګټه نه رسوي.
او د ظالمانو په هکله فرمايي:
وَ مَا لِلظّالِمِينَ مِن حَمِيمٍ وَ لا شَفِيعٍ يُطاع [1]
ـ د ظالمانو لپاره به هیڅ خپل او شفیع چې د هغه شفاعت ومنل شي نه وي.

## د شفاعت فلسفه

شفاعت د توبې په شان د هیلې او امید یوه کړکۍ ده د هغو کسانو لپاره چې د ګمراهۍ او ګناه د لارې په منځ کې له ګناهونو لاس واخلي او له دې وروسته خپل پاتې عمر د خداي په اطاعت کې تیر کړي نو ګناه کار انسان چې هر کله فکر وکړي چې په محدودو شرایطو کې (نه هر ډول شرائطو کې) د شفیع له شفاعته استفاده کولی شي. کوښښ کوي چې دغه حد باقي وساتي او ورځینې تیر نه شي.

## د شفاعت نتیجه

مفسران د شفاعت په نتیجه کې چې ایا د ګناهانو بخښل دي او که د درجې لوړول، د نظر اختلاف لري خو د رسول الله مبارک صلی الله علیه و آله وسلم په دې وینا سره چې زما شفاعت د هغو کسانو لپاره دے چې لویې ګناهانې (ګناهان کبیره) یې کړي وي لومړے

---

[1]. سوره مومن ایت 18

نظر تاييد يږي.

ان شفاعتى يوم القيمة لاهل الكبائر من امتى [1]

د قيامت په ورځ به زما شفاعت د امت د هغو کسانو لپاره وي چې لويې ګناهانې يې کړي دي.

[1]. سنن ابن ماجه دوهم ټوک 583 مخ مسند احمد دريم ټوک 213 مخ سنن ابي داوود دوهم ټوک 537 سنن ترمذي 4 ټوک 45 مخ

## دولسمه پوښتنه

## ايا له حقيقي شفيعانو د شفاعت غوښتل شرک دے؟

اول به د سوال د وضاحت لپارهووايو چې شفاعت د خداي مخصوص حق دے لکه چې قران مجيد په دې هکله فرمايي:
**قُل لِّلَّهِ الشَّفَاعَةُ جَمِيعاً** [1]
ـ ووايه د شفاعت حق ټول د خداي دے.
نو له خدايه پرته له بل چا شفاعت غوښتل له بل چا د خداي د حق غوښتل دي او داسې سوال په حقيقت کې بې له خدايه د بل چا عبادت دے او په عبادت کې له توحيد سره سمون نه خوري.
**ځواب:**
دلته له شرکه مقصد په ذات يا خالقيت يا تدبير کې شرک نه دے طبعا دلته د اعتراض کوونکي مقصد په عبادت کې شرک دے.
روښانه ده چې د دې مسئلې بيانول د عبادت او پرستش په دقيق تفسير او تشريح پورې اړه لري مونږ ټولو ته پته ده چې د عبادت د معنا تفسير مونږ ته نه دے راکړل شوے چې ګوندې د هر مخلوق لپاره هره خضوع او له هر بنده هر سوال او غوښتنه عبادت وګڼو.
د قران مجيد د تصريح په اساس پرښتو ادم ته سجده وکړه.:
**(فَإِذَا سَوَّيْتُهُ وَنَفَخْتُ فِيهِ مِن رُّوحِي فَقَعُوا لَهُ سَاجِدِينَ) (فَسَجَدَ الْمَلَائِكَةُ كُلُّهُمْ أَجْمَعُونَ)** [1]

---

[1]. سوره زمر ايت **44**

نو کله چې مې د هغه خلقت بشپړ کړ او خپل روح مې په هغه کې وپوکه نو هغه ته سجده وکړئ نو ټولو سجده وکړه.
په عين حال کې دا سجده که څه هم د خداي په حکم وه خو د ماهيت له نظره د ادم عبادت نه ؤ. ګني خداي به يې حکم نه کاوه.
هم دا راز پوهيږو چې د يعقوب بچيانو او حتی پخپله حضرت يعقوب عليه السلام حضرت يوسف عليه السلام ته سجده وکړه.
وَرَفَعَ اَبَوَيْهِ عَلٰى الْعَرْشِ وَخَرُّوا لَهُ سُجَّداً [2]
ـ او خپل پلار او مور يې په تخت کښينول او هغوي هغه ته سجده وکړه. که دغه ډول احترام او خضوع د يوسف عليه السلام عبادت ؤ، نه به حضرت يعقوب عليه السلام چې معصوم پيغمبر ؤ دا کړے وې او نه به په دې راضي شوے ؤ چې بچيان يې يوسف ته سجده وکړي حال دا چې له سجدې زياته بله هيڅ خضوع نيشته.
په دې اساس بايد د خضوع مفهوم يا له خدايه پرته له بل چا غوښتنه د عبادت له معنا جدا کړو د عبادت او پرستش حقيقت دا دے چې انسان يو څيز خداي فرض کړي او د هغه عبادت وکړي يا يو څيز د خداي مخلوق وګني خو دا تصور وکړي چې د خداي ځينې کارونه لکه د نړۍ تدبير يا د ګناهونو بخښل هغه ته سپارل شوي دي خو که د چا په وړاندې زمونږ خضوع او عاجزي داسې وي چې نه هغه خداي وګنو او نه دا تصور وکړو چې د خداي کارونه هغه ته سپارل شوي دي داسې خضوع بالکل هماغه شان ده

---

[1]. سوره صاد 72ـ 73 مخ
[2]. سوره يوسف ايت 100

لکه چې فرښتو ادم علیه السلام ته سجده او درنښت یې وکړه یا مثلاً د یوسف په وړاندې د حضرت یعقوب علیه السلام احترام او درنښت.

د سوال د غوښتنې په هکله هم باید ووایو چې هم دا چې تصور وکړو د شفاعت حق ربښتینو شافعانو ته ورکړل شوی او هغوي یې بې له قید او شرطه شفاعت کولی او د ګناهانو د بخښل کیدو سبب ګرځیدلی شي داسې عقیده هم د شرک سبب کیږي ځکه چې د خداي کار مو له بل چا غوښتی دی خو که دا تصور وکړو چې د خداي ځینو پاکو بندګانو ته بې له دې چې د شفاعت د مقام مالکان شي په یو خاص چوکاټ کې د ګناهانو د شفاعت اجازه ورکړل شوې ده او مهم شرط یې هماغه د خداي اجازت او اذن دی نو څرګنده ده که د خداي له دغه ډول صالح بنده د شفاعت درخواست وکړو دا د هغه خداي ګڼل نه دي. لکه څنګه چې هغه ته د خـــدایي چارو د سپارل کیدو مستلزم نه ګرځي بلکې له یو داسې کسه د یو کار غوښتنه ده چې دغه کار د خداي په امر هغه ته په محدوده توګه ورکړل شوی او د هغه په شان کې دی.

مونږ ګورو چې د پیغمبر اکرم په ژوند کې به ګناهکاران د مغفرت غوښتلو لپاره هغه حضرت ته ورتلل او رسول الله مبارک به نه ویل چې دوي ګوندې مشرکان شول. په سنن ابن ماجه کې له پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم روایت دی:

ا تدرون ما خیرني ربي اللیله؟ قلنا الله و رسوله اعلم: قال فانه خیرني بین ان یدخل نصف امتی الجنة و بین الشفاعه فاخترت

الشفاعه، قلنا يا رسول الله ادع الله ان يجعلنا من اهلها قال هی لکل مسلم [1]

ـ ايا تاسو ته پته ده چې خداي نن شپه زه په کومو څيزونو کې اختيار من کړم؟ ومو ويل خداي او رسول يې ښه پوهيږي. وي فرمايل: هغه زه مخير کړم په دې کې چې زما نيم امت جنت ته ننوځي او د شفاعت تر مينځ ـ نو ما شفاعت غوره کړ. ومو ويل ای د خداي پيغمبره، له خپل پروردګاره وغواړه چې مونږ د شفاعت وړ وګرځوي، وې فرمايل شفاعت به د هر مسلمان لپاره وي.

په دې حديث کې په ډاګه د پيغمبر اصحاب له هغه حضرت د شفاعت غوښتنه کوي او وايي ((ادع الله ....))

قران مجيد هم فرمايي:

وَلَوْ اَنَّهُمْ إِذ ظَّلَمُواْ اَنفُسَهُمْ جَآؤُوكَ فَاسْتَغْفَرُواْ اللّهَ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُولُ لَوَجَدُواْ اللّهَ تَوَّاباً رَّحِيماً) [2]

ـ او که هغوي هغه وخت چې پر ځان يې ظلم وکړ تا ته راغلي وے او له خداي يې مغفرت غوښتے وے او پيغمبر د هغوي لپاره استغفار کړے وے. بې شکه چې خداي به يې توبه قبلوونکے او مهربان موندلے ؤ.

او په يو بل ځاي کې د حضرت يعقوب عليه السلام د بچيـــانو په حواله فرمايي:

(قَالُواْ يَا اَبَانَا اسْتَغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا إِنَّا كُنَّا خَاطِئِينَ) [1]

---

[1]. سنن ابن ماجه ټوک 2 باب ذکر الشفاعه 586 مخ

[2]. سوره نساء ايت 64

ـ وې ویل اې پلاره له خدایه زمونږ د غلطیو لپاره بخښنه وغواړه ځکه چې مونږ په خطا وو.

او حضرت یعقوب علیه السلام هم هغوي ته د استغفار وعده ورکړه او هیڅ کله یې د هغوي په شرک توان نه لاره.

(قَالَ سَوْفَ أَسْتَغْفِرُ لَكُمْ رَبِّيَ إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ) [2]

ـ وې ویل ډیر زر به د خداي له درګاه ستاسو مغفرت وغواړم بیشکه چې هغه بخښونکے او مهربان دے.

---

[1]. سوره یوسف ایت **97**

[2]. سوره یوسف ایت **98**

# د يارلسمه پوښتنه

## آيا بې له خدايه له بل چا مرسته غوښتل شرک دے؟

**ځواب:**

د عقل له نظره او د وحي په منطق کې ټول انسانان بلکې د نړۍ ښکارندې او مخلوقات لکه څنګه چې په خپل پيدايښت کې خداي ته محتاج دي په خپل تاثير او اغيز کولو کې هغه ته اړمن دي.

قران مجيد په دې هکله فرمايي:

**(يَا اَيُّهَا النَّاسُ اَنتُمُ الْفُقَرَاءِ إِلَی اللهِ وَاللهُ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيدُ)** [1]

ای خلقو تاسو خداي ته محتاج يئ او هغه بې نيازه او ستايل شوے دے.

او په يو بل ځاي کې ټولې کاميابۍ د خداي په لاس کې ګڼي او فرمايي :

**وَمَا النَّصْرُ إِلاَّ مِنْ عِندِ اللهِ الْعَزِيزِ الْحَكِيمِ)** [2]

کاميابي او برياليتوب يوازې د عزتمن او د حکيم خداي له لوري دے.

د اسلام د دغه مسلم اصل په بنياد مونږ مسلمانان په هر لمانځه کې دا ايت شريف لولو:

---

[1]. سورة فاطر ايت 15

[2]. آل عمران ايت 126

اِياکَ نَعبُدُ وَ اِياکَ نَستَعِينُ[1]

يوازې ستا عبادت کوو او له تا مرسته غواړو. اوس د دغه پوښتنې د روښانه کېدو لپاره وايو:

له خدايه پرته له بل چا مرسته غوښتل په دوه ډوله تصور کولے شو

1ـ لومړے صورت دا دے چې له يوه انسان يا بل څيز داسې مرسته وغواړو چې هغه په خپل اصل او وجود کې مستقل وګڼو او هغه په مرسته رسولو کې له خدايه بې نيازه وګڼو.

په دې کې شک نيشته چې له غير خدا داسې مرسته غوښتل شرک دے چې قران مجيد په دغه ايت کې د دغه ډول مرسته غوښتلو بې بنياد والے څرګندوي.

(قُلْ مَن ذَا الّذی يَعْصِمُکُم مّنَ اللهِ إنْ اَرَادَ بِکُمْ سُوءاً اَوْ اَرَادَ بِکُمْ رَحْمَةً وَلاَ يَجِدُونَ لَهُم مّن دُونِ اللهِ وَلِيّاً وَلاَ نَصِيراً)[2]

ووايه که خداي ستاسو لپاره د عذاب اراده وکړي څوک دي چې تاسو له هغه په امان کړي ؟ او که د رحمت اراده وکړي (څوک يې مخه نيولے شي) او هغوي د ځان لپاره مرستندوے او ولي نه مومي.

2ـ بله روده دا ده چې له يوه بل انسانه د مرسته غوښتلو په وخت هغه د خداي مخلوق او خداي ته محتاج وګڼو چې پخپله استقلال او خپلواکي نه لري او که هغه څه کار او تاثير کوي نو دغه اثر ورته

[1]. حمد ايت 5

[2]. سورة احزاب ايت 17

د بندګانو د ځینو مشکلاتو د هواري لپاره د لوي خداي لخوا ورکړل شوې دې

د دغه ډول تفکر په اساس هغه کس چې مرسته ترې غواړو د واسطې حکم لري چې لوي خداي هغه د ځینو اړتیاوو د پوره کولو لپاره واسطه او وسیله ګرځولې ده داسې مرسته غوښتنه په حقیقت کې له خدایه مرسته غوښتل دي ځکه هغه دې چې دغه وسایلو او اسبابو ته یې وجود او هستي ورکړي او هغه ته یې د نورو د اړتیاوو د پوره کولو وس او تاثیر ورکړې دې اصولا د انسانانو ژوند له همدغو اسبابو او مسبباتو د مرستې په غوښتلو جوړ شوې دې په دې اساس چې له هغوي د مرستې له غوښتلو پرته د خلکو ژوند له ګډوډۍ سره مخامخیږي دلته هم که په دغه نظر هغوي ته وګورو چې د خداي د مرسته رسولو عوامل او وسیلې دي چې هم یې اصل او وجود د خداي له لوري دې او هم دا تاثیر او برکت خداي تعالی ورکړې دې نو دا مرسته غوښتل لـــه توحیـــد او یو خداي منلې سره هیڅ تضاد نه لري.

که یو موحد او خداي پالے کروندګر د زمکې، اوبو، هوا او لمر په شان عواملو مرسته اخلي او دانې زرغونولے شي په حقیقت کې له خدایه مرسته غواړي ځکه چې هغه دې چې وغو عواملو او وسیلو ته یې دا وس او استعداد ورکړې دې

روښانه ده چې دغه مرسته غوښتل د توحید او یوخداي منلو له روح سره پوره پوره سمون خوري بلکې قران کریم مونږ ته امر کوي

چې له لمانځه او صبر په شان څیزونو مدد وغواړئ هلته چې فرمایي:

وَاستَعِینُوا بِالصَبرِ وَ الصَلَوةِ [1]

له صبر (ټینګتیا) او لمانځه مرسته وغواړئ.

روښانه ده چې صبر او پایداري د انسان کار دے او مونږ ته امر شوے چې له هغو مرسته وغواړو او په عین حال کې دا ډول مرسته غوښتل له دې سره چې خدای تعالی په دې ایت کې * ایاک نعبد و ایاک نستعین * مرسته غوښتل یوازې له ځان سره مخصوص کړي دي تضاد نه لري.

---

[1]. مایده ایت 45

## څوارلسمه پوښتنه

# آیا د نورو بلل او ورته اواز کول د هغوي عبادت او شرک معنا لري؟

هغه څه چې دغه پوښتنه يې په ذهنونو کې پيدا کړې ده. د قران مجيد د ځينو ايتونو ظاهر دے چې ظاهراً بې له خدايه دبلې چا بلل او ورته اواز کول منعې کوي.

**(وَاَنَّ الْمَسَاجِدَ لِلّه فَلاَ تَدْعُوا مَعَ اللهِ اَحَداً)** [1]

ـ جوماتونه د خدای دي نو له خدای سره بل څوک مه غواړئ (مه بلئ)

په يو بل ځاي کې فرمايي:

وَلاَ تَدْعُ مِن دُونِ اللهِ مَا لاَ يَنفَعُكَ وَلاَ يَضُرُّكَ [2]

ـ بې له خدايه هيڅوک مه بله (هيچا ته اواز مه کوه) چې نه تا ته ګټه درکوي او نه تاوان))ځينې کسان دغه ايتونه لاسوند او پلـــمه ګرځوي او وايي چې د خداي د وليانو، پيغمبرانو او صالحو بندګانو بلل هغه هم د هغوي وفاته وروسته شرک او د هغوي عبادت ګڼل کيږي (مثلا يارسول الله ويل يـــا علي يا حسين وغيره شرک دے)؟ مترجم

---

[1]. سوره جن ايت **18**

[2]. سوره يونس ايت **106**

## ځواب:

د دغه پوښتنې د ځواب د روښانه کولو لپاره اول باید د دوو کلمو یعني دعا او عبادت معنا واضحه کړو. په دې کې شک نیشته چې په عربۍ لغت کې *دعا* لفظ د بللو او ندا او د عبادت لفظ د پرستش او منلو په معنا دے او دا دوه لفظونه هیڅکله د یو بل مترادف او د یو بل په معنا نه شو ګڼلے یعني نه شو ویلے چې هر اواز او بلل یا غوښتل عبادت او پرستش دے ځکه چې:

لومړے: په قران مجید کې د دعوت لفظ په داسې ځایونو کې استعمال شوے دے چې هیڅ کله نه شو ویلے چې مطلب یې عبادت دے لکه:

**(قَالَ رَبِّ إِنِّی دَعَوْتُ قَوْمِی لَیْلاً وَنَهَاراً)** [1]

(نوح علیه السلام وویل) ای زما ربه ! ما شپه او ورځ خپل قوم (ستا لور ته ) دعوت کړ (وبالۀ) ایا ویلے شو چې د نوح علیه السلام مطلب دا دے چې ما شپه او ورځ د خپل قوم عبادت وکړ.

نو نه شو ویلے چې دعوت او عبـادت د یو بل هم معنا او مترادف دي او که چا له کوم صالح کس او پیغمبره مرسته وغوښته او یا یې ورته وویل یعني وې بالۀ د هغه عبادت به یې کړے وي. ځکه چې دعوت او ندا تر پرستشه اعم ده.

دوهمه: په دغو ایتونو کې له دعا مطلب مطلق بلل او اواز ورکول نه دي بلکه خاص دعوت او بلنه ده چې کیداي شي چې د پرستش

---

[1]. سوره نوح ایت 5

او عبادت له لفظ سره ملازم (تړلې) وي ځکه چې دغه ټول ایتونه د هغو بت پرستانو په هکله نازل شوي دي چې خپل بوتان یې واړه خدایان ګڼل

په دې کې شک نیشته چې بت پرستانو د هغو بوتانو په وړاندې خضوع کوله او ورته یې اواز او استغاثه کوله چې دوي دغه بوتان د شفاعت او مغفرت او داسې نورو څیزونو د حق مالکان ګڼل او هغوي د دنیا او اخرت په چارو کې د تصرف او لاسوهني وړ بلل او ټولو ته څرګنده ده چې په داسې حالاتو او شرایطو کې له دغو موجوداتو (بوتانو) هر ډول غوښتنه او بلنه پرستش ګڼل کیږي دا چې مونږ وایو د هغوي بلنه او دعوت یا د بوتانو غوښتل په بوتانو د خدایۍ له اعتقاد سره یو ځای ده. د دې روښانه دلیل دا ایت دے چې فرمایي:

فَمَا اَغْنَتْ عَنْهُمْ آلِهَتُهُمُ الَّتِى يَدْعُونَ مِن دُونِ اللّٰهِ مِن شَىْءٍ [1]

بې له خدایه نور خدایان چې هغوي بلل (عبادت یې ورته کاوه) هغوي یې بې نیازه نه کړل۔

په دې اساس دغه ایتونه زمونږ له بحث سره ربط نه لري زمونږ بحث او موضوع له یوه بنده د بل بنده درخواست دے چې نه خو دغه بل بنده خداي ګڼي او نه یې د دنیا او اخرت په چارو کښې تام الاختیار او واکوال.

بلکه هغه د خداي پاک یو عزتمن او قدرمن بنده ګڼي چې هغه یې د امامت یا رسالت مقام ته رسولے دے او وعده یې کړې ده چې د

---

1. سوره هود ایت 101

خپلو بندګانو په هکله د هغه دعا او سفارش ومني هلته چې فرمايي:
وَ لَوْ اَنّهُمْ إِذ ظَّلَمُوا اَنفُسَهُمْ جَآؤُوکَ فَاسْتَغْفَرُوا اللّهَ وَ اسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرّسُولُ لَوَجَدُوا اللّهَ تَوّاباً رّحِيماً [1]
که هغوي په خپل ځان د ظلم په وخت تا ته راغلي وے، او له خدايه يې بخښنه او مغفرت غوښتے وے، او پيغمبر هم هغوي له پاره بخښنه غوښتے وے، يقينا چې خداي به يې توبه قبلوونکے او مهربان موندلے وو.
دريمه: دغه ايتونه روښانه دليل دے چې له دعوت او بلنې مطلب مطلقا د هر کار او حاجت غوښتل نه دي بلکې ده يو عبادتي او پرستشي بلنه ده له هرې امله په يو ايت کې د دعوت (بلنې) له لفظه وروسته سملاسي هم دغه معنا د ((عبادت)) په لفظ سره تعبير شوې ده.
وَ قَالَ رَبُّکُمُ ادْعُونِی اَسْتَجِبْ لَکُمْ إِنّ الّذِينَ يَسْتَکْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِی سَيَدْخُلُونَ جَهَنّمَ دَاخِرِينَ [2]
او ستاسو پروردګار وفرمايل ما وغواړئ (وبلئ) چې بلنه مو ومنم (ځواب درکړم) هغه کسان چې زما له عبادته سرکشي کـوي ډير زر به په ذلت او خوارۍ سره دوزخ ته داخل شي.
تاسو وليدل چې دا ايت په پيل کې (ادعوني ) لفظ او ورپسې بيا (عبادتي) لفظ سره راغلے دے او دا د دې خبرې ګواه دے چې د

---

[1]. سوره نساء ايت **64**

[2]. سوره غافر ايت **60**

دغه دعوت مطلب له داسې موجوداتو خاص درخواست او غوښتنه ده چې هغوي ورته د خدايی صفتونه ورکړي وو.

**نتیجه:**

له دغو دریو سریزو دا نتیجه اخلو چې په دغو ایتونو کې د قران مجید اصلي مقصد د هغو بت پالو ډلو د بلنې نفي کول دي چې بتان يې د خداي شریکان او مدیر یا د شفاعت مالکان ګڼل او هر ډول خضوع او زاري او تذلل یا فریاد او استغاثه او د حاجت یا شفاعت غوښتل له دې نظر وو چې دوي ویل چې دا واړه خدایان دي بت پالي په دې عقیده وو چې خداي تعالی د دنیا او اخرت ځینې کارونه دغو بتانو ته سپارلي دي.

نو دغه ایتونه له هغه پاک روح له استغاثي سره هیڅ تعلق نه لري چې د غوښتونکي او بلونکي له نظره د خداي بنده دے او د بندګی له حده یو قدم هم نه دے اوړیدلے بلکې د خداي محبوب او نازولے بنده ګڼل کیږي؟!

که قران مجید فرمايي: **(**وَاَنَّ الْمَسَاجِدَ لِلّهِ فَلاَ تَدْعُوا مَعَ اللهِ اَحَداً**)**[1]

ـ جوماتونه د خداي دي نو له خداي سره بل څـــوک مه غواړئ (مه بلئ)

له دې بلنې مطلب د پرستش او عبادت بلنه ده چې جاهلو عربو به بوتان، ستوري، سپوږمی، پرښتې او پیریان منل او د هغوي

[1]. سوره جن ایت 18

عبادت به يې کاوه. نو دغه ايت يا داسې نور ايتونه له داسې کس يا څيزه د غوښتنې او بلنې په باره کې دي چې د هغه معبود (خداي) هم وګڼل شي او په دې کې شک نيشته چې که څوک دغه عقيده (د هغوي د خداي والي عقيده) ولري او بيا ترې درخواست او غوښتنه وکړي نو دا به د هغوي پرستش او عبادت وي نو دا ايتونه له هغه له غوښتنې سره څه اړه لري چې غوښتونکے او بلونکے د هغه په ربوبيت يا الهي مقام هيڅ عقيده نه لري او هيڅ تدبيروونکے يې نه ګڼي بلکې د خداي محبوب او غوره بنده يې ګڼي؟!

کيدے شي چې دلته دا پوښتنه وشي چې د خداي له غوره وليانو غوښتنه يوازې د هغوي په ژوندون کې جايزه ده او د هغوي له وفاته وروسته شرک ګڼل کيږي د دې پوستنې په څواب کې وايو:.

اول: مونږ د پيغمبر او امامانو په شان له پاکو روحونو چې د قران مجيد په صراحت سره ژوندي دي او تر شهيدانو هم په لوړ مقام کې برزخي ژوند تيروي، مرسته غواړو او بلو يې نه په خاوره کې له ويدۀ بدنونو. او که د هغوي د قبرونو خواته له هغوي غوښتنه کوو نو دا په دې خاطره ده چې دا حالت په مونږ کې د هغوي له پاکو ارواوو سره د رابطې د ټينګولو او هغوي ته د توجه ښه حالت جوړوي پر دې سربيره د روايتونو مطابق دغه ځايونه د دعا د استجابت او قبليدو ځايونه هم دي .

دوهم: د هغوي ژوند والے یا مرګ د شرک معیار نه شي ګرځید ے دلته زمونږ خبره د شرک او توحید په معیار کې ده نه د دغه بلنې او درخواست په مفید والي یا غیر مفید والي کې.

البته دا چې دغه ډول غوښتنې او بلنې ګټه رسوي او که نه په بل ځاي کې مو دا مسئله بیان کړې ده.

# پنځلسمه پوښتنه

## بداء څه شیز دے او تاسو پرې ولې عقیده لرئ؟

ځواب:

د بداء لفظ په عربئ لغت کې د ظاهریدو او ښکاره کیدو په معنا دے او د شیعه پوهانو په اصطلاح کې د یو کس د ښه او غوره کړو په رڼا کې د هغه د برخلیک (تقدیر) دا طبیعي لارې بدلیدلو ته بداء وایي د بداء مسئله د تشیع د خوځنده مکتب یوه اوچته مسئله ده چې د وحي د منطق او د عقل د تحقیق سرچینه لري.

د قران مجید له نظره د انسان له نظره د خپل برخلیک (تقدیر) په وړاندې د هغه لاسونه همیشه تړلي نه دي بلکه هغه ته د نیکمرغئ لاره خلاصه ده او کولے شي چې د حق لارې ته په ستنیدو او ښو کارونو سره د خپل ژوند د انجام لاره بدله کړي له دې امله دا حقیقت د یو پایدار او پراخ اصل په توګه داسې بیانوي

إِنَّ اللّهَ لاَ يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّى يُغَيِّرُواْ مَا بِأَنْفُسِهِمْ. [1]

خداي تعالي د یو قوم حالت تر هغه وخته نه بدلوي تر څو چې پخپله یې بدل نه کړي

او په یو بل ځاي کې فرمایي:

وَلَوْ اَنَّ اَهْلَ الْقُرَى آمَنُواْ وَاتَّقَواْ لَفَتَحْنَا عَلَيْهِم بَرَكَاتٍ مِّنَ السَّمَاءِ وَالاَرْضِ..... [1]

---

[1]. سوره رعد ایت 11

که د دغو سیمو خلقو ایمان راوړے وے او پرهیزګار وے نو هغوي ته به مې د اسمان او ځمکې د برکتونو ورونه خلاص کړي وے.[1]
او د حضرت یونس علیه السلام د برخلیک د بدلیدو په حقله فرمايي:
فَلَوْلَآ اَنَّهٗ كَانَ مِنَ الْمُسَبِّحِينَ( لَلَبِثَ فِی بَطْنِه اِلَی يَوْمِ يُبْعَثُونَ[2]
نو که هغه له تسبیح کوونکو نه وے نو د قیامت تر ورځې پورې به هغه د (کب) په خیټه کې پاتې ؤ.
له دغه ایته دا نتیجه اخلو چې د کیسې له ظاهره دا ښکاره کیږي چې یونس پیغمبر به د قیامت تر ورځې پورې په هغه بند (د ماهي په خیټه کې) باقي وے خو د هغه غوره کړ چار یعني د تسبیح ویلو د حضرت یونس برخلیک بدل کړ او هغه يې وژغوره
دا حقیقت په اسلامي روايتونو کې هم منل شوے دے د خداي ګران پیغمبر په دې هکله فرمايي:
اِن الرَجُلَ لَيَحرُم الرِزقَ بِالذَنبِ يُصِيبُهُ وَ لا يَرِد القَدر الا الدُعاء وَ لا يَزِيدُ فِی العُمرِ الا البِر[3]

---

[1]. سوره اعراف ایت 96
[2]. سوره صافات ایت 143.144
[3]. مسند احمد ج 5، ص 277 مستدرک حاکم ج 1 493 مخ، او د دې په شان (التاج الجامع لاصول) 5ټوک 111 ټوک

يو کس د ګناه له امله له خپلې روزۍ محرومه کيږي او هيڅ څيز دغه برخليک او تقدير نشي بدلولے مګر دعا کول او هيڅ هم د هغه عمر نه شي زياتولے مګر نيکي کول.
له دغه روايته او داسې نورو روايتونو ښه معلوميږي چې انسان د ګناه او معصيت په وجه له روزۍ محرومه کيږي خو په ښو کارونو لکه دعا سره د خپل برخليک لاره بدلولے شي او هم داسې په نيکۍ سره خپل عمر زياتولے شي.

نتيجه:
د قران له ايتونو او سنته دا استفاده کيږي چې ښايي انسان د خپلو کړو او عملونو په چوکاټ کې د طبيعي اسبابو او مسبباتو او د کارونو د رد عمل او عکس العمل د قانون مطابق له خاص تقدير او برخليک سره مخامخ شي. او کيدے شي چې په ځينو موردونو کې ورته د خداي يو ولي لکه پيغمبر يا امام خبر ورکړي په دغه معنا چې که دغه کارونه دې جاري وساتل نو دا تقدير او برخليک دې په تمه دے خو په يو ناڅاپي څرخ او بدلانه کې د هغه سلوک او عمل بدل شي او له دې لارې خپل انجام بدل کړي.
دا حقيقت چې د وحي او سنت له منطق او د عقل سليم نه راخستل شوے دے د شيعهؤ علماوو په اصطلاح کې (بداء) بلل کيږي.
غوره ده خبر شئ چـــې د بداء تعبير د تشيع ځانګړنه نه ده بلکې د

اهل سنتو په لیکنو او د پیغمبر اکرم صلی الله علیه و اله وسلم په ویناوو کې هم دا تعبیر تر سترګو کیږي. مثلا پیغمبر اکرم په لاندیني حدیث کې د بداء لفظ استعمال کړے دے
بَد اللّٰہُ عَز وَ جَل اَن یَبتَلِیهِم [1]
یادونه ضروري ده چې بداء د خداي تعالی په علم کې د بدلون په معنا نه ده ځکه چې خداي د انسانانو په طبیعي عمل او هم دا راز هغه عوامل چې د دغه چلند په بدلیدو کې تاثیر لري چې د بداء سبب کیږي خبر دے او پخپله یې هم په قران مجید د دې خبر ورکړے دے
یَمْحُو اللّهُ مَا یَشَاءُ وَیُثْبِتُ وَعِندَهُ أُمُّ الْکِتَابِ.[2]
خداي تعالي هر څه چې وغواړي محو کوي او هر څۀ چې وغواړي اثباتوي او اصل کتاب (لوح محفوظ) د هغه په نزد دے.
. په دې اساس خداي تعالی د بداء د واقع کیدو په وخت هغه حقیقت چې د هغه په نزد له ازله معلوم ؤ. مونږ ته ښکاره کوي. او ځکه امام صادق (ع) فرمایي:
((مَا بَد اللّٰہُ فِي شَیئٍ الا کَانَ فِی عِلمهِ قَبل اَن یَبدُوا له [3]
په هیڅ مورد کې د خداي لپاره بداء ونه شوه مګر دا چې هغه ترې په ازل کې خبر ؤ.

---

[1]. النهایه في غریب الحدیث والاثر لیک مجدالدین مبارک بن محمد جزري لومړے ټوک 109 مخ

[2]. سوره رعد ایت **39**

[3]. اصول کافي لومړے ټوک کتاب التوحید باب البداء حدیث 9

د بداء فلسفه:

په دې کې شک نیشته چې که انسان ووینې چې لاس یې د برخلیک په بدلون کې پرانستی او ازاد دے نو د ښه راتلونکي د جوړولو هڅه کوي او په ښې روحیې او له ډېر زیار او حوصله سره د خپل ژوند د ښه کولو کوشش کوي.

په بله وینا لکه څنګه چې توبه او شفاعت انسان له نا امیدۍ ژغوري بداء هم د هغه د تازه والي او حوصلې او امید سبب ګرځي او هغه ښه راتلونکي ته هیله منوي ځکه چې که انسان دا عقیده ولري نو پوهیږي چې د خداي په حکم خپل برخلیک بدلولے شي او د ښه راتلونکي او ځلانده مستقبل په لور ګام پورته کولے شي

# شپاړسمه پوښتنه

## آيا شيعه د قران د تحريف عقيده لري؟

## ځواب:

مشهور شيعه عالمان او پوهان په دې عقيده دي چې په قران مجيد کې هيڅ ډول تحريف او لاس وهنه نه ده شوي او کوم قران چې نن له مونږ سره دے هماغه اسماني کتاب دے. چې په رسول اکرم (صلی الله عليه واله ) نازل شوے ؤ او هيڅ کمې يا زياتې په کې نه دے شوے د دې خبرې د روښانيدو لپاره څو ښکاره ګواهانو او شاهدۍ ته اشاره کوو.

1۔ خداي تعالی د مسلمانانو د اسماني کتاب ساتنه او حفاظت ضمانت کړے او په خپله ذمه يې اخستے دے او فرمايي:

إِنّا نَحْنُ نَزّلْنَا الذّكْرَ وَإِنّا لَهُ لَحَافِظُونَ [1]

۔ مونږ قران مجيد نازل کړے دے او يقينا چې مونږ يې حفاظت کوو

څرګنده ده چې شيعه چې قران د خپل عمل او کړو سرمشق او بيلګه ګرځوي د دغه ايت درنښت کوي ، عقيده پرې لري او د خداي د کتاب په ساتنه او حفاظت کې په هغه ايمان لري.

2۔ د شيعه ؤ لوي امام او پيشوا حضرت علي عليه السلام چې تل له رسول الله مبارک سره ؤ او د وحي له ليکونکو (کاتبان وحي)

---

[1]. سوره حجر ايت 9

څخه دے په مختلفو ځایونو کې یې خلک قران ته بللي دي دلته د امام علي د ویناوو ځیني برخې تاسو ته وړاندے کوو.

((وَ اعلَمُوا اَن هَذا القُرانَ هُو النَاصِحُ الذِي لا یَغش وَ الهادِي الذِي لا یضِل[1]

- پوه شئ چې دا قران داسې نصیحت کوونکے دے چې هیڅ کله خیانت او غش نه کوي او داسې لار ښود دے چې هیڅ کله څوک نه ګمراه کوي.

(( ان الله سبحانه لم یعظ احدا بمثل هذا القران فانه حبل الله المتین وسببه المبین[2]

سبحان خداي هیڅ کله څوک د دې قران په شان نه دے نصیحت کړے قران د خداي لویه او مضبوطه رسۍ او د خداي کلکه وسیله ده

(( ثم انزل علیه الکتاب نورا لاتطفأ مصابیحه ، و سراجا لا یخبوا توقده و منهاجا لا یضل نهجه ... و فرقانا لا یخمد برهانه))[3]

- بیا خداي تعالی داسې کتاب راواستاوۀ چې نه مړ کیدونکے نور دے او داسې څراغ دے چې هیڅ کله خپل لارویان نه بې لارې کوي او د حق او باطل د جدایۍ وسیله ده چې هیڅ کله یې برهان نه خرابیږي.

---

1. نهج البلاغه (صبحي صالح) خطبه 176
2. نهج البلاغه (صبحي صالح) خطبه 176
3. نهج البلاغه (صبحي صالح) خطبه 198

د شیعه ؤ د لوي امام له دغو ويناوو ښه معلومیږي چې قران مجید د روښانه څراغ په شان دے چې تر ابده به د خپلو پیروانو د لارې روښانوونکے وي او هیڅ داسې بدلون په کې چې د هغه د رڼا د خاموشۍ او د انسانانو د ګمراهۍ سبب شي نه راځي.

3 ـ شیعه پوهان او عالمان په دې اجماع لري چې رسول الله مبارک وفرمایل (( زه تاسو ته دوه ګرانبیه ارزښتناک او درانه څیزونه پریږدم یو د خداي پاک کتاب (قران مجید) او بل زما اهل بیت او عترت تر څو چې په دغو دوو ټینګ اوسئ هیڅ کله به بې لارې نه شئ ))

دا یو متواتر اسلامي حدیث دے چې هم شیعه او هم سنیانو نقل کړے دے له دې بیانه هم ښه معلومیږي چې د شیعه ؤ له نظره د خداي په کتاب کې هیڅ ډول بدلون او تحریف نه شي راتللے ځکه چې که بدلون او تحریف په کې وشي په هغه عمل او ټینګ دریدل د هدایت او د ګمراهۍ د ختمیدو سبب نه شي کیدے او
دا نتیجه د دغه متواتر ایت له نص سره په ټکر کې ده.

4 ـ د شیعه مخکښانو او لارښوونکو په روایتونو کې چې زمونږ ټولو عالمانو او فقیهانو نقل کړي دي دا حقیقت جوت شوے دے چې قران د حق او باطل د جدایۍ معیار او له سمو د ناسمو د جداکولو او پیژندلو وسیله ده په دې معنا چې هر څه چې مونږ ته رارسیږي حتی که حدیثونه هم دي باید له قران سره پر تله کړو که د قران له ایتونو سره یې سمون خوړۀ حق دي او که سمون یې نه خوړۀ باطل او غلط دي.

په دې هکله د شیعه و په کتابونو کې که هغه فقهي دي او که د حدیثو دي ډیر روایتونه راغلي دي چې یوه ته په کې اشاره کوو امام صادق علیه السلام فرمایي:

(( ما لم یوافق من الحدیث القران فهو زخرف)) [1]

ـ هره خبره چې له قران سره سمون ونه خوري غلطه او چتي ده.

له دغو روایتونو هم ښه معلومیږي چې په قران کې بدلون او تحریف نشي کیدے او ځکه دا کتاب تر ابده پورې د حق او باطل د پیژندلو معیار پاتې کیدے شي.

5ـ د شیعه ؤ لـویو عالمـانو چې تل د اسلام د کلتور او د تشیع مخکښان وو په دې حقیقت اعتراف کړے دے چې په قـران مجید کې هیڅ کله بدلون نه شي کیدے د دغو عالمانو شمیر ډیر زیات دے خو مونږ یې د بیلګې له پاره څو تنو ته اشاره کوو.

1ـ ابو جعفر محمد بن علي بن حسین بابویه قمي چې په صدوق مشهور دے او په کال 381 هـ کال کې وفات شوے دے فرمایي:

(( د قران په هکله زمونږ عقیده دا ده چې هغه د خداي خبرې او وحي ده او داسې کتاب دے چې غلط او باطل څیزونه ورته نه شي ورننوتلے او د حکیم او پوه خداي له لوري نازل شوے دے او هغه یې رالیږونکے او ساتونکے دے. [2]

---

[1]. اصول کافي لومړی ټوک ، کتاب فضل العلم ، باب الاخذ بالسنه و شواهد الکتاب ، حدیث 4

[2]. الاعتقادات **93** مخ

2 ـ په علم الهدی مشهور سيد مرتضی علي بن حسين موسوي علوي (وفات 436) فرمايي:

(( ځينو اصحابو لکه عبد الله بن مسعود او ابي بن کعب او داسې نورو ډير ځله ټول قران له اوله تر آخره د رسول الله مبارک په وړاندې ولوسته او ټول په دې ګواهي ورکوي چې قران راغونډ شوے او ترتيب شوے او بې له څه غلطۍ، تيروتنې او تيتوالي دے)) [1]

3 ـ ابـو جعفـــــر محمد بن حسن طوسي په شيخ الطايفه مشهور (وفات 460) فرمايي:

(( په قران کې د کمي زياتي خبره داسې خبره ده چې له دې کتاب سره نه ښايي ځکه چې ټول مسلمانان يو نظر لري چې په قران څه نه دي ورزيات شوي او دا چې له دې څه نه دي کم شوي په دې هم د مسلمانانو مذاهب عقيده لري او دا خبره (په قران کې نه زياتوالے)) زمونږ له مذهب سره لا ډيره ښايي دا خبره سيد مرتضی منلي او تاييد کړې ده او د روايتونو له ظاهره هم دا حقيقت څرګنديږي ځينې کسان د شيعه و او سنيانو لخوا ځينو روايتونو ته اشاره کوي چې په کې د قران د ايتونو د کم والي يا ځاي په ځاي کيدو خبره شوې ده خو دا روايتونه د خبرِ واحد په شان دي چې د علم او عمل سبب نه ګرځي او ښه دا ده چې ورځينې ډډه وشي)) [2]

---

[1]. مجمع البيان ټوک 1، لسم مخ د ځواب (المسايل الطرابلسيات) سيد مرتصی په حواله

[2]. تبيان لومړے ټوک 3 مخ

4 ـ ابو علی جعفر چې د ((مجمع البيان )) تفسير ليکونکے دے فرمايي:

(( په قران کې د زياتوالي په هکله ټول امت په يو نظر دے چې دا خبره سمه نه ده خو په دې هکله چې قران مجيد کې کمې شوے دے لږ شان شيعه و او د اهل سنتو د (( حشويه )) فرقې ځينو کسانو روايتونه راوړي دي خو هغه څه چې زمونږ په مذهب کې منل شوي او صحيح دي دې په خلاف دي[1]

5 ـ (( په سيد ابن طاووس )) (وفات 664 هـ) مشهور علي بن طاووس حلي فرمايي:

د شيعهؤ نظر دا دے چې په قران کې بدلون نه شي کيدے[2]

6ـ شيخ زين الدين عاملي (وفات 877 هـ) د دې ايت په تفسير کې ((انا نحن نزلنا الذکر و انا له لحافظون) فرمايي:

مونږ قران مجيد له هر ډول بدلون، تحريف او زياتوالي ساتو او حفاظت يې کوو.[3]

7ـ قاضي سيد نور الدين شستري چې د احقاق الحق کتاب ليکونکے دے (وفات 1019 هـ) فرمايي:

هغه څه چې په شيعهؤ پورې يې تړي چې دوي د قـــــران د تحريف قايل دي دا خبره ټول شيعه نه مني په شيعهؤ کې ډير لږ کسان دغه عقيده لري، هغوي ته توجه او پروا يې نه کيږي[1]

---

[1]. مجمع البيان ټوک 1، 10 مخ

[2]. سعد السعود **144** مخ

[3]. اظهار الحق **2** ټوک 130 مخ

8 ـ په بهاء الدين عاملي مشهور محمد بن حسين معروفي (وفات 1030 هـ) فرمايي:
صحيح دا ده چې قران له هر ډول کمي زياتي پاک دے او دا چې ويل کيږي د امير المؤمنين (علي) نوم له قرانه ليرې شوے دے عالمان دا خبره نه مني او څوک هم چې تاريخ او روايتونه ولټوي پوهيږي چې قران مجيد د روايتونو په تواتر او د زرګونو اصحابو په نقل او روايتونو سره ثابت ، ټينګ او روغ دے او ټول د پيغمبر اکرم صلی الله عليه و اله په زمانه کې راغونډ شوے دے [2]
9 ـ د کتاب وافي ليکوال فيض کاشاني (وفات 1091 هـ) د دا ډول ايتونو لکه ( انا نحن نزلنا الذکر و انا له لحافظون) چې د قران په نه بدليدو او نه تحريف دلالت کوي له بيانولو وروسته فرمايي
په دې صورت کې څرنګه ممکنه ده چې په قران مجيد کې تحريف يا بدلون وکړے شي؟ پر دې سربيره د تحريف ايتونه د خداي د کتاب مخالف دي نو دغه ايتونه بايد بې اساسه وګڼو [3]
10 ـ شيخ حر عاملي (وفات 1104 هـ) فرمايي:
د تاريخ او روايتونو لټونکے انسان ښه پوهيږي چې قران مجيد د حديثو د تواتر او د زرګونو تنو اصحابو په نقل سره ثابت او روغ

---

[1]. آلاء الرحمن 25 مخ
[2]. آلاء الرحمن 25 مخ
[3]. تفسير صافي لومړے ټوک 51 مخ

دے او د پیغمبر اکرم صلی الله علیه و اله په وخت کې راغونډه شوے او منظم شوے دے[1]

11 ـ لوي محقق کاشف الغطاء په خپل مشهور کتاب کشف الغطاء کې ليکي:

په دې کې شک نيشته چې قران مجيد د خداي تعالی لخوا د حفاظت او ساتيې په وجه له هر کمي او تحريفه خوندې پاتې شوے دے لکه څرنګه چې د قران صراحت او په ټولو زمانو کې د علماوو او پوهانو اجماع د دې ګواهي ورکوي او د يو څو کسانو مخالفت ته بايد پام او پروا ونه شي ـ

12 ـ د اسلامي انقلاب ستر لارښود حضرت ايت الله العظمی امام خميني هم په دې هکله وينا لري چې د يو روښانه دليل په توګه يې ذکر کوو دوي وايي:

هر څوک چې د قران په راغونډولو او ساتلو او د هغه په ليکلو او تلاوت کې د مسلمانانو له توجه او اهميت ورکولو خبر دي د ((تحريف قران)) د تصور د غلطوالي ګواهي ورکوي او دا خبره د باور وړ نه ګڼي او کوم روايتونه چې د قران د تحريف په هکله موجود دي يا ضعيف دي چې استدلال پرې نه شي کيدے يا مجهول دي چې د جعل والي نښې يې معلومې دي يا داسې روايتونه دي چې مضمون او مقصد يې د قران تاويل او تفسير دے يا نور قسمونه دي چې ليکل او بيانول يې لوي کتاب ته ضرورت لري او که له دې انديښنه نه وے چې د بحث له موضوع به

[1]. آلاء الرحمن 25 مخ

خارج شو د قران په تاریخ او په هغه څه به مو چې په تیرو پیړیو کې په قران تیر شوي دي مفصل بیان کړي وو او روښانه کړې به مو وه چې قران مجید بالکل همدا اسماني کتاب دے چې زمونږ په لاس کې دے او هغه د نظر اختلاف چې د قران په قاریانو کې موجود دے یوه نوې خبره ده چې له هغه څه سره چې جبرائیل امین د رسول الله مبارک په پاک زړه نازل کړل هیڅ اړه نه لري.[1]

**نتیجه:**

ټول مسلمانان که شیعه دي او که سُني په دې نظر دي چې دا اسماني کتاب کټ مټ هماغه قران دے چې په پیغمبر اکرم (ص) باندې نازل شوےدے او له هر ډول کمي او زیاتي پاک او په امان کې دے

په دې بیان سره معلومیږي چې هغه ناروا تهمت چې په شیعه ؤ لګول کیږي صحیح نه دے او که د یو څو ضعیفو روایتونو ذکر کول د دغه تور او تهمت د لګولو سبب شوے دے نو مونږ وایو چې دغه ډول روایتونه صرف د شیعه ؤ د یوې ورې شان ډلې نه دي بلکې ځینو اهل سنتو مفسرانو هم دغه ډول کمزوري روایتونه نقل کړي دي چې ځینو ته یې اشاره کوو

ابو عبد الله محمد بن احمد انصاري قرطبي په خپل تفسیر کې له ابوبکر انبازي او هغه هم له ابی بن کعب روایتوي چې سوره احزاب (چې 73 ایتونه لري) د پیغمبر اکرم په زمانه کې د سوره

---

[1] .تهذیب الاصول ،تقریرات امام خمیني ټوک 1، مخ 96 (د استاد جعفر سبحاني په قلم)

بقـــره (283) هـــومره وه او ایه رجم هم په دغه سوره (احـزاب) کې وه [1] (اوس په احزاب سورې کې د رجم ایت نیشته)
هم دا راز په هم دې کتاب کې له حضرت عائشه نقل کوي
احزاب سورې د پیغمبر اکرم په زمانه کې 200 ایتونه لرل خو کله چې مصحف ولیکل شو تر دې زیات یې، چې اوس موجود دي، څه پیدا نه کړل[2]
2 ـ د الاتقان کتاب لیکوال نقلوي چې د ((اُبی)) د مصحف د سورتونو شمیر یو سل شپاړس ؤ ځکه چې د *حفد* او *خلع* په نوم دوه نور سورتونه هم پکې وو[3]
حال دا چې مونږ ټولو ته پته ده چې قران شریف 114 سورتونه لري او د حفد او خلع سورتونو پکې هیڅ نښه نیشته او نه وه.
3 ـ هبة الله بن سلامه په ((کتاب الناسخ والمنسوخ)) کې له انس بن مالک نقلوي چې ویلي یې دي:
د پیغمبر اکرم صلی الله علیه واله په زمانه کې به مو یوه سوره لوستله چې د سوره توبه په اندازه وه او ما یې یوازې یو ایت حفظ کړے دے او هغه ایت دا دے:
((لو ان لابن ادم وادیان من الذهب لابتغی الیهما ثالثاً و لو ان له ثالثاً لابتغی الیها رابعاً و لا یملأ ابن ادم الا التُراب و یتوب الله علی من تاب!))

---

[1]. تفسیر قرطبي څوارلسمه برخه 113 مخ د سوره احزاب د تفسیر په پیل کې
[2]. . تفسیر قرطبي څوارلسمه برخه 113 مخ د سوره احزاب د تفسیر په پیل کې
[3]. الاتقان لومړے ټوک مخ 67

حال دا چې مونږ ټولو ته پته ده چې په قران کې دغه ایت نیشته او اُصولا دا د قران له بلاغت سره هم سمون نه خوري

4 ـ جلال الدین سیوطی په (الدر المنثور) تفسیر کې له عمر بن خطاب نقلوي چې سوره احزاب د بقري سورې په اندازه وه او ایه رجم هم په کې وه[1]

نو په دې بنیاد د شیعه او سنی فرقو لږو شان کسانو په قران کې د بدلون او تحریف په هکله ضعیف او سست روایتونه نقل کړي دي دا ضعیف روایتونه د تقریبا ټولو مسلمانانو یعني هم شیعهٔ هم سنیانو په نظر د منلو وړ نه دي بلکې د قران د ایتونو نص او صحیح او متواتر روایتونه او د پیغمبر اکرم د زرګونو اصحابو اجماع او د نړۍ د ټولو مسلمانانو اتفاق نظر دا دے چې په قران مجید کې هیڅ ډول تحریف، بدلون کمے او زیاتے نه دےشوےاو نه شي کیدے

[1]. در المنثور 5 ټوک 180 مخ د سوره احزاب د تفسیر په پیل کې

# اولسمه پوښتنه

## د اصحابو په هکله د شیعه ؤ نظر څه دے؟

## ځواب:

د شیعه ؤ له نظره کوم کسان چې د رسول الله مبارک په کتنې او ملګرتیا مشرف شوي په څو ډلو تقسیمیږي مخکښې له دې چې د دې خبرې وضاحت وکړو غوره ده چې په مختصره توګه د صحابي تعریف وکړو

د پیغمبر(ص) د صحابي په هکله مختلف تعریفونه موجود دي چې ځینو ته یې اشاره کوو:

1. سعید بن مسیب وایي: صحابي هغه کس دے چې یو یا دوه کاله له رسول الله مبارک سره پاتې شوے وي او له هغه حضرت سره یې په یو یا دوو غزاګانو کښې برخه اخستې او جنګیدلے وي[1]

2. واقدي وایي: پوهان او عالمان وایي: هر چا چې پیغمبر(ص) لیدلے اسلام یې منلے او د دین په چاره کښې یې فکر کړے او په هغه راضي شوے دے زمونږ په نزد د پیغمبر (ص) صحـــابي ګڼل کیږي که څه هم د ورځې یوه ګنټه ولې نه وي.[2]

[1]. اسد الغابه لومړے ټوک یوولسم، دولسم مخ، د مصر چاپ.

[2]. اسد الغابه لومړے ټوک یوولسم، دولسم مخ، د مصر چاپ.

3. محمد بن اسماعیل بخاري لیکي: هر مسلمان چې له پیغمبر(ص) سره ناسته پاسته کړې وي او یا یې هغه حضرت لیدلې وي د رسول الله مبارک صحابي دے.[1]

4. احمد بن حنبل وایي: هر کس چې یوه میاشته یا یوه ورځه یا یوه ګنټه له پیغمبر(ص) سره ناسته پاسته کړې وي یا یې هغه حضرت لیدلې وي صحابي دے

په اهل سنتو علماؤ کښې "عدالت صحابه" د یو مسلّم اصل په توګه منلې شوې مسئله ده یعنې هر کس چې له پیغمبر(ص) سره یې ناسته پاسته کړې وي عادل دے.[2]

اوس د قرآن د روښانوونکو آیتونو په رڼا کښې دا مسئله څیرو او د شیعه ؤ نظر چې د وحي له منطقه سرچینه لري بیانوو.

تاریخ تر دولسو زرو د زیاتو کسانو نومونه د پیغمبر(ص) د اصحابو په توګه لیکلي دي چې په هغو کښې مختلفې څیرې لیدل کیږي. په دې کښې شک نیشته چې له پیغمبر(ص) سره ناسته پاسته لوي ویاړ ؤ چې د ځینو خلکو په نصیب شو او اسلامي امت همیشه هغوي ته په درنه سترګه کتلي دي ځکه چې هغوي د اسلام د دین مخکښان وو چې په لومړي ځل یې د اسلام د ویاړ او عزت بیرغ ورپاؤ. قرآن مجید هم د دغو بیرغوالو او مخکښانو ستاینه کوي او فرمایي:

لايَستَوى مِنكُم مَن اَنفق مِن قَبلِ الفَتح وَقاتَلَ اولئِــكَ اَعظَمُ دَرَجة

---

[1]. همدغه

[2]. همدغه

مِن الذینَ اَنفَقوا بَعدهُ وَ قَاتَلوا.[1]
هغه کسان چې له فتحې (مکه) مخکښې يې شندنه او مبارزه وکړه، له هغو کسانو سره چې له هغه وروسته يې انفاق او جهاد وکړ برابر نه دي بلکې دوي په لوړې درجې کښې دي.
په عين حال کښې بايداعتراف وکړو چې له پيغمبر(ص) سره مصاحبت او ناسته پاسته څه داسې کيميا نه وه چې د انسان ماهيت بدل کړي او هغه ټول انسان د عمر تر اخره له غلطۍ او بې انصافۍ بيمه کړي او د عادلانو په ټولګي کښې يې راولي. د مسئلې د روښانه کيدو لپاره بهتره ده چې له هر څه مخکښې قرآن ته، چې ټول مسلمانان پرې اتفاق لري مخه کړو او د دې مسئلې په حل کښې له قرآنه مرسته واخلو.

## صحابي د قرآن له نظره

د وحي په منطق کښې هغه انسانان چې د پيغمبر(ص) په حضور کښې مشرف شول او د هغوي له مصاحبت او ملګرتيا برخمن شول دوه قسمه دي.
لومړۍ ډله:
هغه کسان چې د قرآن تل پاتې آيتونه د هغوي ستاينه او صفت کوي او هغوي د اسلام د شان او برم د ماڼۍ بنسټ ايښوونکې ګڼي. دلته غواړو د دغه شان اصحابو په هکله د الهي کتاب ځينې

[1]. حديد 10.

آیتونه راوړو.

1. لومړي مخکښان:

وَالسَابِقونَ الاَوّلونَ منَ المُهاجِرينَ وَالانصَارِ والذينَ اتّبَعوهُم باِحسانٍ رَضِیَ اللّهُ عَنهُم وَ رَضوا عَنه وَ اَعَدّ لَهُم جَنّاتٍ تَجرِی مِن تَحتِهاالاَنهارُ خَالِدينَ فيها اَبداً ذلِكَ الفَوزُ العَظِيم.[1]

له مهاجرانو او انصارو لومړي کسان او هغه کسان چې په نیکۍ یې د هغوي پیروي وکړه خداي له هغوي خوښ او هغوي هم له خدایه خوشحاله دي او خداي د هغوي لپاره داسې جنتونه تیار کړي دي چې نهرونه پکښې روان دي او دا په حقیقت سره لویه کامیابي ده.

2. تر ونې لاندې بیعت کوونکي

لَقَد رَضِیَ اللّهُ عَنِ المؤمنينَ اِذ يُبايعُونَکَ تَحتَ الشّجَرةِ فَعَلِمَ مافی قُلُوبِهِم فانزَلَ السّکِينةُ عَلَيهِم وَ اثابَهُم فَتحاً قَرِيباً.[2]

خداي تعالي له هغو مومنانو چې تروني لاندې یې له تا سره بیعت وکړ خوشحاله شو او په هغه څه خبر شو چې د هغوي په زړونو کښې وو، نو په هغوي یې آرامښت او کرارے راولیږهٔ او هغوي ته یې نژدې کامیابي، بریالیتوب په بدله کښې ورکړه.

---

[1]. توبه 10.

[2]. د فتح سورة 18 آیت.

3. مهاجرین
للفُقَراء المُجاهدینَ الذینَ اُخرِجُوا مِن دیارِهِم وَ اَموالِهم یَبتَغونَ فَضلاً مِنَ اللهِ وَ رِضواناً وَ یَنصرونَ الله و رَسولهُ اولئِكَ هُمُ الصادقون.[1]
د هغه بې وزله مهاجرو لپاره چې له خپل کور او ماله وشړل شول او لیرې لاړل د خداي تعالی فضل او خوښي لټوي او د خداي او پیغمبر(ص) مرسته کوي هغوي رښتیني دي.

4. اصحاب فتح
مُحَمّدٌ رَسُولُ الله وَالذینَ مَعَه اَشدَاء عَلیٰ الکُفّارِ رُحَمَاءُ بَینَهُم تَراٰهُم رکّعاً سُجّداً یَبتَغُونَ فَضلاً مِنَ اللهِ وَ رِضواناً سِیماهُم فِی وُجُوهِهِم مِن اَثَرِ السّجُود[2]
محمد(ص) د خداي استازے دے او د هغه ملګري د کفارو لپاره سخت زړه او په خپلو کښې نرم او مهربانه دي هغوي به د رکوع او سجدې په حال کښې وینې چې د خداي د فضل او خوښۍ په لټه کښې دي او د هغوي په څیرو (مخونو) د سجدې نښې معلومې دي.

---

1. د حشر سورة 8 آیت.
2. د فتح سورة 29 آیت.

دوهمه ډله:

ځینې نورکسان چې له پیغمبر(ص) سره یې ناسته پاسته لرله او هغه حضرت(ص) یې لیدلی ؤ داسې کسان وو چې دوه زړي دوه مخې او د ناروغ زړه خاوندان وو چې قرآن مجید هغه پیغمبر(ص) ته اشوا کړي دي او پیغمبر(ص) یې له هغوي خبرداره کړی او ویرولی دی دلته د دغسې کسانو څو نمونې هم راوړو.

1. پیژندل شوي (معلوم) منافقان

اذا جاءَكَ المُنافقونَ قالوا نَشهَدُ إنّكَ لَرَسُولُ الله والله يَعلَمُ إنّكَ لَرَسُولهُ والله يَشهَدُ إنّ المُنافقينَ لَكاذِبون.[1]

(اې پیغمبره) هغه وخت چې منافقان تا ته راغلل او وې ویل مونږ ګواهي ورکوو چې ته د خداي پیغمبر یې، خداي پوهیږي چې ته د هغه پیغمبر یې او خداي ګواهي ورکوي چې منافقان دروغ ویونکي دي.

2. ناپیژاندي (پټ) منافقان

وَ ممّن حَولَكُم منَ الاَعرَابِ مُنافقُون وَ مِن اَهلَ المَدِينَةِ مردوا علىٰ النِفاقِ لاتَعلَمُهم نحنُ نَعلَمُهم...[2]

ځینې د کلیو خلک چې ستا په شاو خوا کښې دي منافقان دي او د مدینې ځینې خلک په نفاق کښې ډوب شوي دي ته هغوي نه

1. د منافقون سورة له اوله تر اخره

2. د توبه سورة 101 آیت.

بېڅنې مونږ يې پېژنو.

3. ناروغ زړي (دبيمار زړه خاوندان)
وَإذ يَقُولُ المُنافقونَ وَ الذِينَ فی قُلُوبِهِم مَرَضٌ ما وَعَدَنا اللهُ وَ رَسولُهُ إلاّ غُروراً[1]
هغه وخت چې منافقانو او هغو کسانو چې زړونه يې ناروغي لري ويل د خداي او پيغمبر(ص) وعده تر دروغو زيات څه نه دي.

4. ګناهکاران
وآخَرونَ إعتَرَفوا بِذَنوبِهِم خَلَطوا عَمَلاً صالحاً وَ آخَرَ سَيئاً عَسیٰ اللّهُ اَن يَتوبَ عَلَيهِم إنّ اللّهَ غَفورٌ رحيم.[2]
ځينې کسان چې په ګناهانو يې اعتراف وکړ ښه کار يې له بد کار سره ګډ کړ. ښايی خداي تعالي د هغوي توبه ومني خداي بخښونکے او مهربان دے.
د قرآن شريف پر آيتونو سربېره له پيغمبر(ص) نور ډېر روايتونه د ځينو اصحابو په مذمت او غندنه کښې راغلي دي چې د مثال په توګه دوو روايتونو ته پکښې اشاره کوو
1. ابوحازم له سهل بن سعد روايت کوي چې ويلي يې دي پيغمبر(ص) وفرمايل:
اَنا فَرَطکم عَلی الحَوضِ من ورد شرب و من شرب لــم يظمأ ابداً و

---

[1]. د احزاب سورة 12 آيت
[2]. د توبې سورة 102 آيت.

لیردّنَ عَلیّ اَقوام اَعَرفَهُم وَ یعرفوننی ثُمّ یحال بینی و بینَهم
زه تاسو د حوض په لور لیږم څوک چې حوض ته ورسیږي له هغه څښي او څوک چې ورنه وڅښي تر ابده نه تږے کیږي او ځینې ډلې (کسان) به ماته راشي چې زه هغوي پیژنم او هغوي هم ما پیژني بیا به زما او د هغوي تر مینځ جدایي راشي.
ابو حازم ویلي دي کله چې ما دا حدیث لوستلو نعمان بن ابي عیاش واوریدۀ نو ویې ویل له سهله دې داسې واوریدل؟ وې ویل هو، وې ویل: ګواهي ورکوم چې ابو سعید خذري هم په دې حدیث دا الفاظ اضافه کړل چې د خداي رسول فرمایي:
إنّهُم منّی فَیُقال إنّك لاتدري ما احدثوا بَعدکَ فَاَقول سحقاً سحقاً لمَن بدَّل بعدی.[1]
_ "هغوي له ما دي نو وبه ویل شي تا ته نه ده پته چې هغوي له تا وروسته څه وکړل؟ نو زه به ووایم لیرې دې وي د خداي له رحمته هغه کسان چې له ما وروسته یې (احکام) بدل کړل".
له دې جملې چې "زۀ هغوي پیژنم او هغوي ما پیژني" او بله دا جمله چې ویې فرمایل "له ما وروسته یې بدلون راوسته" معلومیږي چې له هغوي مطلب د هغه حضرت(ص) اصحاب دي چې یوه موده له هغه حضرت(ص) سره یو ځاي وو او له هغوي سره یې ژوند کاوه. (دا حدیث بخاري او مسلم هم روایت کړے دے)

---

[1]. جامع الاصول (ابن اثیر) یوولسم ټوک، کتاب الحوض فی ورود الناس علیه 120مخ، 7972ح.

2. بخاري او مسلم له رسول الله مبارکه روایت کړے دے چې ویې فرمایل:

"یَردُ علیّ یومَ القیامۃ رهطٌ من اصحابی ـ او یقال من امتی ـ فیحلوؤنَ عن الحوض فاقولُ یاربّ اصحابی فَیقول لا علم لک بما احدثوا بعدک انهم ارتدوا علی ادبارهم القهقری"[1]

د قیامت په ورځ به زما ځینې اصحاب ـ یا یې وفرمایل: زما له امته ځینې کسان به ما ته راشي نو له حوض (کوثره) به لیرې کړے شي ( یعنې حوض کوثر ته به نزدې پرې نښودل شي) نو زه به ووایم "اې خدایه دا زما اصحاب دي" خدای تعالیٰ به وفرمایي: ته له هغه څه چې دوي له تا وروسته وکړل نه یې خبر دوي هماغه زاړه حالت (جاهلیت) ته ستانه شول"

## نتیجه

د قرآن له ایتونو او د پیغمبر له سنتو معلومیږي چې هغه کسان او اصحاب چې د پیغمبر(ص) مصاحبت او ناسته پاسته یې په نصیب شو ټول په یوه سطحه کښې او یو شان نه وو بلکې ځینې یې ډېر ښه غوره او شایسته خلک وو چې د هغوي خدمتونه او قربانۍ د اسلام د تازه نیالګي د پخیدو او د میوه ورکولو سبب شول او ځینې نور کسان له هماغه پیله دوه مخي، منافق او د ناروغ زړه خاوندان وو یا هم ګناهکار وو.[2]

---

[1]. جامع الاصول یوولسم ټوک 120 مخ 7973 ح.

[2]. د لاډېر وضاحت لپاره د قرآن مجید منافقون سورې ته مراجعه وکړئ.

په دې طریقې سره د اصحابو په هکله د شیعه ؤ نظر څرګندیږي چې د خداي د کتاب او سنتو د نظر مطابق د ے.

# اتلسمه پوښتنه

## د متعې مطلب څه دے او ولې شیعه متعه وادهٔ حلال ګڼي؟

ځواب:

نکاح د ښځې او میړهٔ په مینځ کښې یو پیوند او تړون دے خو دا تړون کله په دائمي او همیشني ډول وي او په نکاح کښې ورته کوم حد او پوله یا وخت نه بیانیږي او کله همدا نکاح په محدود او موقت ډول او په معلوم مهال سره وي. دا دواړه د شرعي واده په توګه تر سره کیږي او فرق یې یوازې په دائمي(همیشني) او موقتي(مهالیز) کښې دے نور خصوصیات یې د یوبل په شان او برابر دي هغه شرائط او شرطونه چې لاندې یې ذکر کوو په متعه نکاح کښې د دائمي واده (نکاح) په شان معتبر او لازم دي.

1. ښځه او سړےباید په واده کښې شرعي مانع (خنډ) لکه نسب او سبب او نور شرعي موانع ونه لري ګني عقد (نکاح) یې باطله ده
2. د مهر اندازه چې دواړه لوري پرې راضي وي باید په نکاح کښې ذکر شي
3. د واده وخت معلوم وي
4. شرعي نکاح او عقد وشي

5. کوم بچی چې له هغوي پیدا کیږي د هغوي مشروع (روا) بچې دے لکه څنګه چې په دائمي نکاح سره د پیدا شوي بچي لپاره شناختي کارډ (پیژندپاڼه) اخستل کیږي باید هغه بچې هم چې د موقتې نکاح په نتیجه کښې پیدا کیږي شناختي کارډ ولري( پلار او مور یې په ګوته شي) په دې مورد کښې هم د دایمي او موقتي نکاح تر مینځ څه فرق نیشته
6. د بچیانو نفقه د پلار په ذمې ده او اولاد له پلار او موره وراثت وړي
7. کله چې د موقت واده وخت پاي ته ورسیږي که ښځه یائسه نه وي باید شرعي عده ولري او که د عدّې په موده کښې معلومه شوه چې ښځه حامله ده نو تر هغه وخته چې بچې نه وي پیدا شوے باید له هر ډول واده ډډه وکړي یعنې واده نه شي کولے.

همدا راز د دائمي واده د نورو احکامو هم باید په متعه کښې خیال وساتل شي یوازینے فرق دا دے چې له دې امله چې متعه د ضرورتونو د ختمولو لپاره مشروع شوے دے د ښځې خرچه د میړهٔ په غاړه نه ده او که ښځه د نکاح او عقد په وخت د میراث د وړلو شرط کښې نه ږدي د میړهٔ میراث ورته نه رسیږي او روښانه ده چې دا دوه فرقونه د نکاح په ماهیت او اصل کښې څه اثر نه لري.

مونږ ټول په دې عقیده لرو چې د اسلام دین یو همیشنی او خاتم شریعت دے چې د انسان ټولو اړتیاوو او ضرورتونو ته ځواب وایي. نو وایو هغه ځوان چې د خپل تعلیم د جاري ساتلو لپاره باید څو څو کلونه په یو بل هیواد او یا ښار او مسافرۍ کښې ژوند وکړي او د محدود وسایلو او امکاناتو په وجه دایمي واده نه شي کولے خپلې مخې ته درې لارې ګوري چې باید یوه ترې غوره کړي.

الف: په هماغه د مجردۍ او لنډه غرۍ په حالت کښې پاتې شي

ب: فحشاء او ګناه کښې ښکیل شي

ج: د هغو شرائطو مطابق چې ذکر مو کړل له یوې ښځې سره چې شرعاً ورسره نکاح جایزه ده واده وکړي.

د لومړي صورت په هکله به ووایو چې غالباً له ماتې سره مخامخیږي که څه هم ګوته په شمار کسان شته چې له هر جنسي عمله ځان ساتلے شي او د صبر لمنه یې د لاسه نه خلاصیږي خو ټول انسانان داسې نه دي.

کوم کسان چې دوهمه لاره غوره کوي د هغوي نتیجه هم معلومه ده چې تباهي او بربادي ده او د اسلام له نظره حرام عمل دے او که څوک ووایي چې د ضرورت مطابق ګناه کولے شي نو دا کج فکري او غلط خیال دے.

نو یوازې دریمه لاره پاتې کیږي چې پیغمبر(ص) وړاندې (تجویز) کړې ده او د پیغمبر(ص) په زمانه کښې هم هغه عمل کیدۀ او وروسته پکښې اختلاف پیدا شو.

دلته د یوۀ ټکي یادونه ضروري ګڼو او هغه دا چې کوم کسان چې له متعې ویره لري او هغه نامشروع ګڼي باید دې خبرې ته متوجې وي چې ټولو اسلامي فقیهانو او څیړاندو د معنا له نظر د هغوي مثال په دایمي نکاح کښې منلے دے او هغه دا چې ښځه او میرمن دایمي نکاح وکړي خو د دواړو نیت اراده دا وي چې په یو کال کښې یا کم او زیات وخت کښې د طلاق په وسیله له یوه بله جدا شي څرګنده ده چې داسې نکاح یوازې ظاهراً دایمي (همیشنۍ) ده او په حقیقت کښې موقته ده او کوم فرق چې دا ډول نکاح یې له متعه نکاح سره لرې هغه دا دےچې متعه په ظاهر او باطن کښې محدوده او موقته ده خو دا ډول همیشنۍ او دایمي نکاح په ظاهره همیشنۍ ده خو په باطن کښې محدوده او موقته.

کوم کسان چې دغه ډول دایمي نکاح او واده روا ګڼي څرنګه د متعه نکاح له جایزیدو ویره لري؟

تر دې ځایه د متعه نکاح له ماهیت او څرنګوالي خبر شو اوس به د دغه نکاح د حلال والي(مشروعیت) دلیلونه درته وړاندې کړو . غوره ده چې دلته خپله خبره په دوو پړاوونو کښې وکړو.

1. د اسلام په لومړیو وختونو کښې د متعه مشروع والے.

2. د رسول الله مبارک په زمانه کښې د دغه شرعي حکم نه منسوخیدل

د متعې د مشروع والي او روا والي روښانه دلیل دا ایت دے
فَمَا استَمتَعتُم بِهِ مِنهُنّ فَاتوهُنّ اُجُورَهُنّ فَرِيضَةً[1]
نو کله مو چې له هغه ښځو بهره (خوند) واخسته د هغوي اجوره (چې معین مهر دے) ورکړئ.
د دغه آیت الفاظ ښه ګواهي ورکوي چې د موقت ازدواج (متعه) په هکله نازل شوے دے ځکه چې
اول: د "استمتاع" لفظ کارول شوے چې ظاهراً د موقته نکاح په هکله دے او که دلته مقصد دایمي نکاح وے نو قرینې ته یې ضرورت درلود.
دوهم: د "اُجُورَهُنّ" لفظ د "هغوي د اجرت" په معنا استعمال شوے دے چې په متعه ښکاره دلیل دے ځکه چې په دایمي نکاح کښې د "مهر" او "صداق" په شان الفاظ استعمالیږي.
دریمه : شیعه او سني مفسران په دې عقیده دي چې دغه آیت د متعې په هکله نازل شوے دے جلال الدین سیوطي په خپل تفسیر "دُرّالمَنثُور" کښې له ابن جـــریر او سدي نقلوي چې دغه آیت د متعې په هکله دے[2]

---

1. د نساء سورة 24 آیت
2. درالمنثور دوهم ټوک 140 مخ د دې آیت په تفسیر کښې

هم دا راز ابو جعفر محمد بن جرير طبري په خپل تفسير کښې له سدي او مجاهد او ابن عباسه نقلوي چې دا آيت د موقتې نکاح په هکله دے[1]

ځلورم: د صحاحو او مسندونو خاوندانو (ليکوالو) او د روايتونو د جوامعو (کتابونو) ليکلوالو هم دا حقيقت منلے دے مثلاً مسلم بن حجاج په خپل صحيح کښې د جابر بن عبدالله او سلمه بن اکوع روايت کړے دے چې ويلي يې دي:

"خَرَجَ عَلينا منادى رَسول الله (ص) فقالَ إنّ رسول الله قد اذن لکم ان تستمتعوا ، يعنى مُتعَةَ النساء.[2]

د پيغمبر(ص) منادي مونږ ته راغے او وې ويل د خداي رسول تاسو ته استمتاع (له ښځو د بهره(خوند) پورته کولو) يعنې له ښځو سره د متعې اجازه درکړه په دې هکله د صحاحو او مسانيدو روايتونه دومره زيات دي چې په دې لنډې ليکنې کښې نه ځايېږي خو مطلب دا چې د اسلام په لومړيو وختونو او د پيغمبر(ص) په وخت کښې د اسلام د مفسرانو او عالمانو په نزد متعه روا وه.[3]

---

[1]. جامع البيان فى تفسير القرآن 5ټوک 9مخ.

[2]. صحيح مسلم، ځلورم

[3]. د نمونې په توګه د ځينې مدارکو يادونه کوو:ـــــــــ

(د صحيح بخاري باب تمتع) مسند احمد ځلورم ټوک 436مخ، دريم ټوک 356 مخ، الموطا (مالک) دوهم ټوک 30 مخ، سنن بيهقي 7 ټوک 306-مخ، تفسير طبري 5 ټوک 9 مخ، نهايه ابن اثير دوهم ټوک 249، مخ، تفسير رازي دريم ټوک 301 مخ، تاريخ ابن خلکان، اول ټوک 359 مخ، احکام القرآن(جصاص) دوهم ټوک 178 مخ، محاضرات

اوس پوښتنه دا ده چې ايا د متعې آيت منسوخ شوے دے؟
کيدے شي ډېر کم کس پيدا شي چې د رسول الله مبارک په زمانه کښې د متعې په روا والي او مشروعيت کښې شک وکړي، خبره د دغه الهي حکم په باقي پاتې کيدو يا منسوخيدو کښې ده.
د اسلام روايتونه او تاريخ وايي چې د دوهم خليفه تر وخته پورې په مسلمانانو کښې په دې حکم عمل کيدۀ او متعه دود وه او خليفه د ځينو مصلحتونو په بنياد هغه منع کړه.
مسلم بن حجاج په خپل صحيح کښې نقلوي چې ابن عباس او ابن زبير د متعه نساء (ښځو د متعې) او متعه حج کښې اختلاف پيدا کړ، جابر بن عبدالله وويل:
"فَعَلناهُمَا مَعَ رَسُول الله (ص) ثُمّ نَهانا عَنهُماعُمَر فَلَم نَعُد لَهُمَا.[1]
مونږ به د رسول الله په زمانه کښې دواړه متعې کولې بيا عمر مونږ له دغو دوو (متعه نساء متعه حج) منعې کړو او له هغه وروسته مو ونه کړې.
جلال الدين سيوطي په خپل تفسير کښې د عبدالرزاق، ابوداود او ابن جرير او هغوي هم له "حکم" روايتوي چې له هغه پوښتنه وشوه ايا د متعې ايت منسوخ شوے نه دے؟ ويې ويل نه، او علي (ع) وفرمايل:
"لَولا اَنّ عُمَر نَهى عَنِ المتعة ما زَنىٰ اِلاّ شَقِىّ"[1]

---

راغب، دوهم ټوک 94 مخ، الجامع الکبير سيوطي 8ټوک، 293، مخ، فتح الباري ابن حجر 9ټوک 141مخ.

[1]. سنن بيهقي، اوم ټوک 206مخ، صحيح مسلم 1ټوک 395مخ.

که عمر د متعې مخه نه وه نیولې او بنده کړې یې نه وې بې له شقي کسانو بل هیچا به زنا نه کوله.

علی بن محمد قوشجي هم وايي: عمر بن خطاب منبر ته ؤخت او ویې ویل:

"اَیّها النّاس ثلاثٌ کُنّ علیٰ عَهد رَسولُ اللہ اَنا اَنهیٰ عَنهُنّ وَاُحَرّمُهُنّ وَاُعاقبُ عَلَیهِنّ، وَ هِیَ مُتعَةُ النِساء، متعَةُ الحج وَ حیّ علیٰ خَیرِ العَمَلَ[2]

"اي خلکو د رسول اللہ په زمانه کښې درې څیزونه وو چې زه یې نهي کوم او حراموم او د هغه کوونکي ته سزا ورکوم. دغه درې څیزونه "د ښځو متعه، د حج متعه او حیّ علیٰ خیر العمل دي.

د یادولو ده چې په دې هکله روایتونه دومره ډیر دي چې دلته نه ځاییږي.[3]

باید ووایو چې متعه د نکاح او واده یو قسم دے ځکه چې نکاح په دایمي او موقتي تقسیمیږي او له کومې ښځې سره چې موقت

---

[1]. درالمنثور دوهم ټوک **140**مخ، د متعه د آیت په ځای کښې

[2]. شرح تجرید قوشجی، بحث امامت **484**مخ.

[3]. د نورو معلوماتو لپاره دغه مدارکو او اسنادو ته مراجعه وکړئ.ـــــــ

مسند احمد **3**ټوک **365** او **363** مخونه، البَیان والتَبیین (جاحظ) **2**ټوک **223**، مخ، احکام القرآن (جصاص) لومړے ټوک **342**، مخ، تفسیر قرطبی **2**ټوک **370** مخ، المبسوط (سرخسی حنفی)، کباب الحج باب القرآن، زاد المعاد ابن قیم لومړے ټوک **444** مخ، کنز العمال، اتم ټوک **293** مخ، مسند ابي داود طیالسي، **247**، مخ، تاریخ طبري **5** ټوک **32** مخ، المستبین طبری تفسیر رازي **3** ټوک **202**، **200**، مخونه، تفسیر ابو حیان **3**ټوک، **218**مخ.

نکاح کيږي د انسان ميرمن او سړے يې هم ميړه ګڼل کيږي او طبعاً داسې واده د ازدواج او واده په هکله په راغلو آيتونو کښې شامل دے.
که قرآن فرمايي:
وَالذِينَ هُم لِفُروجِهِم حافظون اِلاّ علىٰ اَزواجِهِم او ما مَلَكت اَيمانُهم.[1]
او هغه کسان چې خپلې لمنې پاکې ساتي مګر خپلو زوجونو او جوړو يا په خپلو کنيزانو چې د هغوي مال حسابيږي.
کومه ښځه چې د دغو شرائطو په چوکاټ کښې په موقته توګه په نکاح کيږي له هغو افرادو او مصداقونو ده چې "علىٰ اَزواجِهِم" پرې صدق کوي او د دې له چوکاټه بهر نه دي په دې معنا چې که ښځه په متعه نکاح سره د يو سړي ښځه شي د هغه شرعي ښځه ګڼل کيږي او د ازواجهم په مصداق کښې راځي.
او که په "مؤمنون" سورة کښې جنسي معاشرت او ملاستے له دوو ډول ښځو سره راو ګڼي يعنې له ميرمنو او کنيزانو سره، هغه ښځه چې موقته نکاح (متعه) ورسره شوې وي په اول ډول (ميرمنو) کښې شامله ده.
د هغو کسانو خبره ډيره د حيرانتيا خبره ده چې دغه د سورة مؤمنون آيت په نساء سورة کښې د متعې د آيت منسوخوونکے ګڼي حال دا چې ټولو ته پته ده چې ناسخه اية بايد له منسوخې شوې آيې وروسته نازله شي خو دلته کيسه اپوټه ده مؤمنون سورة

[1]. د مؤمنون سورة پينځم او شپږم ايت.

چې ناسخه ګڼل شوې مکي ده (یعني په مکې کښې او مدینې ته د رسول الله(ص) له هجرته مخکښې) نازله شوې ده او نساء سورة چې د متعې ایت پکښې راغلے دے مدني ده (په مدینه کښې ،د پیغمبر(ص) له هجرته وروسته نازله شوې ده.

اوس پوښتنه دا ده چې په مکې کې د نازلې شوې سورې آیت څرنګه په مدینې کښې د نازلې شوې آیت ناسخ کیدلے شي؟

یو بل روښانه دلیل چې د پیغمبر(ص) په زمانه کښې د متعه د ایت په نه منسوخیدو ګواهي ورکوي هغه پریمانه روایتونه دي چې د رسول الله مبارک په زمانه کښې د دغه ایت د منسوخیدو انکار کوي. مثلاً هغه روایت چې له جلال الدین سیوطي مو په "درالمنثور" کښې نقل کړ او شرحه یې تیره شوه.[1]

په پاي کښې د دې ټکي یادونه کوو چې اهل بیت امامان چې د حدیث ثقلین په ګواهۍ د امت د هدایت سبب او له قرآنه نه جداکیدونکي دي د متعې په روا والي او نه منسوخیدو دلالت او صراحت لري.[2]

او دا چې اسلام په هره زمانه کښې د بشري ټولني د مشکلاتو د هواري وس لري هم په نوموړو شرائطو سره د داسې نکاح مشروعیت تاییدوي ځکه چې نن د فساد او بې لارې له جبې د ځوانانو د نجات یوه لاره همدغه متعه یا موقت واده دے چې په خپلو شرائطو سره وشي.

---

1. درالمنثور 2ټوک 141 – 140مخونه، د متعې له ایت سره.

2. وسائل الشیعه 14ټوک کتاب النکاح باب اول د متعې له بابونو 434مخ.

## نولسمه پوښتنه

## شیعه ولي په خاوره (سجده ګاه) سجده کوي؟

**ځواب:-**
ځیني کسان دا ګومان کوي چې په خاورې یا د شهیدانو په خاورې (سجده ګاه) سجده کول د عبادت او پرستش په معنا دي او یو ډول شرک دے.
د دې پوښتنې په ځواب کې باید یادونه وکړو چې د دې دوو جملو تر مینځ ؛السجود لله؛ او ؛السجود علي الارض؛ ښکاره فرق موجود دے دا کوم اعتراض چې شوے له دې امله دے چې اعتراض کوونکي په دغو دو جملو کښې فرق نه کوي.
مسلماً د ؛السجود للَه؛ مطلب دا چې سجده د خداې لپاره ده حال دا چې د ؛السجود علی الارض؛ مطلب دا ده چې سجده په زمکه کیږي او په بله ژبه دا چې مونږ په زمکې باندې سجدې سره خداې ته سجده کوو. اصولاً د نړۍ ټول مسلمانان په یوۀ څیز سجده کوي حال دا چې د هغوي سجده د خداې لپاره ده. د خداې د کور ټول زیارتوال او حجیان د مسجد الحرام په کاڼو سجده کوي حال دا چې هغوي خداې ته سجده کوي.
په دې بیان سره روښانه کیږي چې په خاوره یا بوټو(وښو) سجده کول هغوي ته د سجدې کولو په معنا نه دي بلکې سجده خداې ته کیږي خو له دې امله په خاورو کیږي چې خضوع او عاجزي پکښې

ډیره وي هم دا راز معلومه شوه چې په خاورې سجده کول خاورې ته له سجده کولو سره فرق لري.
له بله پلوه قران مجید فرمايي:-
وَ لِلهِ یَسجُدُ مَن فِي السَمَوات وَ الاَرض [1]
هر څوک چې په اسمانونو او په ځمکه کې دي خداې ته سجده کوي.
او همدا راز پیغمبر اکرم (ص) فرمايي:
جُعِلَت لِیَ الارضَ مَسجِداً وَ طهُوراً [2]
ځمکه زما لپاره د سجدې ځاې او د پاکۍ وسیله ګرځول شوې ده.
په دي اساس ؛د خداې لپاره سجده؛ په ځمکه او خاورې له سجدې سره نه یوازې دا چې تضاد نه لري بلکې کاملاً سمون هم خوري ځکه چې په خاوره او وښو (بوټو) سجده کول د یوازیني خداې په وړاندې د ډیرې خضوع او عاجزۍ د ښکاره کولو راز دے.
دلته د شیعه ؤ د نظریې د لا روښانه کیدو لپاره غوره ده. د شیعه ؤ د لوي امام حضرت امام جعفر صادق (ع) د وینا ځینې برخې ذکر کړو
عن هشام ابن الحکم قال قلت لابي عبدالله (ع) اخبرني عـمَا یجوز السجود علیه و عمَا لا یجوز؟ قال السجود لا یجوز الاَ علی الارض او ما انبتت الارض الاَ ما اُکل او لُبس. فقلت له جُعلت فداک ما العلة في ذلك؟ قال لانَ السجود هو الخضوع للّه عزَ و جلَ

[1]. د رعد سوره ایت 15
[2] صحیح بخاري کتاب الصلواه مخ 91

فلا ينبغي ان يكون على ما يوكل و يلبس لانَ ابناء الدنيا عبيدٌ ما ياكلون و يلبسون و الساجد في سجوده في عبادة الله عزَ و جلَ فلا ينبغي ان يضع جبهته في سجوده على معبود ابناء الدنيا الذيَن اغتروا بغرورها، و السجود على الارض افضل لانَه ابلغ فى التواضع و الخضوع لِلَه عزَ و جلَ[1]

هشام بن حکم وايي له امام صادقه (ع) مې د هغه څه په باره کښې چې سجده پرې واجبه ده، پوښتنه وکړه وې فرمايل: سجده يوازې په زمکه او هغه څه چې له زمکې راټوکيږي، بې له خواړو او جامې، کيدے شي. ومې ويل لا تا زار شم علت يې څه دے؟ وې فرمايل: سجده د خداې په در کې خضوع او اطاعت دے او ښه نه ده چې په خوړو او په اغوندونکو څيزونو( جامو) سجده وشي ځکه چې دنيا پالي د خوړو او جامې غلامان دي حال دا چې انسان د سجدې په وخت د خداې په عبادت کې وي نو ښه نه ده چې خپل تندے په هغه څه چې د دنيا پرستو معبود دي کيږدي.

او په زمکه سجده کول لوړه او غوره ده ځکه چې د خداې په وړاندې له خضوع او عاجزۍ سره زيات سمون خوري.

دا وينا روښانه ګواه ده چې په خاورې سجده کول يوازې له دې امله دي چې دا کار د خداې په وړاندې له عاجزۍ او تواضع سره زيات ښايي.

* * * * * * *

[1]. بحار الانوار 85 ټوک 147 مخ د علل الشرايع په حواله

دلته یوه بله پوښتنه کیږي چې ولې شیعه یوازې په خاوره او ځینو بوټو( وښو) سجده کوي او په هر څیز سجده نه کوي؟

د دې پوښتنې په ځواب کې وایو: لکه څرنګه چې د یو عبادت اصل باید د شارع لخوا مونږ ته راورسیږي نو پکار ده چې د هغه د اجزاء و شرایط او کیفیت هم د هغوي په وینا او عمل سره مونږ ته راورسیږي. یعني پیغمبر (ص) یې مونږ ته وښیي ځکه چې د خداې رسول، د قران په حکم، د ټولو غوره انسانانو بیلګه او اسوه ده.

اوس ځینو اسلامي حدیثونو ته اشاره کوو چې د پیغمبر(ص) د سیرت او سنت ښودونکي دي چې ټول په دې ښوونه کوي چې رسول الله مبارک هم په خاوره او هم له زمکې په ټوکیدلو څیزونو لکه وښو، سجده کوله کټ مټ هماغه شان چې په نن زمانه کې یې شیعه کوي او عقیده لري.

اول:-  ځینو اسلامي محدثانو په خپلو صحاحو او مسانیدو کې د پیغمبر اکرم (ص) دا خبره راوړې ده چې فرمایي جُعلت لي الارض مسجداً و طهوراً [1]

زمکه زما لپاره د سجدې ځاي او د پاکۍ وسیله ګرځول شوې ده.

د ؛جعل؛ له کلمې چې دلته د تشریع او د قانون په معنا ده، ښه روښانیږي چې دا مسله د اسلام د منونکو لپاره یو خدایي حکم دے او په دې طریقه په خاورو کاڼي او داسې نورو څیزونو چې د زمکې سطح (مخ) حسابیږي، د سجدې کولو مشروعیت ثابتیږي.

[1]. سنن بیهقي لومړے ټوک 212 مخ (باب التیمم بالصعید الطیب) ، صحیح بخاري کتاب الصلواه مخ 91 ، اقتضاء الصراط المستقیم (ابن تیمیه 232 مخ

دوهم: ځينې روايتونه په دې خبره دلالت لري چې پيغمبر اکرم (ص) مسلمانانو ته د سجدې په وخت په خاورو د تندي کيښوولو امر کاوۀ لکه ام سلمه (د پيغمبر اکرم ص بي بي) له هغه حضرته (ص) روايت لري چې وې فرمايل:

تَرِب وَجهَکَ لِلَه

د خداې لپاره خپل مخ په خاوره کيږده. [1]

د پيغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم په وينا کې له ؛ترَب؛ لفظ دوه ټکي روښانيږي يو دا چې انسان بايد د سجدې په وخت خپل تندے په تراب يعني خاورو کيږدي بله دا چې په دې حديث کښې د امر صيغه راغلې ده چې د دې ښوونه کوي چې دا يو لازم الاجراء امر دے.

ځکه چې د ؛ترَب؛ لفظ د تراب له مادې ده چې د خاورو معنا لري او دلته د امر په صيغه استعمال شوې ده.

دريم:- په دي مسله کې د پيغمبر(صلی الله عليه و آله وسلم) عمل و بل څرګند دليل او د مسلمانانو د لارې روښانونکے دے وائل بن حجر وايي:

رايت النبي(ص) اذا سجد وضع جبهته و انفه علی الارض [2]

---

[1]. کنز العمال 7 ټوک حلب چاپ 465 مخ حديث 19809 کتاب الصلاة السجود و ما يتعلق به

[2]. احکام القران (جصاص حنفي) دريم ټوک 209 مخ بيروت چاپ باب السجود علې الارض

کله به چې پيغمبر(ص) سجده کوله خپل تندے او پوزه به يې په زمکه لګول. انس بن مالک او ابن عباس او د پيغمبر ډيرو ميرمنو لکه عائشې او ام سلمه او ډيرو محدثانو دا حديث نقل کړے دے
((کَانَ رَسُولُ اللهِ (ص) يُصَلِي عَلى الخُمرَة)) [1]
رسول الله مبارک به په خمره سجده کوله (خمره يو ډول پوزے دے چې د کجورو د ونې له پوستکي جوړ دے) د خداې د رسول (ص) يو بل صحابي ،ابو سعيد وايي:
دَخَلتُ عَلى رَسُولِ الله (ص) وَ هُو يُصَلِي عَلَى الحَصِير [2]
زه رسول الله مبارک ته ورغلم په داسې حال چې هغوي په پوزي لمونځ کاوه. دا خبره د شيعه ؤ په عقيدې يو بل ښرګند دليل دے په دې عقيدې چې سجده په هغه څه جايزه ده چې له زمکې ټوکيږي البته چې د خوراک او ښناک شے نه وي.
**څلورم**: د اصحابو او تابعينو وينا او عمل هم د رسول الله مبارک د سنتو ښرګندوے دے.
جابر بن عبدالله انصاري وايي:
کُنتُ أُصَلِي الظُهر مَـــــع رَسُولِ الله (ص) فَاخَذَ قَبضَة من الحصاء لتبرَد في کفي اضعها لجبهتي اسجد عليها السرَه الحر [3]

---

[1]. سنن بيهقي دوهم ټوک 421 مخ کتاب الصلواة باب الصلاة على الخمره
[2]. سنن بيهقي دوهم ټوک 421 مخ کتاب الصلواة باب الصلاة على الحصير
[3]. سنن بيهقي لومړے ټوک 439 مخ کتاب الصلاة باب ما روي في التعجيل بها في شدة الحر

له پیغمبر اکرم(ص) سره مې ماسپښین لمونځ کاوه په موټې کې به مې نري کاڼي (سنګريزه) راخستل او لږ به مې نیول چې یخ شي او د سجدې په وخت به مې په هغو سجده کوله او دا د ګرمۍ د سختوالي په وجه وو.

راوي بیا زیاتوي، که په هغو جامو چې اغوستي مې وې سجده روا وه نو دا به د کاڼو له راوچتولو او یخولو اسانه وه.

ابن سعد (وفات 209) په خپل کتاب الطبقات الکبری کې لیکې:

كَانَ مَسرُوقٌ اذا خَرَج يَخرُج بلبنة يسجد عليها فی السفینه [1]

مسروق بن اجدع به د مسافرت په وخت له ځان سره خښته وړله چې په کشتۍ کښې پرې سجده وکړي.

یادونه ضروري ده چې مسروق بن اجدع د پیغمبر اکرم (ص) له تابعینو او د ابن مسعود د اصحابو څخه ؤ او د ؛الطبقات الکبری؛ لیکوال هغه له پیغمبره وروسته د کوفي د خلکو په لومړۍ طبقې کې او له هغو کسانو ګڼلے دے چې له حضرت ابوبکر، حضرت عمر، حضرت عثمان، حضرت علي او عبدالله بن مسعود یې روایتونه نقل کړي دي.

دا روایت د هغو کسانو د خبرې غلطوالے او بې بنسټ والے څرګندوي چې د خاورې د یوې ټوټې له ځان سره ګرځول شرک او بدعت ګڼي، معلومیږي چې د اسلام مخکښانو او د لومړیو وختونو کسانو هم دا کار کاوۀ [2]

---

[1]. الطبقات الکبری ټوک 6 79 مخ بیروت چاپ د مسروق ابن اجدع په ژوند لیک کې

[2]. له ډیرو معلوماتو او شواهد له پاره د علامه امیني لیکلے کتاب (سیرتنا) وګورئ.

نافع وايي:
انَ ابن عمر كان اذا سجد و عليه العمامه يرفعها حتى يضع جبهته باالارض [1]
عبدالله بن عمر به د سجدې په وخت خپل پټکے ليرې کاوه چې تندے په زمکه ولګوي.
زرين وايي:
كَتَبَ اِلى عَليَ ابنَ عَبدِالله بن عَباس (رض) انَ أبعث الي بلوحٍ من احجارَ المروة اسجد عليه [2]
علي بن عبد الله بن عباس ما ته وليکل : د مروه غرۀ د کاڼو يوه تخته (موسیٰ) ماته راوليږه چې سجده پرې کوم.
5: له بل پلوه اسلامي محدثانو ځينې روايتونه راوړي دي چې رسول الله مبارک هغه کسان چې په سجده کې به يې د زمکې او تندي تر مينځ د پټکي يو ګوټ کيښود ( په پګړي به يې سجده کوله) له دي کاره منعې کړي دي.
صالح صبايي وايي:
انَ رسول الله (ص) راى رجلاَ يسجد بجنبه و قد اعتمَ على جبهته فحسر رسول الله (ص) عن جبهته [3]
رسول الله مبارک د ځان په خوا کې يو سړے د سجدې په حالت

---

[1]. سنن بيهقي ټوک 2 مخ 105 اول چاپ (حيدر اباد دکن) کتاب الصلاه باب کشف عن السجده فی السجده
[2]. ازرقي اخبار مکه ټوک 3 مخ 151
[3]. سنن بيهقي ټوک 2 مخ 105

کې وليدۀ په داسې حال چې په تندي يې پټکے تړلے ؤ، پيغمبر اکرم (ص) د هغه له تندي پټکے ليرې کړه.

عياض بن عبدالله قرشي وايي:

راى رسول الله (ص) رجلاً يسجد على كور عمامته فأومأ بيده ارفع عمامتک و أومأ الى جبهته [1]

رسول الله مبارک يو سړے د سجدې په حالت کې وليدۀ چې د خپل پټکي (عمامه) په څنډه يې سجده کوله د خداې رسول هغه ته اشاره وکړه چې خپل پټکے ليرې کړه او د هغه تندي ته يې اشاره وکړه.

له دغو روايتونو ښه معلوميږي چې په زمکه د سجدې ضروري والے د رسول الله مبارک په زمانه کي يوه مشخصه او مسلمه خبره وه تر دې چې که يو مسلمان غوښتل چې خپل پټکي څنډه په زمکه کيږدي او په هغه سجده وکړي چې تندے يې په زمکه ونه لګي رسول الله مبارک به له دغه کار منعې کاوه.

6: د شيعه ؤ معصومو امامانو چې له يوې خوا د حديث ثقلين په ګواهئ له قرانه نۀ جدا کيدونکي هستئ او له بل پلوه د خداې د رسول اهلبيت دي، په خپلو ويناوو کښې دا حقيقت جوت کړے دے.

امام صادق عليه سلام فرمايي:

السُجُودُ عَلى الارضِ فَرِيضَة و على الخُمرةِ سُنة. [2]

[1]. سنن بيهقي ټوک 2 مخ 105

[2]. وسايل الشيعه دريم ټوک 593 مخ کتاب الصلاه ابواب ما يسجد عليه حديث 7

په زمکه سجده د خداې حکم او په پوزي سجده د پیغمبر اکرم(ص) سنت دي.
او په یو بل ځاي کې فرمایي:
السجود لا یجوز الا علی الارض او علی ما انبتت الارض الاَ ما اکل او لُبس [1]
جایزه نه ده سجده کول مګر په زمکه او په هغه څیزونو چې له زمکې راټوکیږي مګر په خواړو او جامه

**نتیجه:**
له دغو ټولو دلیلونو ښه معلومیږي چې نه یوازي د پیغمبر(صلی الله علیه و آله وسلم) د اهلبیتو روایت بلکې د رسول الله مبارک سنت او د اصحابو او تابعینو کړچار په زمکه او له زمکې په راټوکیدونکو څیزونو (بي له خواړو او جامو) د سجدې په ضروري والي ګواهي ورکوي.
پر دې سربیره مسلمه خبره دا ده چې په دغو څیزونو سجده کول جایزه ده حال دا چې په نورو څیزونو د سجدې په اداوالي کې اختلاف او شک دے نو احتیاط هم (چې د نجات او کامیابۍ لاره ده) تقاضا کوي چې غوره دا ده چې په زمکه او له زمکې په ټوکیدونکو څیزونو سجده وشي نه په بل څه.

1. وسایل الشیعه دریم ټوک 591 مخ کتاب الصلاه ابواب ما یسجد علیه حدیث 1

په پاي کې یادونه کوم چې دا بحث یوه فقهي مسله ده او په داسي فرعي مسایلو کې په اسلامي فقهاؤ کې اختلاف زیات لیدل کیږي خو داسې اختلاف باید د اندیښنې سبب نه شي ځکه چې داسې اختلافات د اهل سنتو په څلورو مذهبونو کې هم ډیر دي مثلاً مالکیان وایي: په سجده کي پوزه لګول مستحب دي حال دا چې حنبلیان یې واجب ګڼي او وایي که پوزه ونه لګوله نمونځ باطلیږي.[1]

شلمه پوښتنه

[1]. الفقه علی المذاهب الاربعه لومړے ټوک 161 مخ مصر چاپ کتاب الصلاه مبحث السجود

## ولي شيعه د زيارت كولو په وخت د زيارت (حرم) دروازې او ديوالونه ښكلوي او هغه مبارک ګڼي او ځان پرې مباركوي؟

ځواب:
د خداي پاک د اولياؤ په شعايرو او نخښو نخښانو پورې تبرک كول او بركت غوښتل څه داسې مسئله نه ده چې نن سبا په مسلمانانو كې پيدا شوي وي بلكي د دې مسلې جرړي د رسول الله مبارک او د هغه حضرت د اصحابو د ژوند په تاريخ كې هم تر سترګو كيږي.
نه يوازې پيغمبر (صلی الله عليه و آله وسلم) او د هغه يارانو بلكې پخوانيو پيغمبرانو هم دا كار كاوۀ. دلته به د كتاب او سنت له نظره د خداي د اولياؤ په شعايرو او ښنونښانو پورې تبرک كول او مبارک ګڼلو روايي دلايل درته وړاندې كړو.
1: په قران مجيد كې لولو هغه وخت چې حضرت يوسف (عليه السلام) ځان خپلو وروڼو ته وروپيژاند او هغوي يې وبخښل وې فرمايل:
اذْهَبُواْ بِقَمِيصِي هَذَا فَأَلْقُوهُ عَلَى وَجْهِ أَبِي يَأْتِ بَصِيراً [1]
زما دا قميص له ځان سره يوسئ او زما پلار (يعقوب پيغمبر) په مخ يې واچوئ سترګې به يې بينا شي.

---
[1]. يوسف 93

فَلَمّا اَن جَاء الْبَشِیرُ اَلْقَاهُ عَلٰی وَجْهِهِ فَارْتَدّ بَصِیراً [1]

هغه وخت چې زیري ورکوني کمیص د هغه په مخ واچوه د هغه نظر ستون شو.

دا ایتونه د دې خبرې ښکاره ګواه دي چې یوه پیغمبر (یعقوب) د بل پیغمبر (یوسف) له کمیصه تبرک وغوښته بلکې وایي چې د دغه کمیص په وجه د حضرت یعقوب سترګې رڼې شوې.

ایا ویلے شو چې دغو دوو پیغمبرانو د خداي پاک له وحدانیت او عبادته بهر کار او د شرک کار کړے دے؟

2: په دې کې شک نیشته چې د خداي رسول به د خانه کعبې د طواف په وخت په حجر الاسود لاسونه لګول یا به یې ښکلاوه.

بخاري په خپل صحیح کې وایي: یو کس له عبدالله بن عمر نه د حجر الاسود د لمس کولو او وربانديې د لاس کیښودلو په هکله پوښتنه وکړه هغه په ځواب کې وویل رایت رسول الله (ص) یستلمه یقبلَه [2]

پیغمبر مې ولیدۀ چې په حجر الاسود پورې یې لاسونه موښل او ښکلاوۀ یې.

نو که یو کانړي لمس کول او ښکلاول شرک وي هیڅ کله به پیغمبر (ص) دا کار نه کاوه.

3: په صحاحو او مسانیدو او د تاریخ او سنتو په ډیرو زیاتو کتابونو کښې بي شماره روایتونه راغلي دي چې د رسول الله

1. یوسف 96

2. صحیح بخاري دوهم ټوک کتاب الحج باب تقبیل الحجر152 51 مخونه د مصر چاپ

مبارک اصحابو به د هغه حضرت له اثارو، لکه جامو او د اودس په اوبو د اوبو په لوښي او داسي نورو څیزونو تبرک غوښته او هغه به یې د برکت سبب ګڼل. دغو روایتونو ته په مراجعې سره هیڅ شک نه پاتې کیږي چې دا کار ښه او غوره کار دے.

که څه هم په دې هکله روایتونه دومره زیات دي چې د ټولو راوړل په دې وړوکې کتاب کې نه ځاییږي خو مونږ پکښې یوڅو روایتونو ته اشاره کوو.

الف: بخاري په خپل صحیح کښې په یو اوږد روایت کښې چې د پیغمبر او د هغه حضرت (ص) د یارانو ځینې خصوصیتونه پکښې بیان کړي دي داسې وایي:

و اذا توضأ کادوا یقتتلون علی وضوئه [1]

کله به چې رسول الله مبارک وضو کاوۀ نزدي وه چې مسلمانان (د هغه حضرت د وضو د اوبو د لاسته راوړلو په سره له یوه بل سره) وجنګیږي.

ب: ابن حجر وایي:

انَ النبي (صـــلی الله علیه و آله وسلم) کان یؤتی بالصبیان فیبرک علیهم [2]

ماشومان به یې رسول الله مبارک ته راوستل او هغه حضرت به د تبرک (د هغوي د مبارکي لپاره) دعا کوله.

---

[1]. صحیح بخاري 3 ټوک باب ما یجوز من الشروط فی الاسلام باب الشروط فی الجهاد و المصالحه 195 مخ

[2]. الاصابه 1 ټوک د کتاب خطبه 7 مخ مصر چاپ

ج: محمد طاهر مکي وايي:
له امَ ثابته روایت شوے چې وي ویل: د خداي رسول مبارک زما کورته راغے او د هغه مشک له خولې یې چې ځوړند ؤ اوبه وڅښلې او زه پاځیدم او د مشک خوله مې وشلوله (جدا کړه).
بیا زیاتوي دا حدیث ترمذي نقل کړے او وايي صحیح او حسن حدیث دے او د دغه حدیث شارح په ریاض الصالحین کتاب کښې وايي ؛امَ ثابت د مشکیزې خوله پرې کړه (جدا کړه)چې د پیغمبر د خولې د ځاي ساتنه وکړي او له هغه تبرک وغواړي او هم دا راز به اصحابو هڅه کوله له هغه ځایه چې پیغمبر اوبه څښلې اوبه وڅښي [1]
کان رسول الله صلى الله علیه و آله وسلم اذا صلى الغداة جاء خدم المدینة بانیتهم فیها الماء فما یوتى باناء الاَ غمس یده فیها فربَما جاؤوه في الغداة الباردة فیغمس یده فیها. [2]
د مدینې خدمتکاران به د سهار د لمانځه په وخت د اوبو له لوښیو سره رسول الله مبارک ته ورتلل د خداي رسول به هر یوه لوښي کې لاس واهه او کله کله به ساړه موسم کښې هم سهار هغه حضرت ته د اوبو له لوښو سره راتلل او د خداي رسول به خپل لاس په اوبو کې واهه. [3]

---

[1]. تبرک صحابه (محمد طاهر مکي) لومړے څپرکې 29 مخ ترجمه انصاري
[2]. صحیح مسلم 7 ټوک کتاب الفضایل باب قرب النبي من الناس و تبرکهم به 79 مخ
[3]. له ډیرو معلوماتو له پاره لاندینیو کتابونو ته مراجعه
1: صحیح بخاري کتاب اشربه

په دې طریقې سره د خداي د اولیاء له اثارو د برکت غوښتل دلیلونه روښانه شول او معلومه شوه چې هغه کسان چې د زیارت او حرم د دروازو او دیوالونو د ښکلولو په وجه شیعه په شرک تورنوي د توحید او شرک په معنا سم نهٔ دي پوه شوي ځکه چې د شرک او بې له خدایه د بل چا د پرستش معنا دا ده چې د خداي پاک د عبادت او پرستش تر څنګ یو بل څیز هم خداي وګڼو یا ووایو چې د خداي کارونه کوي په دې ډول چې هغه په خپلې هستۍ یا کارونو او تاثیرګزارۍ کښې له خدایه بې نیازه او خپلواکه وګڼو.

حال دا چې شیعه د خداي د ولیانو اثار د ولیانو په شان د خداي پنځول شوي او خلق شوي څیزونه ګڼي چې هم په خپل اصل وجود یعني پیدایښت کښې او هم په اثارو او اثر کولو او برکت راوړلو کښې خداي تعالی ته محتاجه دي او دغه برکت خداي ورکړے دے.

شیعه یوازې د خپلو دیني مخښکانو او لار ښوونکو د درناوي او احترام په وجه او له دې امله چې هغوي سره خپله بې دریغه مینه وښي د هغوي په اثارو کښې تبرک لټوي او برکتي یې ګڼي

2: موطإ مالک 1 ټوک 138 مخ په پیغمبر د درود استولو باب
3: اسد الغابه 5 ټوک مخ 90
4: مسند احمد 4 ټوک 32 مخ
5: الاستیعاب د (الاصابه) په حاشیې کې 3 ټوک 631 مخ
6: فتح الباري 1 ټوک 281 – 182 مخونه

که شیعه د پیغمبر اکرم(ص) او د هغه د اهل بیتو د زیارت په وخت د هغوي قبرونه او زیارتونه ښکلوي یا یې دروازي او دیوالونه لمسوي یوازې په دي وجه دي چې په پیغمبر مبارک او د هغه حضرت په اهلبیتو مَیَن دي او دا یوه انساني او احساساتي خبره ده چې د یو عاشق او مَیَن انسان په وجود کې پیدا کیږي.
یو خوږ ژبے شاعر وایي:

امرَ على الديار ديار سلمى     اقبَل ذالجدار و ذالجدار
و ما حُب الديار شَغَفْنَ قلبى     و لكن حُب مَن سكن الديـار

د سلمی په دیار (وطن) تیریږم دا دیوال او هغه دیوال ښکلوم د هغه دیوال دوستي زما زړه نه خوشحالوي بلکې دا په هغه کښې میشته محبت دے چې ما په وجد او سرور کې راولي.

## یو یشتمه پوښتنه

# ایا د اسلام له نظره دین له سیاسته جدا نه دے؟

ځواب:

تر هر څه د مخه غوره ګڼو چې د سیاست معنا صفا کړو چې د هغې په رڼا کښې له دین سره د سیاست رابطه ښکاره شي دلته د سیاست د لفظ لپاره دوه احتماله شته.

1: اوله دا چې د سیاست معنا چَلوَل، دوکه، چالاکي او هدف ته د رسیدلو لپاره له هر ډول ممکنې وسیلې استفاده وګڼو او دا ووایو چې هدف وسیله توجیهوي.

څرګنده ده چې په دې معنا سیاست، نه دا چې د سیاست اصلي معنا نه ده بلکې بې له ټګۍ دوکې او حیلې بل څه نه دي او دا چاره له دین سره سمون نه خوري.

2: دوهمه دا چې د سیاست معنا د ژوند په مختلفو چارو کې د صحیح اسلامي اصولو له لارې د یوې ټولنې د ژوند د چارو تدبیرول او اداره کول وګڼو.

په دې معنا سیاست چې همـــاغه د قران مجید او د سنت په رڼا کښې د مسلمـــانانو د چارو اداره کول او چلَوَل دي، د دین برخه ده او له دینه جدا نه دے.

اوس له سیاست سره د دین د غږملتیا او د دین له لورې د حکومت د جوړولو د ضرورت ځینې دلیلونه درته وړاندې کوو.

د دې خبرې تر ټولو څرګند ګواه د رسالت او پیغمبرۍ په ټیټ او هسک دوران کې د پیغمبر کړنلاره او عمل دے. د رسول الله

مبارک د وینا او عمل په مطالعې سره د لمر په شان روښانیږي چې هغه حضرت (ص) د خپلې بلنې له پیله په خداي د ایمان په بنیاد د یو مزبوت حکومت د جوړولو په لټه کې ؤ. داسې حکومت چې د اسلام د پروګرامونو او پلانونو او پلي کولو وس ولري. ښه به وي چې دلته ځینې شواهد چې د پیغمبر اکرم(صلي الله علیه و آله وسلم) د دغه لوړ همت او کلک هوډ بیانونکي دي، ذکر کړو.

## پیغمبر د اسلامي حکومت بنسټګر دے

1: کله چې د خداي رسول ته امر وشو چې خپله بلنه (تبلیغ اسلام) څرګند کړي، هغه حضرت په مختلفو رودو سره د مبارزې او هدایت زړو او اصلي مرکزونو په جوړولو او د مسلمانانو د ځواک په راغونډولو لګیا شو او په دې لړ کې به یې له مختلفو ډلو سره چې له بیلا بیلو سیمو د کعبې زیارت ته راتلل لیدۀ کاته کول او هغوي به یې اسلام ته رابلل، په دې مینځ و میان کې د مدینې د خلکو له دوو ډلو سره په عقبه نومې ځاے کې کېښناسته او هغوي ژمنه وکـــړه چې رسول الله مـــبارک خپل ښار (مدینې) ته وبُلي او ملاتړ یې وکړي[1]

او په دې ډول ګورو چې د اسلامي حکومت د جوړولو لپاره د هغه حضرت د سیاستګذارۍ لومړي ګامونه پورته شول.

---

[1]. سیره ابن هشام لومړے ټوک 431 مخ مبحث عقبه اولی چاپ دوهم مصر

2: د خداي رسول مبارک مدينې ته له هجرته وروسته د يو مزبوت او پياوړي ځواک (پوځ) د جوړولو بنياد کيښود هغه پوځ چې د رسول الله مبارک په ژوند کښې يې په دوه اتيا (82) مختلفو جنګونو او غزاګانو کښې برخه واخسته او په ځلانده کاميابيو سره يې د اسلامي حکومت د جوړيدو په لاره کښې موجود خنډونه ليرې کړل.

3: په مدينې کې د اسلامي حکومت له ځاي پر ځاي کيدو (استقراره) وروسته پيغمبر اکرم(ص) د تاريخي ليکوالو او استازو په استولو سره د خپل وخت له پياوړو سياسي او اجتماعي قطبونو (دولتونو او امپراطورو) سره رابطې ونيولې او د ډيرو ډلو له مشرانو سره يې سياسي اقتصادي او پوځي تړونونه (معاهدې) وکړل.

د رسول الله مبارک د ژوند په تاريخ کښې د ايران سترواک *کسرى* د روم پاچا قيصر، د مصر سلطان مقوقس، د حبشي واکمن نجاشي، او د داسې نورو واکوالانوته د هغه حضرت د ليکونو اهميت په ګوته شوے دے ځينو محققانو خو دغه اکثره ليکونه په يو جدا کتاب کښې راوړي دي. [1]

4: د خداي رسول د اسلام د اهدافو د پرمخ بيولو او د اسلامي حکومت د بنيادونو د لا مزبوتيا لپاره د ډيرو قبايلو او ښارونو، ګورنران او مشران وټاکل د مثال په توګه دلته د هغه حضرت يو اقدام ته اشاره کوو.

[1]. لکه الوثايق السياسه (محمد حميد الله) او مکاتيب الرسول ((علي احمدي))

رسول الله مبارک، رفاعه بن زید د خپل استازي په توګه د هغه قبیلې ته ولیږهٔ او په یوهٔ لیک کښې یې داسې ولیکل:

بسم الله الرحمن الرحیم (هذا کتاب) من محمد رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم لرفاعه بن زید انَی بعثته الی قومه عامة و من دخل فیهم یدعوهم الی الله و الی رسوله فمن اقبل منهم فهی حزب الله و حزب رسوله و من ادبر فله امانُ شهرین [1]

د بخښونکي او مهربان خداي په نامه دا لیک دے د خداي د استازي محمد له لوري د رفاعه بن زید لپاره، ما هغه د خپل قوم او د قوم د خواوشا په لور ولیږهٔ چې هغوي د خداي پاک او پیغمبر په لور وبلي نو هر چا چې د هغه بلنه ومنله د خداي او پیغمبر له ګونده به وي او څوک چې له هغه مخ واړوي یوازې دوه میاشتې د امان فرصت لري.

د پیغمبر اکرم (ص) دغه ډول اقداماتو او کړنو ته په پام سره، په دې کښې شک نیشته چې هغه حضرت د بعثت له هماغه پیله د یو مزبوت حکومت د جوړولو په فکر کې ؤ چې د هغه په رڼا کښې د اسلام جامع او نړیوال احکام د بشري ټولنو د ژوند په ټولو اړخونو کښې پلي شي.

ایا دا کارونه یعني له مزبوتو ډلو او قبایلو سره د معاهدو او تړونونو کول د یو مزبوت پوځ بنیاد کیښودل، مختلفو هیوادونو ته د استازو (سفیرانو) لیږل، باچاهانو او واکوالانو ته خبردارے ورکول، ښارونو او نزدې او لیرې سیمو ته د ګورنرانو او

---

[1]. مکاتیب الرسول لومړے ټوک 144 مخ

ښاروالانو لیږل او ټاکل او داسې نور کارونه سیاست نه دے. نو بل څه دي او ایا دا بې له سیاست یعني د ټولنې د چارو له اداره کولو او چلولو پرته بله معنا لري؟
له دي ورتیر د خلفاي راشدینو سنت د مسلمانانو او د امیر المومنین حضرت علي علیه السلام سنت او طریقه د شیعه او سني دواړو ډلو لپاره د هغه د حکومت په وخت له دین سره د سیاست د غږملتیا ښودنه کوي.
د دواړو اسلامي ډلو عالمانو د حکومت او د ټولنې د چارو د چلولو لپاره له کتاب او سنته ډیر دلیلونه راوړي دي چې د نمونې په توګه یې ځینو ته اشاره کوو.
ابو الحسن ماوردي په خپل کتاب (احکام سلطانیه) کښې لیکي:
الامامة موضوعة لخلافة النبوه في حراسة الدین و سیاسة الدنیاو عقدها لمن یقوم بها في الامة واجب بالاجماع. [1]
امامت او حکومت د نبوت د جانشینۍ او تعقیبولو لپاره ټاکل شوے دے چې د دین او سیاست د ساتلو او د دنیا د چارو د چلولو سبب شي او د حکومت جوړول د هغه چا لپاره چې دین قایموي، د مسلمانانو په اجماع او اتفاق سره واجب دي.
دا اسلامي پوهـ چې د اهل سنتو یو مشهور عالم دے د دې معنا د ثابتولو لپاره دوه ډول دلیلونو ته اشاره کوي.

## اول:- عقلي دلیل

[1]. الاحکام السلطانیه (ماوردي) اول باب 5 مخ د مصر لومړے چاپ

دوهم:-شرعي دليل
د عقلي دليل په هکله داسې ليکي:
(لمَا في طباع العقلاء من التسليم لزعيم يمنعهم من التظالم و يفصل بينهم في التنازع و التخاصم و لو لا الولاة لكانوا فوضى مهملين و همجا مضاعين [1]
ځکه چې دا د عاقلانو په فطرت کې ده چې د مشرى (واکوال) پيروي وکړي چې هغوي پر يوه او بل له ظلمه وساتي او د جګړې او اختلاف په وخت هغوي له يو بله جدا کړي او که واکمنان نه وي خلک به خواره واره او ګډ وډ شي او هيڅ د فايدې کار به ونه کړے شي.
او د شرعي دليل په هکله داسې وايي:
و لكن جاء الشرع بتفويض الامور الى وليه في الدين قال الله عزَ و جلَ ؛ياايها الذين امنوا اطيعوا الله و اطيعوا الرسول و اولى الامر منكم؛ ففرض علينا طاعة اولى الامر فينا و هم الائمة المتامرون علينا[2]
خـــو په دين کښې د چارو ولي او مشر ته د کارونو په پريښودلـــو شرعي دليل راغلے دے هلته چې خداي پاک فرمايي ؛اي د ايمان خاوندانو د خداي، د هغه د رسول او د امر د خاوندانو پيروي وکړئ؛ نو خداي تعالي پر مونږ د ولي امر پيروي واجب کړي ده او هغوي زمونږ مشران او واکوالان دي؛

---

1. الاحكام السلطانيه (ماوردي) اول باب 5 مخ د مصر لومړے چاپ
2. الاحكام السلطانيه (ماوردي) اول باب 5 مخ د مصر لومړے چاپ

شیخ صدوق د فضل بن شاذان په حواله روایت لري چې نسبت یې امام علي ابن موسی الرضا (ع) ته ورکړے شوے دے. د دغه اوږد روایت په ضمن کښې د حکومت د جوړولو د ضرورت په هکله د هغه حضرت خبرې هم شته چې ځینو ته یې اشاره کوو

انا لا نجد فرقه من الفرق و لا ملة من الملل بقوا و عاشوا الاَ بقیَم و رئیس لما لابُدَ لهم منه من امر الدین و الدنیا فلم یجز فی حکمة الحکیم ان یترک الخلق لما یعلم انَه لا بدَ لهم منه و لاقوام لهم الا به فیقاتلون به عدوهم و یقسمون به فیئهم و یقیمون به جمعتهم و جماعتهم و یمنع ظالمهم من مظلومهم[1]

مونږ هیڅ امت یا ډله داسې نه وه موندلې چې بې له خپل مشر او واکمنه خپل ژوند او بقاء جاري وساتلے شي. داسې چاروال او مشر چې د دین او دنیا په چارو کښې هغه ته ضرورت دے نو د حکیم خداي له حکمته لیري خبره ده چې خلک له هغه څه چې ورته ضرورت لري او بې له هغه په خپلو پښو نه شي دریدلے، محرومه کړي نو خلک له خپل مشر او واکمن سره له دشمنانو سره جنګیږي او د هغه په حکم ولجې او په جنګ کې نورې لاسته راوړې بریاوې په خپلو کښې تقسیموي او د هغه په حکم د جُمعې او د جماعت لمونځونه کوي او دا حاکم دے چې ظالمان له مظلومانو منعې کوي.

---

1. علل الشرایع باب 182 حدیث 9 ، 253 مخ

البته د ټولو روایتونو تشریح او د بیلا بیلو اسلامي فقیهانو د وینا او فقاهت له نظره په دي لنډ کتاب کښې نه ځایږي او یو مستقل کتاب ته ضرورت لري.

د اسلامي فقهې په پراخه څیړنې سره هم څرګندیږي چې د شرعي قوانینو لویه برخه د یو مزبوت حکومت له جوړولو پرته تحقق نه شي موندلے.

اسلام مونږ جهاد، دفاع، له ظالمه انصاف غوښتلو، د مظلوم ملاتړ، د شرعي حدود او تعزیراتو اجراء او امر بالمعروف او نهي عن المنکر، هغه هم په لویه پیمانه او د یو منظم مالي نظام جوړولو او د اسلامي ټولنې وحدت ساتني ته راغواړي او روښانه ده چې دغه اهداف د یو توانمن نظام او پیاوړي حکومت له جوړولو پرته نه شي عملي کیدے ځکه چې د شرعې حفاظت او د اسلام د حدودو او حیثیت دفاع یو منظم پوځ ته ضرورت لري او داسې پوځ هاله جوړیدے شي چې مونږ د اسلامي ارزښتونو په اساس یو قوي حکومت ولرو.

هم دا راز د فرایضو د اجراء او د ګناهانو د مخنیوي او له ظالمه د مظلوم د حق اخستلو او داسې نورو څیزونو لپاره د حدودو او تعزیراتو اجراء د یو هماهنګ نظام او پیاوړې حکومت له جوړولو پرته امکان نه لري یا د ګډوډۍ او بلوا سبب کیږي.

که څه هم په اسلام کښې د حکومت د جوړولو د ضرورت دلایل یوازې دومره نه دي خو له دغو دلیلونو هم ښه معلومیږي چې نه یوازې دین له سیاسته جدا نه دے بلکې د شرعي د ارزشي نظام په

بنیاد د اسلامي حکومت جوړول یو نه انکار کیدونکے ضرورت او په ټوله نړۍ کښې د اسلامي ټولنې دنده ده.

## دوه ویشتمه پوښتنه

## ولې شيعه، د علي بن ابي طالب بچيانو (امام حسن او امام حسين) ته د رسول الله مبارک بچې وايي؟.

ځواب:

د تاريخ، تفسير او روايتونو کتابونو په جاجونې سره روښانه کيږي چې دا خبره يوازې په شيعه ؤ پورې نه ده مخصوصه، بلکې ويلے شو چې ټول مسلمان محققان د ټولو اسلامي ډلو، په دې مسله د نظر اتفاق لري.

اوس د قران مجيد، احاديثو او د مشهورو مفسرانو د خبرو په استناد د دې مسلې روښانه دليلونه بيانوو.

اصولا قران مجيد د انسان (صلبې) بچيان د هغه اولاد ګڼي هم دا راز هغه کسان چې د هغه له اولاده (لور يا زوې) پيدا شوې وي د هغه بچيان ګڼي.

د کتاب او سنت له نظره د دې حقيقت ډير زيات شواهد موجود دي. چې ځينې يې دا دي.

1: قران مجيد په لاندينې ايت کې حضرت عيسى د حضرت ابراهيم عليه السلام له بچيانو ګڼي. حال دا چې عيسى عليه السلام د بي بي مريم زوے دے او د مور له لارې يې شجره حضرت ابراهيم (ع) ته رسيږي.

((ووَهَبْنَا لَهُ إِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ كُلاًّ هَدَيْنَا وَنُوحاً هَدَيْنَا من قَبْلُ وَمن ذُرِّيَّتِه دَاوُودَ وَسُلَيْمَانَ وَأَيُّوبَ وَيُوسُفَ وَمُوسَى وَهَارُونَ وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ وَزَكَرِيَّا وَيَحْيَى وَعِيسَى [1]

او مونږ ابراهيم عليه السلام ته اسحاق او يعقوب ورکړل او ټول مو نيغې لارې ته هدايت کړل او نوح مو هم له ابراهيمه مخکې او د ابراهيم له بچيانو مو داؤود سليمان او ايوب او يوسف او موسى او هارون هم هدايت کړل او داسې نيکو کارو ته بدله ورکوو او (هم دا راز ابراهيم له اولاده) زکريا يحيى او عيسى.

مسلمانو پوهانو دغه ايت په دې خبره روښانه ګواه ګڼلے دے چې امام حسن او امام حسين د خداې د رسول بچيان او د هغه زوزات دے

د نمونې له پاره يوۀ مورد ته اشاره کوو.

جلال الدين سيوطی نقلوي چې :

ارسل الحجاج الی يحيی بن يعمر فقال :بلغنی انک تزعم ان الحسن و الحسين من ذرية النبی صلی الله عليه و آله وسلم تجده فی کتاب الله و قد قرائته من اوله الی اخره فلم اجده.

قال الست تقرأ سورة الانعام (( و من ذريته داوُود و سليمان )) حتی بلغ (( و يحيی و عيسی)) ؟

قال بلی، قال ا ليـــس عيسی من ذرية ابراهيم و ليس له ابٌ؟ قال

صدقت [1]

---

[1]. د انعام سورت ايت 84 ، 85

یوه ورځ حجاج یحیی بن یعمر راوغوښت او هغه ته یې وویل ما ته راپور رارسیدلے دے چې ته حسن او حسین ته د پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم بچي وایي؟ او دا خبره دې د خداې پاک په کتاب کې لیدلې ده.

حال دا چې ما له سره تر اخره قران مجید لوستے او دا خبره مې پکې نه ده موندلې.

یحیی بن یعمر وویل ایا د انعام سورې دا ایت دې نه ده لوستے چې فرمایي ((و من ذریته داؤد و سلیمان)) تر دې چې فرمایي (( و یحیی و عیسی))؟ وې ویل : ولې نه لوستے مې دے.

یحیی وویل آیا د قران په دې ایت کې حضرت عیسی علیه السلام د ابراهیم علیه السلام ذریت او بچے نه دے ګڼل شوے حال دا چې د هغه پلار نه ؤ (او د مور له لارې ابراهیم علیه السلام ته رسیده)؟

حجاج ځواب ورکړ: ستا خبره صحیح ده.

له دغه ایته او د قران د مفسرانو له خبرو معلومیږي چې نه یوازې شیعه بلکه ټول مسلمان عالمان امام حسن او امام حسین علیهما السلام د رسول الله مبارک بچیان او ذریت ګڼي.

2: د قران یو روښانه ایت چې د دغه وینا په سموالي ګواهي ورکوي په ال عمران سورې کــې د مباهلې ایت دے اوس د دغه ایت نص سره د مفسرانو د خبرو ذکر کوو.

((فَمَنْ حَآجَّكَ فِيهِ مِن بَعْدِ مَا جَاءكَ مِنَ الْعِلْمِ فَقُلْ تَعَالَوْاْ نَدْعُ أَبْنَاءنَا

[1]. در المنثور 3 ټوک 28 مخ د بیروت چاپ د انعام سورې په تفسیر کې

وَأَبْنَاءكُمْ وَنِسَاءنَا وَنِسَاءكُمْ وَأَنفُسَنَا وأَنفُسَكُمْ ثُمَّ نَبْتَهِلْ فَنَجْعَل لَّعْنَةَ اللّهِ عَلَى الْكَاذِبِينَ [1]

نو څوک چې تا سره په دې مسئله کښې د صحیح علم راتلو نه پس هم جګړه (مباهله) کوي نو ورته ووایه چې راځئ چې مونږ خپل زامن راؤبلو او تاسو خپل زامن، مونږ به خپلې ښځې راؤبلو او تاسو خپلې ښځې، مونږ به خپل نفسونه هم راؤبلو او تاسو هم خپل نفسونه موجود کړئ، بیا به الله ته په عاجزۍ سره داسې دعا وکړو چې څوک دروغجن وي په هغوي د الله تعالی لعنت وي.

دا ایت چې د مباهلې په ایت مشهور دے هغه وخت نازل شوے چې د نجران د عیسیانو مشرانو ضد کاوه

چې پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم ورته د مناظرې بلنه ورکړه او رسول الله مبارک د خداي په امر له علي بن ابیطالب، بي بي فاطمه الزهراء، امام حسن او امام حسین علیهم السلام سره د مباهلې له پاره روان شول او کله چې د نصاراوو مشرانو، د پیغمبر او د هغه د اهل بیتو سلوک ولیده نو په خپل ځان وویریدل او د خداي له رسوله یې وغوښتل چې له هغوي سره له مباهلې او نفرین کـــولو ډډه وکړي او هغه حضرت (ص) هم د هغوي وړاندیز ؤمانۀ.

او له هغوي سره د تړون په کولو سره یې دا کیسه ختمه کړه.

شیعه او سني عالمان په دې خبره اتفاق لري چې د مباهلې په ورځ پیغمبر اکرم، علي، فاطمه، حسن او امام حسین علیهم السلام له

---

[1]. د ال عمران سوره ایت شمیر 61

ځان سره بوتللي وو. نو ښه څرګندېږي چې د رسول الله مبارک په وينا کې د (ابناءنا) يعني (زمونږ بچيان) مطلب حسن او حسين دي او په دې توګه روښانيږي چې حسن او حسين په دغه ايت کې د پيغمبر اکرم بچيان بلل شوي دي.

د يادولو ده چې مفسران د مباهلې ايت لاندې د ډيرو روايتونو له نقلولو وروسته، د دې خبرې چې حسن او حسين دلته د پيغمبر د بچيانو په توګه بلل شوي ګواهي ورکوي د نمونې له پاره دلته يو څو ته اشاره کوو.

الف

جلال الدين سيوطي د حاکم اوابن مردويه او ابو نعيم په قول له جابر بن عبدالله داسې روايت کوي. چې ((انفسنا و انفسکم)) رسول الله او علي او ابناءنا الحسن و الحسين او نساءنا فاطمه [1] له انفسنا (زمونږ ځانونه) نه مطلب علي بن ابيطالب دے او ابناءنا (زمونږ بچيان) نه مطلب حسن او حسين او نساءنا (زمونږ ميرمنې) مطلب فاطمه ده

ب:

فخر الدين رازي په خپل تفسير کې د دغه روايت له بيانولو وروسته وايي:

(( واعلم ان هذه الرواية کالمتفق على صحتها بين اهل التفسير و الحديث)) [2]

پوهـ شه چې دا حديث داسې روايت دے چې د تفسير او حديث

---

[1]. در المنثور 2ټوک 39 مخ بيروت چاپ د دغه ايت په باره کې

[2]. تفسير مفاتيح الغيب دوهم ټوک 288 مخ مصر لومړے چاپ 1308هـ

خاوندان د هغه په سموالي د نظر اتفاق لري.
بیا داسې وایي
(( المسألة الرابعة: هذه الایة دالة على ان الحسن و الحسین علیهم السلام کانا ابنی رسول الله وعد ان یدعوا ابناءه فدعا الحسن و الحسین فوجب ان یکون ابنیه)) [1]
څلورمه مساله: دا ایت د دې معنا ګواه دے چې حسن او حسین د پیغمبر اکرم زامن (بچیان) وو ځکه چې په ایت کې راغلي دي چې رسول الله مبارک دې خپل بچي راوغواړي نو حسن او حسین یې له ځان سره بوتلل.
ج:
ابو عبد الله قرطبي هم په خپل تفسیر کې داسې راوړي دي
(( [ ابناءنا ] دلیلٌ على ان ابناء البنات یسمون ابناءا )) [2]
په دغه ایت کې ابناءنا ټکې د دې خبرې ګواه دے چې د انسان د لور بچي هم د هغه خپل بچي حسابیږي.
3: د رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم خبرې په دې خبره روښانه دلیل دے چې امام حسن او امام حسین علیهم السلام د پیغمبر اکرم زامن دي.
دلته د هغه حضرت (ص) د ویناوو ، دوو نمونو ته اشاره کوو
الف: رسول الله د حسن او امام حسین په هکله فرمایي:
((هذان ابنای من احبها فقد احبنی)) [1]

---

[1]. همدغه حواله
[2]. الجامع لاحکام القران 4ټوک 104 مخ بیروت چاپ

حسن او حسین زما دوه بچي دي چا چې له دوي سره مینه وکړه له ما سره یې مینه کړې ده.

ب: هم دا راز پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم حسن او امام حسین ته په اشارې سره وفرمایل:

((ان ابنی هذین ریحانتی من الدنیا)) [2]

دا زما دوا بچیان په دنیا کې زما دوه (خوشبو ګلونه (ریحانه) دي.

---

[1]. تاریخ مدینه دمشق لیک ابن عساکر ترجمه المام الحسین 59 مخ حدیث 106 کال 1400هـ

[2]. تیر مدرک 62 مخ 112 ټوک

## دريږ ويشتمه پوښتنه

## ولې شيعه خلافت تنصيصي (په نص سره) ګڼي؟

ځواب:
روښانه ده چې د اسلام سپڅلی دین یو نړیوال او همیشنی دین دی، تر هغه وخته چې پیغمبر(ص) ژوندی وي د خلکو مشري د هغوي په غاړه وي او د هغوي له وفاته وروسته د امت غوره او تر ټولو ښه کس ته دا مشري ورکړل شي.
په دې کښې چې ایا له پیغمبر(ص) وروسته د مشرۍ او خلافت مقام تنصیصي دی (چې د خدای په امر او د رسول الله مبارک په صراحت سره ټاکل کیږي) او که نه یو انتخابي مقام دی یعنې خلک یې غوره کوي، دوه نظره موجود دي. شیعه عقیده لري چې د رهبرۍ او خلافت مقام یو تنصیصي مقام دی او د پیغمبر(ص) ځای ناستی (خلیفه) باید د خدای لخوا وټاکل شي، حال دا چې اهل سنت عقیده لري چې دا یو انتخابي او د خلکو لخوا غوره کیدونکی مقام دی او باید د پیغمبر(ص) له وفاته وروسته د هیواد د چارو د چلولو لپاره یو کس غوره کړي.

اجتماعي محاسبات د خلافت په تنصیصي والي دلالت کوي.

شيعه عالمانو د خپلو عقايدو په کتابونو کښې د دې لپاره چې لازمه ده د خلافت مقام د خداي په نص او امر سره وټاکل شي ډېر دليلونه بيان کړي دي خو هغه څه چې دلته يې مطرحولے شو د رسالت د وخت د حالاتو او شرائطو تجزيه او تحليل دے چې د شيعه ؤ د عقيدې د صحيح والي ګواهي ورکوي د پيغمبر(ص) په زمانه کښې د اسلام د داخلي او بهرني سياست د جاجونې تقاضا دا وه چې د رسول ځاي ناستے بايد د خداي په وسيله پخپله د پيغمبر(ص) له لارې غوره شي ځکه چې اسلامي ټولنه پرله پسې د يو مثلث له خطرې سره مخامخ وه (د روم سترواکي، د ايران پاچاهي او د منافقانو خطره) او هغوي د اسلام د ختمولو کوششونه کول همداراز د امت د مصلحت غوښتنه وه چې پيغمبر(ص) د سياسي مشر په ګوته کولو سره ټول امت د بهرني دشمن په وړاندې په يو صف کښې ودروي او د دشمن د نفوذ او پر مسلمانانو د هغه د واک موندلو زمينه چې داخلي اختلافات ورسره مرسته کوي له منځه يوسي.

اوس د دې خبرې وضاحت

د دغه خطرناک درې ګونې (مثلث) يو ګوټ د روم سترواکي (امپراطوري) وه دغه لوي طاقت د عربو د ټاپوزمې په شمال کښې پروت ؤ او هميشه به پيغمبر(ص) له دغه لورې انديښمن ؤ او رسول الله مبارک د ژوند تر وروستو سلګو د روم له خـــطرې انديښمن او فکر من ؤ.

د روم له مسیحي پوځ سره د مسلمانانو لومړے پوځي ټکر د هجرت په اتم کال په فلسطین کښې شوے ؤ په دغه ټکر د "جعفر طیار" زید بن حارثه او عبدالله بن رواحه په نومونو د اسلامي پوځ درې تکړه کوماندانان شهیدان شوي وواو مسلمانانو سخته ماته خوړلې وه.

د کفر د لښکر په وړاندې د اسلامي لښکر شاتګ د قیصر پوځ زړور کړے ؤ او هره شیبه دا ویره وه چې هغوي په اسلامي مرکز برید وکړي له دې امله د خداي پیغمبر(ص) د هجرت په نهم کال له لوي او قیمتي لښکر سره د شام د خواوشا په لور وخوځید چې په خپله د هر ډول پوځي ټکر مشري وکړي په دغه سفر کښې چې ډیرې سختۍ او مشکلات یې لرل د اسلام پوځیان وتوانیدل خپل تیر حیثیت بحال او سیاسي ژوند تازه کړي دغه ښې کامیابۍ د خداي رسول قانع نه کړ او له خپلې ناروغۍ څو وروځې مخکښې یې د اسلام لښکر د اسامه په کوماندانۍ مامور کړ چې د شام څنډو ته لاړ شي او په میدان جنګ کښې پاتې شي.

د دشمن دوهم ګوټ (زاویه) د ایران باچاهي وه. تر دې چې د ایران باچا خسرو په سخته غوسه د پیغمبر(ص) لیک وشلوه او د اسلام استازے یې په سپکاوي سره وشاړۀ او د یمن ګورنر ته یې ولیـــــکل چې پیغمبر(ص) ونیسي او که ځان نه ورکوي نو وې وژني.

که څه هم د ایران باچا خسرو پرویز د پیغمبر(ص) په زمانه کښې مړ شو خو د یمن د سیمې ازادي، چې ډېره موده د ایران د حکومت

ښکیلاک مینه پاتې شوې وه د ایران د خسروانو له سترګو لیرې نه وو او د هغوي کبر او غرور هیڅکله د یمن د خپلواکۍ اجازه نه ورکوله.

دریم خطر د منافقانو د ډلې خطر ؤ چې پرله پسې د پینځمې ستنې په توګه په مسلمانانو کښې د نفاق په پیدا کولو او په ورانۍ لګیا وو تر دې چې د پیغمبر(ص) د وژلو اراده یې وکړه او وې غوښتل چې هغه حضرت(ص) مدینې ته د تبوک په لاره کښې ترور کړي، ځینو به له ځان سره زمزمه کوله چې د خداي د رسول په مرګ سره به اسلامي غورځنګ ختم شي او ټول به په ارام شو.[1]

د منافقانو د خرابۍ طاقت دومره زیات ؤ چې خداي تعالیٰ د قرآن په ال عمران، نساء، مایده، انفال، توبه، عنکبوت، احزاب، محمد ، فتح، مجادله، حدید ، منافقین او حشر سورتونو کښې د هغه یادونه کړې ده.[2]

آیا د داسې مزبوتو دشمنانو په شتون کښې چې اسلام ته په کمین کښې ناست وو صحیح وه چې پیغمبر(ص) د نوې جوړې شوې اسلامي ټولنې لپاره د دیني او سیاسي مشرۍ لپاره کوم مشر ونه ټاکي؟

اجتماعي او سیاسي محاسبات وایي چې پیغمبر(ص) باید د مشر او خپل ځاي ناستي په ټاکلو سره له ځانه وروسته د هر ډول اختلاف د جوړیدو مخه ونیسي او د یو مزبوت او کلک دفاعي

---

[1]. طور، **30**

[2]. له (فروغ ابدیت) لیک استاد جعفر سبحانی څخه اقتباس

خط (کربښې) په جوړولو سره اسلامي وحدت بیمه کړي د هر ډول بدې او ناوړه پیښې مخنیوے او د دې خبرې مخنیوے چې د پیغمبر(ص) له وفاته وروسته هره یوه ډله ووایي چې باید امیر او مشر له مونږ وي یا بې له دې چې پیغمبر(ص) پخپله خپل ځاي ناستے او د مسلمانانو مشر وټاکي په بل څه سره ممکنه نه وه.

دا اجتماعي محاسبات مونږ له پیغمبره وروسته د مشرۍ او خلافت د مقام د تنصیصي والي د نظر یې سموالي او مزبوتوالي ته هدایتوي.

د خداي د رسول د نصوصو ګواهي

د دغه اجتماعي زمینې او اړخونو او دلایلو له امله رسول الله مبارک د بعثت له لومړیو ورځو د خپل عمر تر پایے پورې د جانشینۍ مسئله مطرح کړه او خپل ځاي ناستے یې هم د پیغمبرۍ په پیل کښې په هغو مراسمو او بلنه کښې چې خپلو خپلوانو ته د خپل نبوت د ښکاره کولو لپاره یې برابره کړې وه. او هم د خپل عمر په اخره کښې له حجة الوداع د ستنیدو په وخت په غدیر خم کښې ، او په خپل ژوند کښې ټاکلے او په ګوته کړے ؤ چې د دغو نصوصو درې نمونې مو د دوهم لمبر پوښتنې په ځواب کښې د اسلامي عالمانو او محدثانو له کتابونو په اسنادو او مدارکو سره ذکر کړي. د اسلام په لومړیو وختونو کښې اجتماعي شرائطو ته په پام او د خپل ځاي ناستي په توګه د امیرالمؤمنین (علی) د ټاکلو په هکله د رسول الله مبارک نصوصو ته په اشارې سره ښه

معلومیږي چې د خلافت د مقام د تنصیصي والي مسئله یوه ضروري مسئله ده.

# څلورویشتمه پوښتنه

## آیا بې له خدایه د بل چا قسم خوړل شرک دے؟

ځواب:
د توحید او شرک د اصطلاحاتو تفسیر باید د قرآن په ایتونو او سنت کښې ولټوو ځکه چې قرآن مجید او د رسول الله مبارک سنت له باطله د حقو او له شرکه د توحید د پیژندلو تر ټولو ښه معیار دے.
په دې بنیاد غوره ده چې هر فکر او کړچار د بیدار ضمیر په وړاندې او د وحي د منطق او د پیغمبر(ص) د ژوند د طریقې او سنتو په پارسنګ سره وجاجوو.
اوس د دې خبرې لپاره چې بې له خدایه د بل چا په نامه قسم خوړل جایز دي خپل روښانه دلیلونه له قرآن او سنته رواړو.

1.قرآن مجید په خپلو تل پاتې ایتونو کښې ځاي په ځاي په ځینې عزتمنو خلقتونو لکه "د رسول الله مبارک په ځان" د "انسان په روح، قلم، چې د لیکلو سمبول دے، لمر، سپوږمۍ، ستوري، شپه او ورځ، اسمان، او ځمکې، وخت، غرونو او
سمندر قسم خوړلې دے چې دلته یې ځینې ایتونو ته اشاره کوو:
الف: لَعَمرُكَ إِنّهُم لَفی سُکرَتِهِم یَعمَهون.[1]

[1]. د حجر سورة 72 آیت

اي پيغمبره ستا په ځان قسم هغوي په مستئ (خپلو نفساني خواهشاتو) کښې لالهانده دي.

ب: "وَالشّمسِ وَضحٰيها، والقَمَرِ إذا تليها، والنّهارِ إذا جلّيٰها وَاللّيْلِ إِذَا يَغْشَيهَا والسّماء وَ ما بَنيٰها، والارضِ و ما طحيٰها و نَفسٍ و مَا سوّيٰها فاَلهَمَهَا فُجُورَها و تَقويٰها..."[1]

قسم په نمر او د هغه په وړانګو، او قسم په مياشته کله چې له لمره وروسته بهر راوځي، او قسم په ورځ کله چې نړۍ رڼا کړي او قسم په شپه کله چې په نړۍ توره پرده وغړوي، او قسم په اسمان او هغه چا چې اسمان يې هسک وګرځاوهٔ ، او قسم په ځمکه او هغه چا چې هغه يې پراخه کړه او قسم په ځان (انسان) او هغه چا چې هغه يې په غو ره شکل پيدا کړ او هغه ته يې نيک او بد وښودل.

ج: وَالنَجمِ إذَا هَوىٰ.[2]

قسم په ستوري کله چې راکوز شي.

د: ن وَ القَلَمِ وَ مَا يَسطُرُون.[3]

قسم په قلم او هغه څه چې ليکي.

هـ: وَالعَصرِ إنّ الانسانَ لَفِى خُسر[4]

قسم په زمانه انسان په تاوان کښې دے.

و: والفَجر وَ ليالٍ عَشر[1]

---

[1]. د شمس سورة 1- 8 آيت

[2]. د نجم سورة 1 آيت

[3]. د قلم سورة 1 آيت

[4].د عصر سورة 1، 2 آيت.

قسم په سهار ( څرک) او لسو شپو.
ذ:(وَالطُّورِ)(وكتَابٍ مَّسْطُورٍ)(فِى رَقٍّ مَّنشُورٍ)(وَالْبَيْتِ الْمَعْمُورِ)
(وَالسَّقْفِ الْمَرْفُوعِ)(وَالْبَحْرِ الْمَسْجُورِ).[2]
قسم د طور سینا په غرۀ، قسم په لیکلي شوي کتاب (قرآن) په منشورې صحیفې کښې قسم په بیت معمور (ودان کور) قسم په هسک شوي چت او قسم په ځپانده سمندر.
همداراز په نازعات، مرسلات، بروج، طارق، بلد، تین او ضحی سورتونو کښې د پنځون په نښو او سمبلونو قسم خوړل شوے دے.
په دې کښې شک نیشته چې که بې له خدایه په بل چا قسم خوړل د شرک او دوګانه پرستۍ سبب ګرځیدے قرآن مجید به چې د توحید او یو خداي منلو تل پاتې منشور دے دا کار نه کاو، او که فرض کړو داسې قسمونه یوازې له خداي سره مخصوص وو (یعنې صرف خداي داسې قسمونه خوړلے شي نه نور څوک) نو باید د قرآن په آیتونو کښې د دې خبرې یادونه شوې وے چې غلطي نه رامنځته کیدے.
2: د نړۍ ټول مسلمانان رسول الله مبارک خپله اسوه او بیلګه ګڼي او د هغه حضرت(ص) د ژوند رودې سنتو او عمـــل ته له غلطو د صحیح کارونو د معلومولو او تشخیص د معیار په سترګه ګوري.

---

1. فجر 1، 2 آیت.
2. د طور سورة 1، 6 آیت

مسلمانو محققانو او د صحاحو او مسندونو لیکوالو ډېر داسې روایتونه ذکر کړي دي چې په هغوي کښې رسول الله مبارک یې له خدایه په نورو ځیزونو قسمونه خوړلي دي.
د حنبلي مذهب مشر احمد بن حنبل په خپل مسند کښې له رسول الله مبارک داسې روایت کړي:
فَلَعُمرِی لَإن تَکَلّمَ بِمعروفٍ وتَنهیٰ عَن مُنکَرٍ خیرٌ مِن أن تَسکُت.[1]
زما په خپل ځان قسم که امر بالمعروف او نهي عن المنکر وکړې تر دې بهتره ده چې غلے کښېنې.
مسلم بن حجاج په خپل صحیح کښې چې له شپږو صحیحینو یو صحیح دے لیکلي دي:
"جاءَ رَجُلٌ الی النّبیّ (ص) فَقَالَ یا رَسول الله ای الصدقة اَعظَمُ أجراً؟ فقالَ : أما و أبِیکَ لتُنَبأَنّهُ أن تَصدق و أنت صحیح شحیح تخشی الفقر و تأمل البقاء..."[2]
یو کس له پیغمبر اکرمه (ص) پوښتنه وکړه د کومې صدقے جزا ډیره لویه ده پیغمبر اکرم وفرمایل د ستا په پلار مې دې قسم وي چې ته به د هغې صدقے نه خبر شې او هغه دا چې انسان د روغتیا په حالت کې له فقر یَرې او د بقاء په امید سره صدقه ورکړي.
ایا هغه کسان چې د نړۍ د مسلمـــــانانو یوه لویه ډله ده یوازې په

---

[1]. مسند احمد ، پینځم ټوک، 224- 225مخونه، حدیث بشیر بن خصاصیه سدوسی
[2]. صحیح مسلم، دریم ټوک مصر چاپ کتاب الزکوة باب بیان ان افضل الصدقة، صدقة الصحیح الشحیح 93 – 94 مخونه.

غیر خدا باندې د قسم خوړلو له امله مشرک ګڼي نو پیغمبر اکرم (چې د یو سړي په پلار یې قسم وخوړ) دا څرګنده عمل به دوي څرنګه توجیهوي.
3. د خداي د کتاب او د پیغمبر(ص) له سنتو ورتېره د پیغمبر(ص) د نږدې یارانو او اصحابو کړچار هم له خدایه پرته په بل چا د قسم خوړلو د جایزوالي ښودنه کوي. حضرت علی (ع)په خپلو ډېرو قیمتي ویناوو کښې په خپل ځان او روح سوګند خوړلے دے هلته چې فرمایي:
وَلَعَمری لَیَضعَفَنّ لَکُم التّیه مِن بعدی اَضعافاً.[1]
زما په خپل ځان (روح) قسم له ما وروسته به ستاسو لالهاندي (سرګرداني) څو چنده شي.
او په یوهٔ بل ځاي کښې فرمایي:
وَ لَعَمری لاِن لَم تَنزَع عَن غیّك وَ شِقاقِكَ لَتَعرِفَنّهُم عَن قَلیلٍ یطلبونَك.[2]
په خپل ځان (روح) مې قسم که له خپلې ګمراهۍ او سخت زړه والي لاس وانه خلې هغوي به وپیژنې چې ستا په لټه کښې دي.[3]
څرګنده ده چې د دغو دومره روایتونو او نصونو په وړاندې هیڅ

---

[1]. نهج البلاغه (محمد عبده) خطبه **161**.
[2]. نهج البلاغه (محمد عبده) نهم لیک.
[3]. د نورو موردونو او معلوماتو لپاره د نهج البلاغې **168**، **182** او **187** خطبو او **6**، **54** لیکونو ته مراجعه وکړئ.

اجتهاد یا استحسان مقابله نه شي کولے او بل هیڅ دلیل، په قرآن مجید کښې د خداي تعالیٰ کړچار، د رسول الله مبارک سنت او د هغه حضرت(ص) د نزدې یارانو لکه امیر المؤمنین علی (ع) سیرت غلط وګڼي او هغوي په شرک او د دوو خدایانو په منلو تورن کړي.

نتیجه:

له دغو دلیلونو ښه معلومیږي چې د خداي د کتاب د پیغمبر(ص) د سنت او د مؤمنانو په سیرت کښې بې له خدایه په بل چا قسم خوړل روا دي او له توحید او یکتا پرستۍ سره تضاد نه لري.

نو که د یو دلیل ظاهر له دې مسئلې سره چې په قطعي دلیلونو مو ثابته کړه مخالف وي باید په دې ډول توجیه او تاویل شي چې د قرآن او روایتونو له دې مسلم اصل سره ټکر ونه خوري او سمون ولري. په دې مسئلې کښې کله کله یو مبهم روایت ته اشاره کیږي چې دلته یې نص ذکر کوو او ځواب یې هم بیانوو.

"إنّ رَسولُ الله سمعَ عمر و هو یقول: وَ أبی، فقالَ إنّ الله یَنهاکم أن تَحلفوا بِأبائِکُم و من کان حالفاً فَلیَحلف بالله او یَسکت.[1]

رسول الله مبارک واوریدل چې عمر په خپل پلار قسم ؤخواړه پیغمبر(ص) وفرمایل: خداي تعالیٰ تاسو په خپلو پلارانو له قسمه منعې کړي یئ څوک چې قسم خوري په خدا دې قسم وخوري یا دې غلې کښیني.

[1]. سنن کبری لسم ټوک 29مخ او سنن نسایی اوم ټوک څلورم او پینځم مخونه.

که څه هم دا حدیث د قرآن د آیتونو او روایتونو په وړاندې چې بې له خدایه په بل چا قسم خوړل جایز ګڼي دلیل او مهم نه شي کیدلے او مقابله نه شي کولے خو که وغواړو چې دغه حدیث له نورو حدیثونو سره جمع کړو او سمون ورکړو نو ویلے شو چې د پیغمبر(ص) لخوا په خپل پلار له قسم خوړلو د عمر منعې کول یا دهغه په شان د نورو کسانو منعې کول له دې امله دي چې د هغوی پلار نیکونه بت پالي او مشرکان وو او کافر او بت پالے انسان دومره وړتیا او لیاقت نه لري چې قسم پرې وخوړل شي او په قسم کښې یې نوم راوړل شي.

## پینځه ویشتمه پوښتنه

# آیا د خداي تعالیٰ په ولیانو پورې توسل کول شرک دے او د بدعت سبب کیږي؟

ځواب:

د توسل معنی دا ده چې مونږ یو مهم او لوي مخلوق (انسان وغیره) خداي ته د نزدیکت لپاره د ځان او خداي تر مینځ وسیله وګرځوو او د هغه په وسیله او سفارش سره خداي ته د نزدې کیدو هڅه وکړو.

ابن منظور لسان العرب کښې وایي:

تَوَسّلُ الیهِ بکذا ، تقرب الیه بحرمة آصرة تعطفه علیه[1]

پلانکي، مخلوق (څیز) سره هغه ته متوسل شو یعنی د هغه د احترام او مقام په وسیله (چې نظر یې جلبوي) هغه ته نزدې شو.

قرآن مجید فرمايي:

(يَا اَيُّهَا الّذِينَ آمَنُواْ اتّقُواْ اللّهَ وَابْتَغُواْ إِلَيهِ الْوَسِيلَةَ وَجَاهِدُواْ فِى سَبِيلِهِ لَعَلّكُمْ تُفْلِحُونَ).[2]

ای مؤمنانو پرهیزګاره شئ او د لوي خداي په لور وسیله ولټوئ او د هغه په لاره کښې مبارزه وکړئ ښايي پرهیزګاره شئ.

جوهري په (صحاح اللغه) کښې د "وسیلې" تعریف داسې کوي:

---

1. لسان العرب یوولسم ټوک 724مخ.

2. مائده 35 آیت.

اَلوَسِیلۃُ ما یَتَقَرّبُ بِہِ الی الغیر
وسیله هغه څیز ته وایي چې د هغه په ذریعه مونږ بل چا ته ځان نزدې کړو.
په دې اساس هغه ارزښناک مخلوق او څیز چې مونږ یې وسیله ګرځوو کله خو د خداي تعالیٰ خالصانه عبادت او نیک عملونه دي چې د یوې مزبوتې وسیلې په توګه مونږ خداي ته نزدې کوي او کله هم دغه وسیله یو عزتمن انسان وي چې د لوي خداي په نزد ځانګړے مقام او درنښت لري.

## د توسل ډولونه

توسل په درې ډوله تقسیمولے شو.
1. په نیکو عملونو سره توسل، لکه څنګه چې جلال الدین سیوطی د "وأبتَغوا الیه الوسیلۃُ" ایت لاندې دا روایت راوړے دے.
عن قتاده فی قوله تعالیٰ "وأبتَغوا الیه الوسیلۃُ" قال: تقربوا الی اللہ بطاعته والعمل بما یرضیه.
قتاده د وأبتَغوا الیه الوسیلۃُ د ایت په هــــکله وایي د خداي په اطاعت او داسې عمل سره چې د خداي د خوښۍ او رضا سبب ګرځي له پاک رب سره نزدې شي.
2. د غوره او ښو بندګانو په دعا سره توسل لکه چې قرآن مجید د یوسف د ورونړو له خولې داسې روایت کوي:

(قَالُواْ يَا أَبَانَا اسْتَغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا إِنَّا كُنَّا خَاطِئِينَ)(قَالَ سَوْفَ أَسْتَغْفِرُ لَكُمْ رَبِّيَ إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ).[1]

د یعقوب بچیانو خپل پلار ته وویل: اي پلاره له لوي خداي زمونږ د ګناهانو بخښنه وغواړه چې مونږ په غلطه وو (یعقوب) وویل: ډیر زر به له پروردګاره ستاسو لپاره بخښنه وغواړم په تحقیق سره چې هغه ډیر بخښونکے مهربان دے.

له دغه ایته ښه معلومیږي چې د یعقوب علیه السلام زامن د خپل پلار د دعا او استغفار سره رب ته متوسل شول او هغه یې د خپلې بخښنې وسیله وګڼله او حضرت یعقوب (ع) نه یوازې د هغوي په توسل اعتراض ونه کړ بلکې هغوي ته یې د دعا او استغفار وعده هم ورکړه.

3. د عزتمندو او معنوي شخصیتونو په ذریعه توسل چې د خداي په نزد لوي مقام او ځانګړے درنښت او عزت لري او دا توسل هم خداي تعالیٰ ته د نزدې کیدو لپاره وي.

دغه ډول توسل هم د اسلام په لومړیو وختونو کښې د منلو وړ او د اصحابو یوه روده وه.

اوس د رسول الله مبارک د اصحابو او د اسلام د لویو شخصیتونو د روایتونو او عمل په رڼا کښې د دې مسئلې جاج اخلو.

1. احمد بن حنبل په خپل مسند کــــښې له عثمان بن حنیف څخه داسې روایت کړې:

[1]. د یوسف سورة 97ـ 98 ایت.

إنّ رَجُلاً ضَریرالبَصر أتى النَبیّ صلى اللهُ علیه وَآله وَسَلّم فَقالَ : اَدعُ اللهَ أن یُعافینی، قال: إن شئتَ دعوتُ وَ إن شئتَ أخَرّتُ ذاکَ فهو خیرٌ، فقال: أدعُه، فَأمرَهُ أن یتوضأ فیَحسنَ وضوئه فَیصلی رکعتین و یدعو بهذا الدعاء اللّهُمّ إنّی أسئَلُك وَ أتوجَهُ الیك بنبیّكَ محمد نبی الرحمة یا محمدُ إنّی تَوَجَهتُ بكَ الى ربّی فی حاجتی هٰذه فَتقضیٰ لی اللّهُمّ شَفّعهُ فِیّ.[1]

یو ړوند سړي رسول الله مبارک ته راغی او ویې ویل: له خدایه دعا وغواړه چې ما معاف کړي پیغمبر(ص) وفرمایل: که زړه دې وغواړي اوس به دعا وکړم او که غواړې وروسته ته به یې پریږدم او دا به غوره وي، ړوند سړي عرض وکړ: دعا وکړه، د خداي رسول هغه ته حکم ورکړ چې اودس وکړه او په اودس کښې ښه او غوره کار واخله بیا دوه رکعته لمونځ وکړه او دا دعا وکړه: اي ربه زه له تا غواړم او د رحمت د پیغمبر محمد په وسیله تا ته مخ دراړوم (درځم) اي محمده زه په خپل حاجت کښې ستا په وسیله خپل رب ته متوجې کیږم چې زما حاجت پوره کړې اي خدایه! هغه زما شفیع وګرځوه.

[1]. مسند احمد بن حنبل ځلورم ټوک **138**مخ د عثمان بن حنیف د روایتونو برخه، مستدرک حاکم لومړی ټوک کتاب الصلوة التطوع بیروت چاپ **313**مخ، سنن ابن ماجه لومړی ټوک **441**مخ چاپ داراحیاء الکتاب العربیه، التاج لومړی ټوک **286**مخ، الجامع الصغیر (سیوطی) **59**مخ، التوسل والوسیله (ابن تیمیه) **98**مخ بیروت چاپ.

محدثان د دغه حديث په سموالي يو نظر لري په دې ډول چې حاکم نيشابوري په مستدرک کښې د دغه حديث له نقلولو وروسته هغه يو صحيح حديث ګڼلے دے او ابن ماجه هم د ابو اسحاق له خلې وايي (دا يو صحيح روايت دے) او ترمذي په (ابواب الادعيه) کتاب کښې د دغه روايت صحيح والے تاييدوي او محمدنسيب الرفاعی هم په "التّوصل الی حقيقة التوسل" کتاب کښې د دې په هکله ليکي:

لا شَك ان هذ الحديث صحيحٌ و مشهورٌ... و قد ثَبتَ فيه بلا شك و لاريبٍ ارتداد بصر الاعمیٰ بدعاء رسول اللہ صلی اللہُ عليه و آله و سلم له.[1]

په دې کښې څه شک نيشته چې دا حديث صحيح او مشهور دے او په دغه روايت کښې ثابته شوې ده چې د رسول اللہ مبارک په دعا سره د هغه نابينا سړي نظر ستون شو. له دغه روايته ښه معلوميږي چې د رسول اللہ مبارک په وسيله د کوم حاجت د پوره کولو لپاره په هغوي پورې توسل جايز دے بلکې د خداي رسول هغه سړي ته امر وکړ چې په دا ډول دعا وکړي او د خداي او ځان تر مينځ پيغمبر(ص) وسيله وګرځوي او د هغوي په مخ له خدايه وغواړي چې حاجت يې پوره کړي، او دا معنا هماغه د خداي په پيغمبرانو وليانو او د خداي په نازولو پورې توسل کول دي.

2. ابو عبداللہ بخاري په خپل صحيح کښې وايي:

[1]. التوصل الی حقيقة التوسل **158**مخ لومړے چاپ بيروت.

أنّ عمَر بن الخطاب رَضى الله عنهُ كانَ إذا قحطوا استسقىٰ بالعباس بن عبدالمطلب فقال: اللهُمّ إنّا كُنّا نَتَوَسّلُ إليكَ بِنَبِيّنا فَتستَقِينا و انا نَتَوَسلُ إليك بِعَمّ نَبِينا فاسقنا قال فَيَسقون.[1]

كله چې به وچكالي وه عمر بن خطاب به د عباس بن عبدالمطلب (د پيغمبر تره) په وسيله باران غوښته ويل به يې: اي خدايه! د پيغمبر(ص) په ژوند كښې به په هغوي پورې متوسل كيدو او تا به پر مونږ د رحمت باران راورولو اوس د پيغمبر(ص) د تره په وسيله تا ته متوسل كيږو چې مونږ خړوب كړې، او خړوب به شو.

3. د خداي تعالىٰ له وليانو سره توسل دومره دود او عام ؤ چې د اسلام د لومړيو وختونو مسلمانانو هم په خپلو اشعارو كښې پيغمبر(ص) د ځان او خداي تر مينځ وسيله بللې ده او بلله به يې.

سواد بن قارب د پيغمبر(ص) لپاره يوه قصيده وويله او دهغه په بيتونو كښې يې داسې وويل:

وَ أشهَدُ أنّ لارَبّ غيرَهُ ‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌ وَ أنّك مامون على كل غالب
و انك ادنى المرسلين وسيله ‌‌‌‌‌‌‌ الى الله يابن الاكرمين الاطائب[2]

ګواهي وركوم چې بې له خدايه بل پروردګار نيشته او ته د هرې سيمې او ښكاره چارې امين يې او ګواهي وركوم چې ته _ اي د پاكو او درنو كسانو بچيه په نورو پيغمبرانو كښې د خداي په لور

---

[1]. صحيح بخارى 2ټوک كتاب الجمعه، باب الاستسقاء 27 مخ مصر چاپ.

[2]. الدراسيه (سيد احمد بن زيني دحلان) 29 مخ، د طبرانى په نقل سره.

تر ټولو نزدې وسیله یې.
شافعي هم دوه بیتونه لري چې دغه حقیقت ته پکښې اشاره کوي:

آل الـنَـبیّ ذَرِیعَتی　　هــم الــیه وســیلتی
ارجوبِهم اعطیٰ غداً　　بیدی الیمین صحیفتی[1]

د پیغمبر(ص) کورنۍ د خداي په لور زما وسیله دي او هیله من یم چې د هغوي په خاطر زما عمل نامه ماته په ښي لاس راکړل شي.
که څه هم په الهی اولیاؤ پورې د توسل په هکله پریمانه روایتونه موجود دي خو دا کوم روایتونه مو چې ذکر کړل د دوي په رڼا کښې هم د توسل جایزوالے او د پیغمبر(ص) د سنتو او د اصحابو او د اسلام د لویو شخصیتونو لخوا د هغه ښه والے ثابتیږي او د خبرې د اوږدولو ضرورت نیشته.
په دې بیان سره د هغو کسانو خبره غلطه ثابتیږي چې د خداي په درګاه کښې توسل شرک او بدعت ګڼي.

---

[1]. الصواعق المحرقه (ابن حجر عسقلانی) **178**مخ، قاهره چاپ.

## شپږويشتمه پوښتنه

# آيا د خداي د وليانو د کليزې لمانځل بدعت يا شرک دے؟

ځواب:

د خداي د غوره بندګانو او اولياوو د ياد درنښت د هغوي د ميلادونو او د زوکړې د کليزو د لمانځلو او جشنونو جوړولو په شان د عقل منو له نظره يوه ښکاره مسئله کښې د هر ډول شک او شبهې د ليرې کولو لپاره د هغو د مشروعيت او رواوالي دليلونه راوړو.

1. د دستورو جوړول د مينې څرګندول دي.

قرآن مجيد مسلمانان له پيغمبر(ص) او د هغه له اهل بيتو سره مينې ته رابللي دي هلته چې فرمايي:

"قُل لا أسئَلُکُم عَلَيهِ اَجراً إلاّ المودةَ فی القُربیٰ."[1]

(اي پيغمبره) ووايه زه له تاسو د دغه تبليغ په مقابل کښې بې له دې چې زما له اهلبيتو سره مينه وکړئ بل څه بدله نه غواړم.

په دې کښې شک نيشته چې د الهی اولياوو د درنښت د مراسمو

---

[1]. د شوریٰ سورة 23 آيت

او دستورو جوړول له هغوي سره د خلکو د مينې او محبت د ښکاره کولو يوه نښه او وسيله ده چې د قرآن له نظره منل شوې ده.

2. د دستورو جوړول د پيغمبر(ص) درنښت دے.
قرآن مجيد له رسول الله مبارک سره په مرستې سربېره د هغه حضرت(ص) د مقام او منزلت درناوے هم د کاميابۍ او نيکمرغۍ معيار ګڼي.
"فَالذِينَ آمنوا بِهِ عزّروهُ و نَصَروهُ و اتّبعوا النورَ الذِی اُنزِلَ مَعَهُ اولئكَ هُم المُفلِحون"[1]
هغه کسان چې په پيغمبر(ص) يې ايمان راوړ او د هغه درنښت يې وکړ او مرسته يې ورسره وکړه او له هغه رڼا يې چې په هغوي نازله شوه پيروي وکړه، کامياب (ژغورل شوي) دي"
له دغه آيته ښه معلومېږي چې د اسلام له نظره د رسول الله مبارک درنښت او لمانځل ښه او خوښ کار دے او د داسې دستوره او جشن جوړول چې د پيغمبر(ص) ياد او د هغه حضرت(ص) د لوي مقام درنښت وکړي خداي تعالیٰ پرې رضا کيږي ځکه چې په دغه آيت کښې د ژغورل شويو (کاميابو) کسانو لپاره څلور صفتونه بيان شوي دي.
الف: ايمان، "الذِينَ آمَنوا بِهِ" هغه کسان چې په هغه يې ايمان راوړ.

---

[1]. د اعراف سورة 157 آيت.

ب: "د هغه د نور پیروي" "وابتَغوا النور الذّي اَنزَلَ مَعَهُ" له هغه رڼا چې په هغه نازله شوې پیروي وکړي.
ج: د هغه مرسته کول، "و نَصَروهُ" د هغه مرسته یې وکړه.
د: د پیغمبر(ص) د مقام درنښت او تعظیم کول، "وعَزّروهُ" د هغه درنښت یې وکړ.
په دې اساس په پیغمبر(ص) پر ایمان او ورسره په مرستې او د اوامرو پر پیروۍ سربیره د هغه د مقام او شان درنښت او احترام هم ضروري دے او د پیغمبر(ص) د یاد درنښت د "وَ عَزّروهُ" مصداق دے.

3. د مراسمو جوړول د پروردګار پیروي او متابعت دے.
خداي تعالیٰ په قرآن مجید کښې د پیغمبر(ص) درنښت کوي او فرمايي: "وَ رَفَعنَا لَكَ ذِكرَكَ"[1] او ستا ذکر او نوم مو په نړۍ کښې لوړ کړ.
د دغه آیت شریف په رڼا کښې معلومیږي چې خداي تعالیٰ غواړي د پیغمبر(ص) عظمت سترتوب په نړۍ کښې پراخ شي او پخپله یې هم د قرآن په ایتونو کښې د رسول الله مبارک درنښت او صفت کړے دے.
مونږ هم د اسماني الهی کتاب په پیروۍ سره د برمناک مراسمو او د یادښت د دستورو په جوړولو سره د کمال او فضیلت د اسوې د

[1]. د انشراح سورة 4 ایت.

لوړ مقام درنښت کوو او له دې لارې د خپل پروردګار متابعت او پیروي څرګندو.
روښانه ده چې له دغو مراسمو د مسلمانانو بې د پیغمبر(ص) د نوم او شان د لوړاوي او د هغوي له درنښت بل مقصد نیشته.

## 4. د وحي نزول د مائدې تر نزوله کم نه دے

قرآن مجید د خداي د پیغمبر حضرت عیسی(ع) له خولې داسې روایت کوي:

قَالَ عِیسی ابنَ مَریَمَ اللّهمّ رَبّنا أنزِل عَلینا مائدة منَ السّمآء تَکُونُ لَنا عِیداً لاوّلِنا وَ آخِرِنا وَ آیَةً منكَ وارزُقنا وأنتَ خَیرُ الرّازِقِین.[1]

"عیسی ابن مریم عرض وکړ: اي خدایه، زما پرودګاره! له آسمانه یوه مائده (خواړهٔ) راولیږه چې زمونږ د ټولو لپاره اختر وي او ستا لخوا یوه نښه او مونږ ته روزي کړه بیشکه چې تر ټولو غوره روزي ورکوونکے یې"

حضرت عیسی له خدایه غواړي چې له اسمانه هغوي ته خواړه راولیږي او هغه د خوړو د نازلیدو په ورځ اختر (عید) وکړي.

اوس پوښتنه دا ده چې که قدرمن پیغمبر په هغه ورځ چې اسماني خواړه، چې د انسان د بدن د خوند اخستلو لپاره دي، نازل شول اختر کوي نو که اوس مسلمانان د خداي د وحي د نازلیدو په ورځ یا د رسول الله مبارک د زوکړې د کلیزې په ورځ چې د انسان د

[1]. د مائده سورة **114** ایت.

ژغورونکے او انساني ټولنو ته ژوند بخښونکے دے، جشن او اختر وکړي آیا دا به شرک او بدعت وي؟

## 5. د مسلمانانو سیرت (روده)

د اسلام پیروان له پخوا راهسې د پیغمبر(ص) د یاد د درنښت لپاره د عید میلاد النبي او داسې نورو ورځو د خوشحالۍ مراسم جوړوي.

حسین بن محمد دیار بکري په تاریخ الخمیس کښې داسې لیکي:
"وَلایَزَالُ أهلَ الاِسلام یَحتفلونَ بشهر مولده علیه السلام و یعملون الولائم و یتصدقون فی لیالیه بأنواعِ الصّدقاتِ و یظهرون السرور و یزیدون فی المبرات و یعتنون بقراءة مولده الکریم و یظهر علیهم من برکاته کل فَضلٍ عمیم.[1]

د نړۍ مسلمانان همیشه د پیغمبر(ص) د زوکړې په ورځ جشن کوي او ولیمه (ډوډۍ) ورکوي او د هغې میاشتې په شپو کې صدقې ورکوي او خوشحالۍ کوي او ډول ډول نیکۍ کوي او د هغه حضرت د میلاد یادونه کوي او د هغه پراخ رحمتونه او برکتونه په ټولو نازلیږي.

په دې بیان سره د قرآن او د مسلمانانو د سیرت له نظره د خداي د ولیانو د یاد د درنښت او لمانځنې د جایز والي کلي حکم لاسته راځي او په دې طریقې سره د هغو کسانو د خبرو دروغ والے او

[1]. حسین بن محمد حسن دیار بکر، تاریخ الخمیس بیروت چاپ 223مخ.

غلطوالے روښانيږي چې د خداي د وليانو او نزدې کسانو د ياد لمانځل بدعت ګڼي ځکه چې بدعت دا دے چې په کلي يا خصوصي توګه يې له قرآن او سنته د جايزوالي او مشروعيت حکم لاسته رانه شي حال دا چې د دغه مسئلې کلي حکم ښه په ډاګه د قرآن له آيتونو او د مسلمانانو د سيرت او رودې لاسته راځي.

بله دا چې دغه ډول مراسم يوازې د خداي د غوره بندګانو د درنښت او د هغوي د احترام او درناوي لپاره او په دې عقيدې سره چې هغوي د خداي بندګان دي او خداي ته محتاج دي تر سره کيږي. په دې اساس دغه کار له توحيد او يو خداي منلو سره بالکل برابر دے نو څرګنده شوه چې هغه کسان چې د خداي د وليانو د ياد درنښت د مراسمو دستورو جوړول بدعت او شرک ګڼي د هغوي خبره غلطه او باطله ده.

# اوویشتمه پوښتنه

## ولې شیعه پینځه لمونځونه په دریو وختونو کښې کوي؟

ځواب:
اول د بحث د واضحولو لپاره غوره ګڼو چې په دې مسئله کښې د فقیهانو نظر څرګند کړو.
1. ټولې اسلامي ډلې په دې خبره د نظر اتفاق لري چې په "عرفې" کښې د ماسپښین او مازیګر لمونځونه یو ځای د ماسپښین په وخت او بې له فاصلې ادا کیدلے شي او په مزدلفه کښې هم جایزه ده چې د ماښام او ماسخوتن لمونځونه په یو ځای وشي.
2. حنفیان وایي چې په یوه وخت د ماسپښین او مازیګر لمونځونو او د ماښام او ماسخوتن د لمونځونو کول یوازې په همدغو دوو ځایونو یعنې عرفې او مزدلفې کښې روا دي او په نورو ځایونو کښې نه دي جائز.
3. حنبلیان وایي د ماسپښین او مازیګر د لمونځونو او د ماښام او ماسخوتن د لمونځونو یوځای کول په دغو دوو موردونو سربېره په سفر کښې هم جائز دي ځینې مسلکونه په اضطراري حالتونو کښې لکه د باران په وخت یا که لمـــونځ کوونکې ناروغ

وي يا په جنګ کښې د دوو لمونځونو په يوځاي کول جائز ګڼي.[1]

4. د شیعه ؤ دا عقیده ده چې د ماسپښین او مازیګر او د ماښام او ماسخوتن لمونځونو یو خاص وخت لري او یو مشترک:

الف: د ماسپښین د لمانځه خاص وخت د شرعي ظهر (د لمر د زوال) له وخته دے تر هغه وخته پورې چې څلور رکعته لمونځ پکښې وکړے شي. په دغه محدود وخت کښې یوازې د ظهر (ماسپښین) لمونځ کیدے شي.

ب: د مازیګر د لمانځه خاص وخت هغه وخت دے چې له هغې شیبې د لمر پریوتلو تر وخته صرف د مازیګر د څلورو رکعتونو د کولو فرصت وي.

ج: د ماسپښین او مازیګر د لمونځونو مشترک وخت د ماسپښین لمانځه د خاص وخت له ختمیدو د مازیګر د لمانځه د خاص وخت تر شروع کیدو پورې دے. د شیعه ؤو عقیده دا ده چې په دغه ټول مشترک وخت کښې د ماسپښین او مازیګر لمونځونه دواړه له یو بل سره یو ځاي او بې له فاصلې کولے شو خو د اهل سنتو عقیده دا ده چې د ماسپښین د شرعي وخت (زوال) له پیله تر هغه وخته پورې چې د هر یوۀ څیز سیورے د هغه په خپله اندازه اوږد شي دغه وخت د ماسپښین په لمانځه پورې محدود دے او په دغه موده کښې د مازیګر لمونځ نه کیږي او له هغه وروسته تر ماښامه پورې د مازیګر د لمانځه وخت دے او په دغه وخت کښې د

[1]. اقتباس له "الفقه على المذاهب الاربعه" كتاب الصلوة، الجمع بين الصلاتين تقديماً و تأخيراً

ماسپښین لمونځ نه شي کیدلے.
د: د ماښام د لمانځه خاص وخت د شیعه ؤ له نظره د شرعي ماښام (مغرب) له پیله تر هغه وخته پورې دے چې درې رکعته لمونځ ادا کړے شي او په دغه محدود وخت کښې یوازې د ماښام لمونځ ادا کیدلے شي.
هـ: د ماسخوتن د لمانځه خاص وخت هغه دے چې له هغه شیبې تر د نیمې شپې پورې یوازې د ماسخوتن د لمانځه د کولو فرصت باقي وي او یوازې د ماښخوتن لمونځ پکښې وکړے شي.
و: د ماښام او ماسخوتن د لمونځونو مشترک (ګډ) وخت د ماښام د لمانځه د خاص وخت له ختمیدو وروسته د ماسخوتن د لمانځه د خاص وخت تر پیلیدو دے.
شیعه عقیده لري چې په دغه ګډ (مشترک) وخت کښې د ماښام او ماسخوتن لمونځونه په یو ځاي او په یو بل پسې بلافاصله کولے شو. خو اهل سنت وایي چې د ماښام له لومړي وخته د ماښام د شفق د ختمیدو تر وخته پورې دا د ماښام د لمانځه خاص وخت دے او په دغه وخت کښې د ماسخوتن لمونځ نه شو کولے او د ماښام د شفق د ختمیدو له وخته تر د شرعي نیمې شپې پورې د ماسخوتن د لمانځه وخت دے او په دغه وخت کښې د ماسخوتن لمونځ نه شو کولے.
نتیجه دا چې:
د شیعه ؤ د نظریې مطابق د ماسپښین د شرعي وخت له رسیدلو وروسته کولې شو د ماسپښین لمونځ وکړو او ورپسې سملاسي د

مازیگر لمونځ وکړو یا دا چې د ماسپښین لمونځ د مازیگر د لمانځه د مخصوص وخت تر پیلیدو پورې وځنډوو په دې ډول چې د ماسپښین لمونځ د مازیگر د لمانځه د خاص وخت له رارسیدلو مخکښې وکړو او بیا د مازیگر لمونځ ادا کاندو او په دې طریقې د ماسپښین او مازیگر لمونځونه یوځای وکړو که څه هم مستحبه ده چې د ماسپښین لمونځ له زواله وروسته او د مازیگر لمونځ هغه وخت چې د هر یو څیز سیورے د هغه په اندازه اوږد شي، وکړو.

همداراز کولے شو د شرعي ماښام د رارسیدو په وخت د ماښام لمونځ وکړو او سملاسي ورپسې د ماسخوتن لمونځ ادا کړو یا د ماښام لمونځ د ماسخوتن د لمانځه تر خاص وخته پورې وځنډوو په دې ډول چې د ماښام لمونځ د ماسخوتن د شرعي وخت له پیلیدو مخکښې وکړو او بیا ورپسې د ماسخوتن لمونځ وکاندو او په دې ډول د ماښام او ماسخوتن لمونځونه یوځای کړو که څه هم مستحبه ده د ماښام لمونځ د شرعي ماښام له پیلیدو وروسته او د ماسخوتن لمونځ له مغربه د شفق له ختمیدو وروسته وکړو.

دا د شیعه ؤ نظریه وه خو اهلسنت د ماسپښین او مازیگر د لمونځونو یا د ماښام او ماسخوتن د لمونځونو یوځای کول په مطلق ډول او په هر ځای او هر وخت کښې جائز نه گڼي. نو بحث هر ځای او هر مکان کښې د دوو لمونځونو په یو ځای کولو کښې دے په دې ډول چې هر یو لمونځ د هغه په خپل وخت کښې ادا شي لکه په عَرَفې او مُزدلفې کښې د دوو لمونځونو په یو ځای کول.

5. ټول مسلمانان په دې مسئلې کښې یو نظر لري چې رسول الله مبارک دوه لمونځونه په یوهٔ ځاي وکړل خو د دغه روایت په تفسیر کښې دوه نظره موجود دي

الف: شیعه وايي: مطلب دا دے چې د ماسپښین د لمانځه په لومړیو وختونو کښې د ماسپښین د لمانځه له کولو وروسته د مازیګر لمونځ کولے شي او همداراز د ماښام د لمانځه په لومړیو وختونو کښې د ماښام د لمانځه له کولو وروسته د ماسخوتن لمونځ کولے شې او دا مسئله په کوم خاص وخت او خاص ځاي پورې نه ده محدوده بلکې په هر ځاي کښې دا کار کولے شې او جائز دے.

ب: نور وايي چې د روایت مقصد دا دے چې د ماسپښین لمونځ د هغه په وروستي وخت کښې او د مازیګر لمونځ د هغه په لومړي وخت کښې ادا شي او همدغه شان د ماښام لمونځ د هغه په وروستي وخت او د ماسخوتن لمونځ د هغه په لومړي وخت کښې ادا شي او په دې ډول د ماسپښین او مازیګر لمونځونه په یو وخت او د ماښام او ماسخوتن په یو وخت وشي.

اوس د مسئلې د روښانولو لپاره په دې برخه کښې راغلي روایتونه څیړو او ثابتوو چې په دغه روایت کښې د جمع یعنې په یو ځاي د دوو لمونځونو کولو مطلب هماغه دے چې شیعه یې وايي، یعنې دوه لمونځونه هر یو په خپل خپل وخت کښې نه دا چې یو د هغه په وروستي وخت کښې او بل د هغه په لومړي وخت کښې ادا شي.

اوس روایتونه

1. د حنبلیه فرقې مشر احمد بن حنبل په خپل مسند کښې له جابر بن زیده داسې روایتوي:

أخبَرَنی جَابِر بن زید أنّهُ سَمع ابن عباس یقول: صلیتُ مع رسول الله صلی اللهُ علیه (وآله) وسلم ثمانیاً جَمِیعاً و سبعًا جمیعاً قال قلتُ لهُ یا أبا الشعثاء أظُنّهُ آخِر الظهرِ و عَجّلَ العصر و اخر المغرب و عجّل العشاء قال و انا اظنّ ذلكَ.[1]

جابر بن زید وايي له ابن عباسه مې واوریدل چې ویل یې له پیغمبر(ص) سره مو اته رکعته (د ماسپښین او مازیګر) په یو ځاي او اووۀ رکعته (د ماښام او ماسخوتن) په یو ځاي وکړل، وايي: ابوالشعثاء ته مې وویل فکر کوم رسول الله مبارک د ماسپښین لمونځ وځنډاوۀ او د مازیګر لمونځ یې زر وکړ او همداراز د ماښام لمونځ یې وځنډاوۀ(ناوخته) کړ او د ماسخوتن لمونځ یې زر وکړ (ابو شعثاء) وویل: زه همداسې فکر کوم.

له دغه روایته معلومیږي چې رسول الله مبارک د ماسپښین او ماځیګر لمونځونه او د ماښام او ماسخوتن لمونځونه په یو ځاي کړي دي او په منځ کښې یې وقفه نه ده ورکړې.

2. احمد بن حنبل له عبدالله بن شقیقه هم د دغه روایت یادونه کړې:

---

[1]. مسند احمد بن حنبل لومړے ټوک 221مخ.

"خَطَبنا ابن عباس يَوماً بعدالعصرِ حتى غربت الشمس و بدت النجوم و علق الناس ينادونه الصلوة و فى القوم رجلُ من بنى تميم فجعل يقول: الصلوة الصلوة: قال فغضب قال أتَعلّمنى بالسنة؟ شهدتُ رسول الله صلى الله عليه (وآله) و سلّم جمع بين الظهر والعصر والمغرب والعشاء قال عبدالله فوجدت فى نفسى من ذلك شيئاً فَلَقَيتُ أبا حريره فَسألتُهُ فوافقهُ.[1]

ابن عباس د مازيګر د لمانځه وروسته مونږ ته وينا وکړه تر دې چې لمر پريوته او ستوري ښکاره شول او خلکو د لمانځه غږ وکړ او په دې منځ کښې د بنی تميم د قبيلې يو کس د لمانځه کلمه (لفظ) تکرار کړ، (يعنى بيا بيا يې وويل چې الصلوة) ابن عباس غوسه شو او وې ويل: آيا ته غواړې د پيغمبر(ص) سنت ماته روانښيې؟ زه شاهد او کتوونکے وم چې رسول الله مبارک د ماسپښين او مازيګر لمونځونه او د ماښام او ماسخوتن لمونځونه په يو ځاي وکړل. عبدالله وايي ماته په دې مسئله کښې شک پيدا شو نو له ابو هريره سره په يوځ ملاقات کښې مې له هغځ په دې هکله پوښتنه وکړه او هغه د ابن عباس خبره تاييد کړه.

په دې حديث کې دوو صحابيانو (عبدالله بن عباس) او (ابو هريره) په دې حقيقت ګواهي ورکړې ده چې پيغمبر اکرم (ص) د ماسپښين او مازيګر او همدا شان د ماښام او ماسخوتن لمونځونه په يو ځاي (جمع) ادا کړي دي او ابن عباس هم د پيغمبر د عمل پيروي کړے دے.

---

[1]. مسند احمد لومړے ټوک 251مخ.

3. د مالکیه فرقې مشر مالک بن انس په مؤطا کښې داسې لیکي:
صلی رسول الله (ص) الظهر والعصر جمیعاً والمغرب والعشاء جمیعاً فی غیر خوفٍ وَلا سَفَر[1]
رسول الله مبارک د ماسپښین او مازیګر لمونځونه په یو ځاي او د ماښام او ماسخوتن لمونځونه په یو ځاي کول بې له دې چې له دشمنه کومه ویره وي یا په سفر کښې وي.
4. مالک بن انس له معاذ بن جبل داسې روایت کوي.
"فکان رسول الله یجمعُ بینَ الظهرِ والعصر، والمغرب والعشاء"[2]
رسول الله مبارک د ماسپښین او مازیګر لمونځونه او د ماښام او ماسخوتن لمونځونه په یو ځاي کول.
5. مالک بن انس له نافعه او هغه له عبدالله بن عمره داسې روایت کوي:
کَانَ رَسولُ الله إذا عَجّلَ به السیرُ یَجمَعُ بین المَغربِ والعِشاء[3]
کله به چې پیغمبر(ص) د یو سفر لپاره بیړه لرله نو د ماښام او ماسخوتن لمونځونه به یې په یو وخت کول.
6. مالک بن انس له ابوهریره داسې روایتوي:
إنّ رسولُ الله صلی الله علیه (وآله) وسلم کان یجمـعُ بین الظـــــهر

[1]. موطأ مالک کتاب الصلوة بیروت دریم چاپ **125**مخ **178**حدیث، صحیح مسلم **2**ټوک **151**مخ بیروت چاپ باب الجمع بین الصلواتین فی الحضر.
[2]. موطأ مالك، کتاب الصلوة، **134**مخ **176**حدیث بیروت چاپ دریم **1403**هـ کال صحیح مسلم مصر چاپ **2**جزء **152**مخ.
[3]. موطأ مالک کتاب الصلوة بیروت چاپ (دریم) **125**مخ **177** حدیث.

والعصر فی سفره الی تبوك.[1]

پيغمبر(ص) د تبوک په لاره کښې د ماسپښين او مازيګر لمونځونه په يو ځاي کول.

7. مالک په موطأ کښې له نافع داسې روايت کوي:

إنّ عبدالله بن عمر کان إذا جمع الامراء بين المغرب والعشاء فی المطر جمع معهم.[2]

کله به چې اميرانو (شتمنو) په باران کښې د ماښام او ماسخوتن لمونځونه په يو ځاي کول عبدالله بن عمر هم دواړه لمونځونه په يو ځاي کول.

8. مالک بن انس د علي بن حسين له قوله ليکی:

"کان رسول الله صلی الله عليه (وآله) وسلم إذا اراد ان يسر يومه جمع بين الظهر والعصر و إذا اراد ان يسير ليله جمع بين المغرب والعشاء.[3]

کله به چې پيغمبر(ص) د ورځې د سفر اراده لرله د ماسپښين او مازيګر لمونځونه به يې په يو ځاي کول او کله به يې چې غوښتل د شپې سفر وکړي د ماښام او ماسخوتن لمونځونه به يې په ګډه کول.

9. محمد زرقانی په شرح موطأ کښې له ابی شعثا داسې روايت کوي:

---

1. موطأ مالک کتاب الصلوة **126**مخ، **175**حديث.

2. تېر سند **125**مخ، **179**حديث.

3. تېر سند **125**مخ **181**حديث.

"إنّ ابن عباس صلى بالبصرة الظهر والعصر ليس بينهما شيئً والمغرب والعشاء ليس بينهما شيئً.[1]

عبدالله بن عباس د بصرې په ښار کښې د ماسپښين او مازيګر لمونځونه يوځاي وکړل په دا ډول چې د دواړو تر مينځ به فاصله نه وه او د ماښام او ماسخوتن لمونځونه يې هم يوځاي وکړل په دې ډول چې د دواړو تر مينځ هيڅ فاصله نه وه.

10. زرقاني له طبراني او هغه له ابن مسعوده نقل کړي ده چې:

"جمعَ النبيّ صلى الله عليه (واله) وسلم بين الظهر والعصر و بين المـــغرب والعشاء فقيـــل له في ذلك، فقال: صنعتُ هذا لئلاّ تحرج أُمّتي.[2]

پيغمبر(صلى الله عليه و اله) د ماسپښين او مازيګر لمونځونه يو ځاي وکړل او د ماښام او ماسخوتن لمونځونه يې هم په يو ځاي وکړل په دې هکله له هغوي پوښتنه وشوه، وې فرمايل: د دې لپاره چې زما امت په سختۍ کښې پرې نه وزي.

11. مسلم بن حجاج، ابو زبير او له سعيد بن جبير او له ابن عباس روايت کوي:

صلىّ رسول الله صلى الله عليه (واله) وسلم، الظهر والعصر جمعاً بالمدينة في غير خوف و لا سفرٍ.[3]

---

[1]. شرح زرقاني بر موطأ مالک مصر چاپ اول جز باب "الجمع بين الصلاتين في الحضر والسفر **294** مخ.

[2]. تېر سند **294**مخ.

[3]. صحيح مسلم، دوهم جز مصر چاپ **151**مخ، باب الجمع بين الصلاتين في الحضر.

پیغمبر(ص) په مدینه منوره کښې بې له دې چې له دشمنه خطره ولري او یا په سفر کښې وي د ماسپښین او مازیګر لمونځونه په یو ځای وکړل.
بیا ابن عباس له دغه کاره د پیغمبر(ص) د مقصد په هکله وایي: د دې لپاره چې غوښتل یې د هغه حضرت(ص) د اُمت یو کس هم په سختۍ او زحمت کښې پرې نه وزي.[1]
12. مسلم په خپل صحیح کښې له سعید بن جبیر او هغه له ابن عباسه روایتوي چې ویلي یې دي:
"جمع رسول الله صلی الله علیه (واله) وسلم بین الظـــهر والعصر، المغرب والعشاء فی المدینة من غیر خوف و لا مطرِ[2]
رسول الله مبارک په مدینه کښې د ماسپښین او مازیګر او د ماښام او ماسخوتن لمونځونه په یو ځای وکړل بې له دې چې کومه ویره یا باران موجود وي.
بیا سعید بن جبیر وایي له ابن عباسه مې وپوښتل ولې رسول الله مبارک دغه کار وکړ؟ ابن عباس وویل: د دې لپاره چې نه یې غوښتل خپل امت په زحمت او کړاو کې ووینې.[3]
13. ابو عبدالله بخاري د "باب التاخیر الظهر الی العصر" په نامه یو خاص باب، دې مسئلې ته مخصوص کړے دے[1] چې پخپله دا نوم په دې خبره ښکاره ګـــواه دے چې د ماسپښین لمونځ ځنډولے

[1]. تیر سند د دې حدیث په اړه.
[2]. تیر سند 152مخ.
[3]. تیر سند 152 مخ د همدې حدیث په هکله.

او د مازیګر په وخت دواړه لمونځونه په یو ځاي کولے شو بخاري په دغه باب کښې دا روایت بیانوي:

"إنّ النبیّ صلی الله علیه (واله) وسلم صلیّ بالمدینة سبعاً وَ ثمانِیاً، الظهر والعصر، والمغرب والعشاء.[2]

پیغمبر اکرم(صلی الله علیه و اله) اووه رکعته (د ماښام او ماسخوتن لمونځ) او اته رکعته (ماسپښین او مازیګر) په مدینه کښې په یو ځاي وکړل.

له دغه روایته ښه معلومیږي چې نه یوازې دا جایزه ده چې د ماسپښین لمونځ وځنډول او له مازیګر سره یو ځاي وکړے شي بلکې د سیاق په قرینې سره د دې خبرې استفاده هم کیږي چې د پیغمبر(ص) په پیروۍ سره د ماښام لمونځ هم ځنډولے او د ماسخوتن د لمانځه په وخت یې ادا کولے شو.

14. بخاري د صحیح په یو بل ځاي کښې وایي:

"قالَ ابن عمر و ابو ایوب و ابن عباس رضی الله عنهم، صلی النبیّ صلی الله علیه (واله) وسلم المغرب والعشاء.[3]

عبد الله بن عمر او ابو ایوب او ابن عباس ویلی دي چې پیغمبر(ص) دوه لمونځونه ماښام او ماسخوتن په یو ځاي وکړل،

---

[1]. صحیح بخاری لومړے جز 110مخ کتاب الصلوة باب "تاخیر الظهر الی العصر" مصر چاپ نسخه امیریه، 1314هـ.

[2]. تیر سند

[3]. صحیح بخاري اوله برخه کتاب الصلوة باب ذکر العشاء 113مخ مصر چاپ 1314هـ کال.

بخاري غواړي له دغه روایته دا استفاده وکړي چې پیغمبر(ص) د ماښام او ماسخوتن لمونځونه په یو ځاي وکړل که نه دا خو معلومه ده چې پیغمبر(ص) بې لمانځه نه ؤ.

15 . مسلم بن حجاج په خپل صحیح کښې داسې لیکي.

قالَ رَجُلٌ لابن عباس، الصلوة فسکت ثم قال الصلوة فسکت ثم قال الصلوة فسکت ثم قال: لا ام لك أتَعَلّمنا بالصلوة و کُنّا نجمع بین الصلاتین علی عهد رسول صلی الله علیه (واله) وسلم.[1]

یو سړي ابن عباس ته وویل: لمونځ، هغه څه ونه ویل، بیا یې وویل لمونځ، ابن عباس غلے پاتې شو، بیا یې وویل لمونځ هغه ځواب ورنه کړ، په څلورم ځل یې وویل لمونځ، ابن عباس وویل: مور دې خداي واخله، ته مونږ ته لمونځ رازده کوې؟ حال دا چې مونږ له پیغمبر(ص) سره دوه لمونځونه یوځاي کول او دوړاه لمونځونه به مو په یو ځاي ادا کول.

16: د مسلم روایت دے:

إنّ رسول الله صلی الله علیه (واله) وسلم، جمع بین الصلوة فی سفرة سافرها فی غزوة تبوك فجمع بین الظهر والعصر، والمغرب والعشاء، قال سعید: فقلتُ لابن عباس ما حمله علی ذلك؟ قال اراد ان لایحرج أُمّتهُ.[2]

پیغمبر(ص) د تبوک غزا په سفر کښې دوه لمونځونه په یو ځاي وکړل او د ماسپښین او مازیګر لمونځونه او د ماښام او

---

[1]. صحیح مسلم دوهم جزء 153مخ با الجمع بین الصلاتین فی الحضر.

[2]. صحیح مسلم دوهم جزء 151مخ مصر چاپ.

ماسخوتن لمونځونه يې په يو ځاي وکړل سعيد بن جبير وايي: له ابن عباسه مې د دې د سبب پوښتنه وکړه؟ ويې ويل پيغمبر(ص) غوښتل چې امت يې په کړاو او سختۍ کښې پرې نه وزي.

17. مسلم بن حجاج د معاذ له خولې داسې حکايت کوي:

"خَرَجنا مع رسول صلى الله عليه (واله) وسلم فى غزوة تبوك فكان يصلىّ الظهر والعصر جمعاً والمغرب والعشاء جمعاً.[1]

له پيغمبر اکرم (ص) سره د تبوک د غزا لپاره ووتلو، پيغمبر(ص) د ماسپښين او مازيګر لمونځونه په يوځاي کول او د ماښام او ماسخوتن لمونځونه يې هم په يو ځاي تر سره کول.

18. مالک بن انس په موطأ کتاب کښې ليکي:

عن ابن شهاب أنّهُ سأل سالم بن عبدالله هل يجمع بين الظهر والعصر فى السفر؟ فقال نعم لاباس بذلك؟ الم تر الى صلاة الناس بعرفة؟[2]

ابن شهاب له سالم بن عبدالله پوښتنه وکړه آيا په سفر کښې د ماسپښين او مازيګر لمونځونه په يوځاي کولے شو؟ ويې ويل: هو باک نه لري آيا په عرفې (عرفات) کښې دې د خلکو لمونځ نه دے کتلے.

يو ځل بيا يادونه کوو چې د ټولو مسلمانانو په نزد جايزه ده چې د عرفې او عرفات په ورځ د ماسپښين او مازيګر لمونځونه په يو ځاي وشي او دواړه د ماسپښين په وخت او يو بل پسې سملاسي

[1]. تير سند 152مخ.

[2]. موطأ مالک بيروت دريم چاپ 125مخ 180حديث.

کوي. دلته سالم بن عبدالله وايي: هماغه ډول چې په عرفې کښې خلک دواړه لمونځونه په يو ځاي کوي له عرفې بغير په نورو ځايونو کښې هم د هغو يو ځاي کول روا دي.

19. متقي هندي په کنز العمال کتاب کښې ليکي:

قالَ عبدالله: جمع لنا رسول الله مقيماً غير مسافر بين الظهر والعصر، والمغرب والعشاء، فقال رجلٌ لابنِ عمر: لم ترى النبيُ (ص) فعل ذلكَ؟ قال: لان لايحرج اُمّتهُ ان جمع رجلٌ.[1]

عبدالله بن عمر وايي رسول الله مبارک په داسې حال کښې چې په حضر کښې او ساکن ؤ او د سفر په حال کښې نه ؤ د ماسپښين او مازيګر او د ماښام او ماسخوتن لمونځونه يې په يو ځاي وکړل. نو يو کس له ابن عمر نه پوښتنه وکړه ولې پيغمبر(ص) دغه کار وکړ؟ ځواب يې ورکړ د دې لپاره چې خپل امت په کړاو او زحمت کښې پرې نه باسي که څوک وغواړي چې دوه لمونځونه په يو ځاي وکړي.

20. همداراز په کنز العمال کښې لولو:

"عَن جابر أنّ النبی صلی الله علیه (واله) وسلم جمع بين الظهر والعصر بأذان و اقامتين[2]

جابر بن عبدالله وايي پيــــغمبر(ص) د مـــــاسپښين او مازيګر

[1]. کنز العمال کتاب الصلات الباب الرابع فی الصلاة المسافر، باب جمع، 8ټوک 246مخ په حلب کښې لومړے چاپ 1391هـ کال.

[2]. کنز العمال کتاب الصلوة، الباب الرابع فی صلوة المسافر، باب جمع 8ټوک 248مخ لومړے چاپ (حلب)

لمونځونه په یو ځاي وکړل په دوو اقامتونو او یو اذان سره.

21. په کنز العمال کښې د دغه ایت یادونه شوې ده:

"عَن جابر أنّ رسول الله صلی الله علیه (واله) وسلم غربت له الشمس بمکة فجمع بینهما [1]بسرف.[2]

جابر بن عبدالله وایي: په داسې حال کښې چې پیغمبر(ص) په مکه کښې ؤ لمر پریوته او که چې "سرف" سیمې ته ورسید د ماښام او ماسخوتن لمونځونه یې په یو ځاي وکړل"

په کنز العمال کښې له ابن عباسه داسې راغلي دي:

"جمعَ رسول الله صلی الله علیه (واله) وسلم بین الظهر والعصر، والمغرب والعشاء بالمدینة فی غیر سفر و لا مطرٍ، قال: قلتُ لابنِ عباس لم تراه فعل ذلك؟ قال اراد التوسعة علی امته[3]

پیغمبر(ص) په مدینې کښې د ماسپښین او مازیګر لمونځونه او د ماښام او ماسخوتن لمونځونه په یو ځاي وکړل بې له دې چې په سفر کښې وي یا باران وریږي راوي وایي: له ابن عباسه مې وپوښتل ولې پیغمبر(ص) دوه لمونځونه په یو ځاي وکړل؟ ابن عباس ځواب راکړ: ځکه چې پیغمبر(ص) غوښتل د خپل امت په عمل کښې اساني او راحتي راولي.

---

1. سرف د مکې په نهه کلومیټرۍ کښې یوه سیمه ده (کنز العمال د دغه حدیث نه لاندې راوړي ده).

2. تېر سند

3. کنز العمال کتاب الصلوة، الباب الرابع، باب جمع 8ټوک.

**نتیجه:**

اوس د دغو روایتونو په رڼا کښې د هغو روښانه دلیلونو یوه نتیجه او راغونډونه کوو چې د شیعه ؤ له نظره د دوو لمونځونو په یو ځاي د کولو د تفسیر په صحیح والي ګواهي ورکوي.

1. په یوه وخت د دوو لمونځونو کول د چارو د اسانتیا لپاره او د کړاو او زحمت د مخنیوي لپاره:

ډېر روایتونه په دې خبره ګواهي ورکوي چې که د ماسپښین او مازیګر د لمونځونه او د ماښام او ماسخوتن د لمونځونو په یو ځاي کول جایز نه وي د مسلمانانو په چارو کښې د کړاو او زحمت سبب کیږي نو پیغمبر(ص) د مسلمانانو په چارو کښې د یو ډول د اسانتیا او راحتۍ د راوستلو لپاره په یو ځاي د دوو لمونځونو کول جایز کړل په دې هکله لسم، شپاړسم، نولسم او دوه ویشتم حدیثونو ته مراجعه وکړئ.

څرګنده ده چې که د دغو روایتونو مقصد دا وي چې که د ماسپښین او مازیګر لمونځونه د هغه اخري وخت (یعنې هغه وخت ته نزدې چې د هر څیز سیورے د هغه په اندازه شي) د اهل سنتو په نزد ځنډول کیدے شي او د مازیګر لمونځ د هغه د وخت په پیل کښې کیدے شي په دې ډول چې دواړه لمونځونه یو ځاي او په عین حال کښې په خپل خپل وخت کښې وشي. دا کار نه یوازې د اسانتیا او راحتۍ سبب کیږي نه بلکې د لا ډېر کړاو او سختۍ سبب دے حال دا چې د دواړو لمونځونو په یو ځاي د ادا کولو مقصد په چارو کښې اسانتیا او راحتي ده. په دې بیان سره

معلومیږي چې مقصد دا دے چې دواړه لمونځونه د هغه په ټول مشترک وخت کښې لکه د وخت په پیل کښې یا په پاي کښې ادا کیدے شي نه دا چې یو لمونځ د هغه په اخر وخت کښې او بل لمونځ د هغه په لومړي وخت کښې ادا شي.

2. په عَرَفې کښې د دواړو لمونځونو یو ځاي کول د هغو د یو ځاي کولو د طریقې ښودنه کوي.

ټولو اسلامي ډلو په عرفې کښې په یو وخت د ماسپښین او مازیګر د لمونځونو یو ځاي کول جایز ګڼلي دي[1] له بل پلوه ځینې روایتونه په دې معنا ګواهي ورکوي چې په نورو ځایونو کښې د دوو لمونځونو یو ځاي کول هم په دغه (عرفې) طریقې دي او له دې نظره د عرفې یا غیر عرفې د ورځې یا د عرفې او غیر عرفې په ځمکه فرق نه کوي په دې هکله اتلسم حدیث ته مراجعه وکړئ.

په دې اساس لکه څرنګه چې په عرفې کښې د ټولو مسلمانانو په اتفاق نظر د ماسپښین او مازیګر لمونځونه په یو ځاي د ماسپښین په وخت کښې کولے شو هم دا شان په غیر عرفې کښې یې هم په دې ډول یو ځاي کول جایز دي.

3. په سفر کښې د دوو لمونځونو تر مینځ د یو ځاي کولو طریقه، د دوو لمونځونو د جمع (یوځاي کولو) د کیفیت بیانوونکې ده.

له بل پلوه حنبلي، مالکي، او شافعي فقیهانو په سفر کښې د دوو لمونځونو یو ځاي کول جائز ګڼلي دي او له بلې خوا ذکر شوي

---

[1]. الفقه على المذاهب الاربعه، كتاب الصلاة، الجمع بين الصلاتين، تقديماً و تأخيراً.

روايتونه جوتوي چې په دې زمينه کښې په سفر او حضر کښې څه فرق نيشته او پيغمبر(ص) به هم په سفر او هم حضر کښې دوه لمونځونه په يو ځاي کول.

په دې مورد کښې دريم، يولسم، ديارلسم، نولسم او يوويشتم روايتونو ته مراجعه وکړئ په دې اساس لکه څرنګه چې په سفر کښې د دوو لمونځونو په يو ځاي کول (هماغه ډول چې شيعه يې وايي) جائز دي په حضر کښې هم جائز دي.

4. د اضطرار په حالت کښې د دوو لمونځونو په يو ځاي د کولو طريقه د اختيار په حالت کښې د هغو د يو ځاي کولو د طريقې بيانوونکې ده.

د صحاح او مسانيدو ډېر روايتونه په دې خبره ګواه دي چې پيغمبر(ص) او د هغه حضرت(ص) اصحابو په اضطراري موقعو کښې لکه د باران، له دښمنه د ويرې او يا د ناروغۍ په حالت کښې دواړه لمونځونه، لکه څنګه چې شيعه وايي په يو ځاي او يو وخت کول نو ځکه د اسلامي فقهو ډېرو فقيهانو په ځينو اضطراري حالتونو کښې په يوه ځاي د دواړو لمونځونو کولو اجازت ورکړے دے حال دا چې لومړي روايتونه جوتوي چې له دې نظره هم د اضطرار په حالت او د اختيار په حالت کښې څه فرق نيشته او پيغمبر(ص) له باران او ويرې پرته په نورو موقعو هم دوه لمونځونه په يو ځاي کول په دې هکله دريم، يوولسم، دولسم، او دوه ويشتمو روايتونو ته پام وکړئ.

5. د پیغمبر(ص) د اصحابو طریقه د دوو لمونځونو د یو ځای کولو د کیفیت ښوونکې ده په نوموړو روایتونو کښې دې ټکي ته متوجې کیږو چې د پیغمبر(ص) ډیرو اصحابو دوه لمونځونه په یو ځای او یو وخت کول. لکه عبدالله بن عباس د ماښام لمونځ دومره وځنډاوه چې فضا تیاره شوه او د اسمان ستوري ښکاره شول او نورو چې به هر څومره وویل چې لمونځ، لمونځ، هغوي به توجه نه کوله او اخر یې د شپې د یوې برخې له تېریدو وروسته د ماښام او ماسخوتن لمونځونه په یو ځای وکړل او د اعتراض کوونکو په ځواب کښې یې وویل زه شاهد او ناظر وم چې د خدای رسول هم داسې لمونځ وکړ او ابوهریره هم د ابن عباس خبره تاییده کړه. په دې هکله دوهم، اووم، نهم او پینځلسم حدیثونو ته مراجعه وکړئ.

د دغو روایتونو په رڼا کښې هیڅ شک نه پاتې کیږي چې ابن عباس په هغه طریقې سره چې شیعه پرې عقیده لري دواړه لمونځونه له هغو د یوۀ په وخت کښې ادا کړل.

له یوویشتم حدیثـــه ښه معلومیږي چې پیغمبر(ص) د ماښام په وخت لا په مکه کښې ؤ او د ماښام لمونځ یې وځنډاوۀ تر دې چې په "سرف" سیمه کښې یې چې د مکې په نهه کلومټرۍ کښې پرته ده دواړه لمونځونه یعنې د ماښام او ماسخوتن په یو ځای وکړل. حال دا چې څرګنده ده چې که هغه حضرت(ص) د ماښام د وخت په اول کښې هم له مکې روان شوے وے دې ته په پام سره چې د هغه وخت کښې د سفر وسائل ابتدایي او سست رفتاره وو، طبعاً د

شپې یوه برخه به تیره شوې وي چې پیغمبر(ص) سرف ته رسیدلے وي نو پیغمبر(ص) د ماښام او ماسخوتن لمونځونه په یو ځاي د ماسخوتن په وخت کښې وکړل.

د نوموړو روایتونو چې ټول د اهل سنتو له سرچینو او اصحابو او مسانیدو راخستل شوي له ټولګې د شیعه ؤ د نظر یې سموالے معلومیږي او هغه دا چې جائزه ده چې د ماسپښین او مازیګر لمونځونه او د ماښام او ماسخوتن لمونځونه په یوه وخت په هغه شرائطو سره چې تېر شول او په ټولو حالاتو او ځایونو کښې په دغه طریقې سره ادا شي او د هغو د ادا کولو روا والے ثابتیږي.

# اته ویشتمه پوښتنه

## د شیعه فقهې منابع (سرچینې) کومې دي؟

ځواب:

شیعه د خداي د کتاب او سنتو په پیروی سره د شرعي احکامو د راویستلو او استنباط لپاره له لاندنیو څلورو اساسي منابعو استفاده کوي.

1. د خداي تعالیٰ کتاب
2. سنت
3. اجماع
4. عقل

په دغو منابعو کښې د خداي کتاب (قرآن) او د پیغمبر(ص) سنت د شیعه فقې تر ټولو بنیادي سرچینه ده چې دلته یې مختصرشان وضاحت کوو.

د خداي تعالیٰ کتاب

د تشیع د مکتب لارویان قرآن د خپلې فقهې تر ټولو د محکمې سرچینې په توګه او د الهی احکامو د پیژندلو معیار ګڼي، ځکه چې د شیعه ؤ لارښوونکو د اسلام اسماني کتاب د فقهي احکامو د لاسته راوړلو لپاره تر ټولو لویه مرجع بللې ده په دې توګه چې هره نظریه او نظر باید د قرآن د وینا په تله وتلل شي او که له قرآن

سره سمون خوري نو منل شي که نه وي باید ورځنې تېر شو د شیعه ؤ شپږم امام حضرت جعفر صادق (ع) په دې هکله فرمایي:
"وَ کُلّ حدیثٍ لا یُوافقُ کتاب الله فهو زخرفٌ."[1]
هره خبره چې له قرآن سره برابره نه وي، بې بنیاده او غلطه ده.
هم دا شان امام جعفر صادق (ع) له رسول الله مبارکه نقلوي:
"یا أیُهاالنّاسُ ما جاءکُم عَنّی یُوافقُ کتاب الله فَإنهُ قُلتُهُ و ما جاءکم یخالف کتاب الله فلم أقُلهُ.[2]
اي خلکو هره خبره چې په ما پورې وتړلې شي که د خدای تعالیٰ د کتاب سره هماهنګه وي زما خبره ده او که سمون ورسره ونه خوري زما نه ده.
له دغو دوو حدیثونو ښه څرګندیږي چې د مسلمانانو اسماني کتاب د شیعه امامانو له نظره د شرعي احکامو د استنباط لپاره تر ټولو مزبوته سرچینه ګڼل کیږي.

## سنت

سنت یعنې د پیغمبر(ص) وینا او عمل او یا داسې کار چې هغوی تائید کړے وي د شیعه فقهې دوهمه روښانه سرچینه ده او د پیغمبر(ص) له اهلبیتو ګران امامان په مستقله توګه د پیغمبر(ص) د سنتو ناقلان او د سنتو د علم خزانې ګڼل کیږي. البته که له نورو

1. اصول کافی لومړے ټوک کتاب فضل العلم، باب الاخذُ بالسنة و شواهد الکتاب، حدیث 3.

2. تېر سند 5حدیث.

معتبرو لارو هم د رسول الله مبارک خبرې راغلي او روایت شوي وي شیعه یې مني.
دلته غوره ده په دوه مسئلو بحث وکړو:

## د پیغمبر(ص) په سنتو د عمل کولو دلیلونه

د شیعه ؤ امامانو او ښوونکو خپلو منونکو ته د قرآن د عمل د سپارښتنې تر څنګ هغوي ته د پیغمبر(ص) د سنتو سپارښتنه هم کړې ده او کتاب او سنت یې د یو بل تر څنګ ستایلي دي.
امام جعفر صادق (ع) فرمایي:
"إذا وَرَدَ عَلَيكُم حديثٌ فَوَجَدتُم لهُ شاهداً مِن كتابِ الله او مِن قول رسول الله (ص) وَ إلاّ فالذى جاءكم به اولى به".[1]
هر کله چې تاسو ته یوه خبره درورسیده که د خداي له کتاب او د پیغمبر(ص) له سنتو مو د هغې لپاره ګواه او دلیل پیدا کړ وې منئ که نه وي دا خبره د هغه له راوړونکي سره ښایي(د هغه په درد خوري).
هم دا راز امام محمدباقر(ع) د پیغمبر(ص) په سنتو عمل کول د یو جامع الشرائط فقیه بنیادي شرط بللے دے او داسې فرمایي:
"إنّ الفَقيه حق الفقيه الزاهد فى الدنيا الراغبُ فى الاخره، المتمسك بسنة النبىّ(ص)".[2]

1. اصول کافی لومړے ټوک کتاب فَضل العلم، باب الاخذ بالسُنة و شواهد الکتاب دوهم حدیث.
2. تیر سند اتم حدیث

رېښتينے فقيه هغه دے چې له دنيا ډډه وکړي او په اخرت کښې ګروهنه او دلچسپي ولري او د پيغمبر(ص) په سنتو منګولې ښخې کړي.
د شيعه ؤ لارښوونکي د سنتو په معامله کښې تر دې حده مخکښې تللي دي چې د خداي د کتاب او سنتو مخالفت يې کفر ګڼلے دے امام جعفر صادق (ع) په دې باب فرمايي:
"مَن خالفَ کتاب الله و سُنة محمد (ص) فقد کفر".[1]
"هر څوک چې له قرآن او د پيغمبر(ص) له سنتو سره مخالفت وکړي کافر دے"
په دې بيان سره معلومېږي چې شيعه تر بلې هرې اسلامي ډلې زيات د پيغمبر(صلی الله عليه و اله) د سنتو درنښت کوي او په دې طريقې سره د هغو کسانو خبره بې بنياده ثابتېږي چې وايي شيعه د پيغمبر(صلی الله عليه و اله ) په سنتو عمل نه کوي.

## د اهل بيتو په حديثونو عمل کولو دليلونه

د پيغمبر(ص) د عترت (اهلبيتو عليهم السلام) د حديثونو په هکله د شيعه ؤ د خبرې د واضحولو لپاره مجبوره يوو په دوو زمينو بحث او څېړنه وکړو.
الف: د معصومو امامانو د حديثونو ماهيت
ب: د هغو د معتبروالي دلائل او د پيغمبر(ص) د اهلبيتو عليهم

1. تير سند شپږم حديث

السلام د متابعت ضروري والے.
اوس په لنډه توګه د دلیلونو په رڼا کښې په دواړو برخو بحث کوو.

## د رسول الله مبارک د عترت د حدیثونو ماهیت

د شیعهؤ له نظره یوازې د نړۍ پروردګار د بشریت د ټولنې لپاره د قانون جوړلو او تشریع حق لري او هغه ذات د شریعت احکام او قوانین د خپل پیغمبر(ص) په وسیله نړیوالو ته رسوي او روښانه ده چې پیغمبر(ص) د خداي او خلکو تر مینځ د وحي او شریعت یوازینۍ واسطه (ذریعه) ده او له دې بیانه دا خبره څرګندیږي چې که شیعه د اهلبیتو علیهم السلام احادیث هم د خپلې فقې یوه منبع ګڼي د دې مطلب دا نه دے چې د پیغمبر(ص) د سنتو په مقابله کښې د اهلبیتو علیهم السلام احادیثو د استقلال او اصالت قائل دي بلکې د اهل بیتو حدیثونه یوازې په دې خاطر معتبر دي چې د رسول الله مبارک د سنتو بیانوونکي دي په دې اساس د شیعهؤ معصوم امامان له ځانه څه نه وایي او هغه څه چې وایي د پیغمبر(ص) سنت دي.

د خبرې د ثابتولو لپاره غوره ګڼو د اهلبیتو علیهم السلام ځینې روایتونه ذکر کړو:

1. امام جعفر صادق (ع) یو سړي ته چې له هغه یې پوښتنه وکړه وفرمایل:

"مَهُما أجَبتُكَ فِيهِ بِشئٍ فَهُو عن رسول الله، لَسنـــا نَقولُ بِرأيِنا مِن

شئٍ".[1]

"هر ځواب چې مې تا ته درکړ له پیغمبر(ص) دے او مونږ په خپله خوښه او خپله رایه څه نه وایو".

او په یو بل ځاي کښې فرمایي:

"حدیثی حدیث ابی، و حدیث ابی، حدیث جدی و حدیث جدی حدیث الحسین و حدیث الحسین حدیث الحسن و حدیث الحسن حدیث امیر المؤمنین و حدیث امیر المؤمنین حدیث رسول اللّٰہ و حدیث رسول اللّٰہ قول اللّٰہ عزوجل".[2]

زما خبره زما د پلار (امام باقر) خبره ده، د پلار خبره مې د نیکه (امام علی بن حسین) خبره، د نیکه خبره مې د حسین بن علی خبره ده او د حسین بن علی خبره د حسن بن علی خبره ده، د حسن بن علی خبره د امیرالمؤمنین خبره ده، د امیرالمؤمنین (علی) خبره د خداي د رسول خبره او د خداي د رسول خبره د لوي خداي خبره ده".

2. امام محمد باقر(ع) جابر ته داسې فرمایي:

"حدثنی ابی عن جدی رسول اللّٰہ(ص) عن جبرائیل(ع) عن اللّٰہ عزوجل و کلما احدّثك بهذه الاسناد".[3]

"پلار مې له نیکه رسول اللّٰہ مبارک ماته روایت کړه هغه هم له جبرائیله او جبرائیل هم له لوي خدایه روایت کړه او هغه څه چې تا ته یې روایت کوم په دغو اسنادو سره دے"

---

1. جامع احادیث الشیعه لومړے ټوک 129مخ.
2. تېر سند 127مخ.
3. تېر سند 128مخ.

د نومووړو روايتونو په رڼا کښې د شيعه امامانو د احاديثو چې هماغه د پيغمبر(ص) سنت دي، ماهيت څرګنديږي.

## د پيغمبر د اهلبيتو(ع) د پيروۍ د ضرورت او معتبروالي دليلونه

د اهل سنتو او شيعه ؤ عالمان دواړه په دې نظر دي چې د خداي رسول دوه ګرانبيه او ارزښناک ميراثونه پريښي او ټول مسلمانان يې د هغو منلو ته رابللي دي او د خلکو هدايت او نيکمرغي يې په دغو دوو څيزونو په عمل پورې تړلې ده يو د خداي کتاب او بل خپل اهلبيت عليهم السلام او عترت.

دلته د نمونې په توګه د ځينو روايتونو يادونه کوو.

1. ترمذی په خپل صحيح کښې له جابر بن عبدالله انصاري او هغه له رسول الله مبارکه داسې روايتوي:

"يا أيّهاالناس إنی قد تركتُ فيكُمُ ما إن اخذتم به لن تَضِلّوا: كتاب الله و عترتی اهل بيتی".[1]

اي خلکو زه په تاسو کښې دوه څيزونه پريږدم چې که منګولې پرې ښخې کړئ هيڅکله به بې لارې نه شئ، د خداي کتاب او خپل عترت اهل بيت.

2. ترمذي همداراز په دغه کتاب کښې ليکي:

قال رسول الله صلی الله عليه (واله) وسلم إنی تاركٌ فيـــــكم ما إن

1. صحيح ترمذي کتاب المناقب باب مناقب اهلبيت النبی 5ټوک بيروت چاپ 662مخ ح3786.

تَمَسکتم به لن تَضلوّا بعدی احدهما اعظم من اخر، کتاب الله حبل ممدود من السمآء إلی الارض و عترتی اهل "بیتی و لن یفترقا حتّی یَرِدَ علیّ الحوضَ فَانظروا کیفَ تَخلفونی فیهما".[1]

پیغمبر(ص) وفرمایل: زه به تاسو ته دوه قیمتی څیزونه پرېږدم چې که هغه ټینګ کړئ هیڅکله به له ما وروسته بې لارې نه شئ په هغوي کښې یو تر بل لوړ دے د خداي کتاب چې د ځمکې او آسمان تر مینځ د اتصال د رسۍ په شان دے او زما عترت او اهلبیت، هغوي به هیڅکله له یو بله جدا نه شي تر دې چې د کوثر (د ډنډ) په غاړه ماته راورسیږي نو خیال کوئ چې له ما وروسته له هغو سره څرنګه سلوک کوئ.

3. مسلم بن حجاج په خپل صحیح کښې له پیغمبر(ص) یو روایت راوړے دے:

ألا ایها الناسُ فَإنما أنا بشرٌ یوشكُ أن یاتی رسول ربی فَاجیبُ و أنا تاركٌ فیکُمُ الثقلین اولهما کتاب الله فیه الهدیٰ والنور فَخُذوا بکتاب الله واستمسکوا به فحثّ علیٰ کتاب الله و رغّب فیه ثمّ قال و أهل بیتی اذکرکم الله فی اهل بیتی اذکرکم الله فی اهل بیتی اذکرکم الله فی اهل بیتی.[2]

اي خلکو زه هم یو انسان یم او نزدې ده چې د خداي استازے (عزرائیل) ماته راشي او زۀ ورته ځواب ورکړم، زۀ په تاسو کښې دوه ګرانبیه یادګارونه پرېږدم یو د خداي کتاب دے چې نور او

1. تیر سند 663مخ 3788ح.
2. صحیح مسلم جزء 7 باب فضائل علی بن ابی طالب مصر چاپ 122 او 123مخونه.

هدایت دے د خداي کتاب ټینګ کړئ بیا پیغمبر(صلی الله علیه و اله ) خلک قرآن ته وهڅول، او زیاته یې کړه او زما اهلبیت علیهم السلام، سپارښتنه کوم زۀ تـــاسو تـه د اهل بیتو سپارښتنه کوم زۀ تاسو ته د اهلبیتو علیهم السلام. سپارښتنه کوم زه تاسو ته د اهل بیتو علیهم السلام.

4. ځینو محدثانو له پیغمبر(ص) نه روایت کړے دے چې ویې فرمایل:

"إنّی تاركٌ فیكم الثقلین كتاب الله و اهل بیتی و إنهما لن یَفتَرِقا حتّی یَرِدَ علیّ الحوض".[1]

زه تاسو ته دوه قیمتی څیزونه پریږدم یود خداي کتاب قرآن او بل زما اهلبیت او دا دوه به هیڅکله له یوه بله جدا نه شي تر دې چې د قیامت په ورځ زما څنګ ته راورسیږي.

یادونه ضروري ګڼو چې په دې مسئله کښې حدیثونه دومره زیات دي چې په دې وړوکې کتاب کښې نه ځاییږي او عزتمن څیړاندي سید میر حامد حسین د دغو روایتونو سندونه په کتاب "عَقَباتُ الانوار" کښې چې په شپږو ټوکو چاپ شوے دے راغونډ کړي دي.

1. مستدرک حاکم 3جزء 148مخ، الصواعق المحرقه یولسم باب، اول څپرکے، 149مخ او دې مضمون ته نزدې حدیثونه په لاندینیو کتابونو کښې هم لیدل کیږي:
مسند احمد جزء 5 182 189مخونه، کنزالعمال، اول جزء باب الاعتصام بالكتاب والسنة 44مخ.

د دغو روایتونو په رڼا کښې ښه څرګندیږي چې د اهل بیتو متابعت او د هغوي ټینګول د خداي د کتاب او د رسول الله مبارک د سنتو تر څنګ د اسلام له ضروریاتو دي او د عترت (اهلبیتو علیهم السلام) د ویناوو پریښودل د ګمراهۍ او د لارې د ورکولو سبب کیږي.
اوس یوه پوښتنه چې پیدا کیږي دا ده چې د پیغمبر(ص) عترت چې پیروي یې واجبه ده کوم کسان او څوک دي؟ د دې مسئلې د روښانولو لپاره د روایتونو په استناد سره د پیغمبر(ص) د عترت معنا څیړو.

## د پیغمبر(ص) اهلبیت (ع) څوک دي؟

له تیرو روایتونو معلومه شوه چې پیغمبر(ص) ټول مسلمانان له خپلو اهلبیتو علیهم السلام پیروۍ ته بللي دي او اهلبیت یې د خداي د کتاب تر څنګ له ځانه وروسته د خلکو د مرجع په توګه یاد کړي دي او په ډاګه یې ویلي دي چې "قرآن او عترت هیڅکله له یوۀ بله نه جدا کیږي"
په دې اساس د پیغمبر(ص) اهلبیت هغه کسان دي چې د دې حکم مطابق چې د خداي رسول هغوي د قرآن قرین او برابر بللي دي د عصمت له مقامه برخمن او د اسلامي علومو او معارفو له رڼې چینې برخمن دي ځکه چې که داسې نه وي نو د خداي کتاب (قرآنه) جدا کیږي حال دا چې رسول الله مبارک فرمایي چې قرآن او اهـــل بیت هیڅکله له یوۀ بله نه جدا کیږي تر دې چې د حوض

کوثر په غاړه ماته راورسیږي.

په دې توګه د اهل بیتو او د هغوي د لوړو صفاتو په دقیقه پیژندلو ضرورت چې یوازې د شیعه ؤ له امامانو سره _ چې ټول د پیغمبر(ص) عترت دي _ سمون خوري ثابتیږي.

اوس د لویو اسلامي محدثانو د روایتونو په رڼا کښې په دې هکله خپل روښانه دلیلونه راوړو:

1. مسلم بن حجاج د ثقلین د حدیث له بیانولو وروسته داسې وایي چې یزید بن حیان له زید بن ارقم نه پوښتنه وکړه، د پیغمبر(ص) اهل بیت څوک دي؟ آیا د پیغمبر(ص) میرمنې اهل بیت دي؟ زید بن ارقم په ځواب کښې وویل:

"لا وَایم الله إنّ المرأةَ تکونُ مع الرجلِ، العصر مِنَ الدهر ثم یطلقها فترجع الی ابیها و قومها، اهل بیتهُ أصلهُ و عَصَبَتهُ الذینَ حُرموا الصدقة بعدهُ".[1]

(نه داسې نه ده) په خداي قسم ښځه د یوې مودې له مخه له میړهٔ سره وي بیا سړے هغې ښځې ته طلاق ورکړي چې خپل پلار او خپلوانو ته ستنه شي له اهل بیتو مقصد هغه کسان دي چې اصل، یعنې د هغه حضرت(ص) د خپلوۍ ژوري جرړې ولري _ او د هغه حقیقي خپلوان وي، هغه کسان چې له پیغمبره وروسته ورته صدقه نه شي ورکول کیدے.

دا روایت ښه په ډاګه د دې حقیقت ګواهي ورکوي چې د پیغمبر(ص) له عترته چې پیروي یې د قرآن په شان واجبه ده، مراد

1. صحیح مسلم جزء 7 باب فضائل علی بن ابیطالب مصر چاپ 123مخ.

د رسول الله مبارک میرمنې نه دي بلکې د پیغمبر(ص) اهلبیت هغه کسان دي چې پر جسماني نسبت (خپلوۍ) سره بیره معنوي وابستګي او ځانګړې غوره والے هم ولري چې وکولے شو هغوي د خداي د کتاب تر څنګ د نړۍ د مسلمانانو مرجع وبلو.

2. پیغمبر(ص) یوازې د اهلبیتو علیهم السلام د صفتونو (او ځانګړتیاوو) په بیانولو بسنه نه ده کړې بلکې د هغو شمیر یې هم چې دولس تنه دي جوت کړے دے. مسلم له جابر بن سمره حکایت کوي:

"سَمعتُ رسول الله صلی الله علیه (واله) وسلم یَقول: لا یَزالُ الاسلام عزِیزاً الی اثنی عشر خلیفة ثم قال کلمة لم أفهَمها ، فقُلتُ لابی: ما قال؟ فقال کُلّهُم مِن قریش".[1]

له پیغمبر(ص) مې واوریدل چې وې فرمایل: اسلام به په دولسو خلیفه ګانو عزتمن پاتې شي بیا یې څه خبره وکړه چې زه پرې پوه نه شوم له پلاره مې وپوښتل څه یې وویل؟ ځواب یې راکړ: ویې فرمایل چې ټول له قریشو دي".

مسلم بن حجاج همدا شان له رسول الله مبارکه روایتوي چې:

"لا یَزالُ امرالناس ماضیاً ما ولیهم اثنا عشر رجلاً".[2]

د خلکو چارې به ډېرې ښې تیرې شي تر هغه وخته چې دولس کسان په هغوي واکمني ولري.

دا دواړه روایتونه د شیعه ؤ په خبره روښانه ګواه دي چې د شیعه ؤ

1. صحیح مسلم شپږم ټوک دریم مخ مصر چاپ.

2 . تېر سند.

دولس امامان له پيغمبر(ص) وروسته د خلکو رښتينې لارښوونکي دي. ځکه چې په اسلام کښې دولس خليفه ګان چې له رسول الله مبارک سملاسي وروسته د مسلمانانو د چارو مرجع او د اسلام د عزت او برم سبب وي بې له هغو دولسو امامانو چې د پيغمبر(ص) اهلبيت دي بل مصداق نه لري. ځکه چې له څلورو خلفاؤ چې په مسلمانانو کښې خلفاي راشدين مشهور دي تير شو د بني اميه او بني عباسو نور واکوالان د خپلو ناروا کارونو په وجه چې اسلام يې ګواهي ورکوي د اسلام او مسلمانانو لپاره د شرم سبب وو.

په دې ډول اهلبيت عليهم السلام چې پيغمبر(ص) له قرآن سره برابر او د نړۍ د مسلمانانو مرجع بللي دي هماغه د پيغمبر(ص) د عترت دولس امامان دي چې د رسول الله مبارک د سنتو ساتونکي او د هغوي د علم لرونکي دي.

3. اميرالمؤمنين على بن ابيطالب هم د مسلمانانو لارښوونکي له بنى هاشمو ګڼلي دي چې دا پخپله د اهلبيتو عليهم السلام په پيژنګلو کښې د شيعهؤ د خبرو په صحيح والے يو بل روښانه ګواه دے. هلته چې فرمايي:

"إنّ الائمة من قريش غرسوا فى هذا البطن ـ من بنى هاشم ـ لا تصلح علىٰ من سواهم و لا تصلح الولاة من غيرهم.[1]

ـ له قريشو امامان ـ د بنى هاشمو له طايفې دي او نور څوک په خلکو د ولايت وړتيا نه لري او د نورو واکمنانو واکمـني بې بنياده

1. نهج البلاغه (صبحى صالح) 144خطبه.

ده.

**نتيجه:**

له دغو روايتونو دوه حقيقتونه څرګنديږي

1. د پيغمبر(ص) په اهل بيتو پورې تمسک او د هغوي پيروي د خداي د کتاب د اطاعت تر څنګ واجبه ده.

2. د خداي د رسول اهلبيت چې د قرآن مجيد قرين او د ټولو مسلمانانو مرجع معرفي شوي دي لاندېني خصوصيتونه لري.

الف: ټول د قريشو له قبيلې او د بنی هاشمو له طائفې دي

ب: هغوي ټول له پيغمبر(ص) سره داسې خپلوي لري چې صدقه پرې حرامه ده

ج: ټول د عصمت مقام لري که نه وي له قرآن مجيده عملاً جدا کيږي حال دا چې رسول الله فرمايلي دي چې دا دواړه (قرآن او اهلبيت) له يوه بله نه جدا کيږي تر دې چې د حوض کوثر په غاړه راورسيږي.

د: دغه ټول بايد دولس کسان وي چې د خداي له رسوله وروسته په يو بل پسې د مسلمانانو ولي او امام وي.

هـ: دا د پيغمبر(ص) دولس خليفه ګان د اسلام د ډيرنده برم او عزت سبب دي.

دغو صفتونو ته په پام سره چې له روايتونو لاس ته راځي د لمر په شان روښانه کيږي چې له خپلو اهلبيتو عليهم السلام د پيغمبر(ص) مقصد چې مسلمانانو ته يې د هغوي د پيروۍ

سپارښتنه کړې ده هماغه د پیغمبر(ص) د عترت دولس پاک امامان دي. چې شیعه د هغوي په پیروۍ او د خپلو فقهي احکامو په پیژندلو کښې د هغوي په متابعت ویاړ کوي.

## نهه ویشتمه پوښتنه

# آیا ابوطالب په ایمان سره له دنیا لاړ چې تاسو یې زیارت ته ورځئ؟

ځواب:
د شیعه ؤ له نظره ابوطالب،د عبدالمطلب زوے د امیرالمؤمنین علی(ع) پلار او د پیغمبر(ص) ګران ترۀ د رسول په رسالت یو مؤمن کس ؤ او د اسلام د لومړیو وختونو په ټولو مشکلاتو او سختیو کښې د پیغمبر(ص) ملګرے او مرستندویے دے.

د ابوطالب کورنۍ
حضرت ابوطالب په داسې کورنۍ کښې وزیږیدۀ چې سرپرستي یې د پیغمبر(ص) د نیکه او د ابراهیم(ع) د دین د لارویانو د اتل یعنې حضرت عبدالمطلب په غاړه وه او د جزیرة العرب په تاریخ کښې په لږشان تحقیق او ځیرتیا سره روښانیږي چې عبدالمطلب د خپل ژوند په ډېرو سختو حالاتو او بحراني او خطرناکو شرایطو کښې د خدا پرستۍ او د توحید دین له ملاتړه لاس وانه خسته. هغه وخت چې ابرهه د هاتیانو یو لوي لښکر تیار کړ او د کعبې د ورانولو لپاره د مکې په لور وخوځیدۀ په لاره کښې یې د عبدالمطلب ځینې اوښان ونیول. کله چې حضرت عبدالمطلب د خپلو اوښانو د ستنولو لپاره ابرهه ته ورغے. ابرهه ورځینې ډېر په

حيرانۍ سره پوښتنه وکړه ولې دې د خپلو اوښانو د ستنولو په ځاي له ما ونه غوښتل چې واپس شم او د کعبې له ورانولو ډډه وکړم؟ عبدالمطلب په ايمان او په خداي د اعتماد په روح خړوب ځواب ورکړ: "أنا رَبّ الابلِ، و للبَيتِ ربّ يمنعه (يحميه)".[1]

زه د اوښانو مالک يم او دا کور (کعبه) هم څښتن لري چې د هغه ننګه او حفاظت به يې وکړي. بيا مکې ته ستون شو او د کعبې په خوا کښې يې په داسې حال کښې چې د کعبې د ور کونډه يې په لاس کښې نيولې وه داسې وويل:

يا رب لا أرجولـهم سواكا　　يا رب فامنع منهم حماكا
إن عدو البيت من عاداكا　　امنعهم ان يخربوا فناكا[2]

اے ربه زۀ بې له تا بل چاته هيله نه لرم خپل امن حرم له دغو دشمنانو وساته د دې کور دشمنان له تا سره په جنګ دي هغوي د خپل کور له ورانولو وغړوه.

دا ښکلې خبرې او داسې نورې خبرې د حضرت عبدالمطلب په خدا پرستۍ او کلک ايمان روښانه ګواه دے هغه عبدالمطلب چې د ابوطالب پلار دے. له هم دې امله يعقوبي په خپل تاريخ کښې د عبدالمطلب په هــکله داسې ليکي:

"رفض عبادة الاصنام و وحّد اللّٰه عزوجل".[3]

---

1. کامل ابن اثير لومړے ټوک 261مخ 1348کال مصر چاپ.
2. تير سند
3. تاريخ يعقوبي 2ټوک 7مخ، نجف چاپ.

عبدالمطلب د بوتانو له پرستشه ځان لیرې کړ او په یوازینې خداي یې عقیده لرله اوس ګورو چې دا خداي پاله او مؤمن پلار د خپل زوي ابوطالب په هکله څرنګه فکر کوي.

## ابوطالب _ د عبدالمطلب له نظره

د تاریخ له پاڼو معلومیږي چې ځینې روښان ضمیره وړاندو یونکو عبدالمطلب د پیغمبر(ص) له روښانه راتلونکي او د هغه له نبوته خبر کړے ؤ.

کله چې "سیف بن ذي نیرن" د حبشې د حکومت چارې په لاس کښې واخستې عبدالمطلب د یو پلاوي په مشرۍ هغه ته ورغے او له یوې ښائسته وینا وروسته د حبشې واکمن هغه ته زیرے ورکړ چې قدرمن پیغمبر(صلی الله علیه و اله ) به ستا په کورنۍ کښې پیدا کیږي او بیا یې د هغه د ځانګړتیاوو په هکله داسې وویل:

"إسمُهُ محمد- صلی الله علیه (واله) وسلم – یَموتُ ابوهُ وَ اُمّهُ و یکلفه جده و عمه".[1]

د هغه نوم محمد دے مور او پلار به یې مړه کیږي او نیکه او تره به یې سرپرستي په غاړه اخلي.

بیا یې د راتلونکي پیغمبر(ص) د نورو صفتونو په بیان کښې داسې وویل:

1. سیره حلبی اول ټوک مصر چاپ 136 – 137مخونه بیروت چاپ 114 – 115مخونه.

"يعبدُ الرّحمان و يدحض الشيطان و يخمد النيران و يكسر الاوثان، قوله فصلٌ و حكمهُ عدلٌ و يأمُرُ بالمعروف و يفعلهُ ينهى عن المنكرِ و يبطله".[1]

د يوازيني او رحمان خداي عبادت به کوي او د شيطان مخه به نيسي او اورونه به مړه کړي او بوتان به مات کړي د هغه خبره د حق او باطل د پيژندلو معيار او حکم يې د عدالت په بنياد دے خلک به نيکۍ ته بلي او پخپله هم نيک دے او هغوي له بديو منعې کوي او ککړتياوې پاکوي.

بيا يې حضرت عبدالمطلب ته وويل:

إنّك لَجَدهُ يا عبدالمطلب غير كذب".[2]

بې شکه ته د هغه پيغمبر نيکه يې.

عبدالمطلب د دغه زيري له اوريدو وروسته د شکر سجـده وکړه او د هغه مبارک مولود حال يې داسې بيان کړ:

"إنّهُ كان لى ابن و كنتُ به معجباً و عليه دقيقاً و إنى زوجّته كريمة من كرائم قومى آمنه بنت وهب بن عبد مناف ابن زهره فجاءت بغلام فسميتُهُ محمد، مات ابوه او امّهُ و كفلتُه انا و عَمّهُ (اباطالب)".[3]

يو زوې مې وے چې ډېر راباندې ګران ؤ د امنه بنت وهب په نامه يوه قدرمنه ميرمن مې ورته واده کړه له هغه ميرمن يو زوے وشو

---

1. تېر سند.
2. تير سند
3. تېر سند (سيره حلبى) لومړے ټوک 137مخ مصر چاپ.

چې نوم مې پرې محمد کېښووده، څه موده پس یې مور او پلار له دنیا لاړل او ما او ترۀ یې _ ابو طالب – پالنه په غاړه واخسته.
له دغو ویناوو داسې معلومېږي چې حضرت عبدالمطلب د دغه یتیم ماشوم له ځلانده راتلونکي خبر ؤ نو کوشش یې وکړ چې له ځانه وروسته د هغه پالنه خپل تر ټولو ښه او ګران زوي- ابوطالب- ته وسپاري او نور له دغه بې ساري سعادت او نیکمرغۍ محرومه کړي.
له دې معلومېږي چې ابوطالب د خپل مؤمن او موحد پلار په نظر کښې د ایمان او غوره والي دومره لویه درجه لرله چې یوازې هغه د پیغمبر(ص) د پالنې وړتیا لرله[1] اوس د مطلب د نور وضاحت لپاره د ابوطالب د ایمان روښانه دلیلونه وړاندې کوو:

## د ابو طالب د ایمان دلیلونه

### 1. د ابوطالب علمي او ادبي آثار

اسلامي مؤرخانو او عالمانو د ابوطالب ډېرې په زړه پورې قصیدې حکایت کړي دي چې په دغه لوړو علمي او ادبي آثارو کښې د ابوطالب په رښتیني ایمان پوهیدلے شو مونږ دلته یو څو آثارو ته اشاره کوو:

لیَعلم خیار الناس أن محمداً    بنی کَموسیٰ والمسیح ابن مریم

1. د لا ډېر وضاحت لپاره "سیره حلبی" مصر چاپ لومړے ټوک **134**مخ او او سیره هشام بیروت چاپ لومړے ټوک **189**مخ او "ابوطالب مؤمن قریش" **109**مخ بیروت چاپ او طبقات کبریٰ لومړے ټوک **117**مخ بیروت چاپ ته مراجعه وکړئ.

اتـانا بـهدی مثـل ماأتـیا به     فکُلّ بأمـر الله یـهـدی و یعـصم[1]

ـــ شریف او بزرګواره خلک دي پوه شي چې محمد(ص) د موسی او عیسی(ع) په شان پیغمبر(ص) دے او هماغه اسماني رڼا چې هغوي دواړو لرله هغه یې هم لري نو ټول پیغمبران په خداي په امر خلک هدایتوي او له ګناه یې منعې کوي.

ألم تَعلَموا إنا وجَدنا محمداً     رسولاً کموسیٰ خط فی اول الکتٰب

و ان علیه فـــی العباد محبه     و لا حیف فیمن حـــضه الله بالـحب[2]

ـ آیا نه یئ خبر چې محمد(ص) دے موسیٰ په شان پیمغبر دے چې په اسماني کتابونو کښې بیان شوے دے؟ خلک له هغه سره مینه کوي او باید د هغه چا په معامله کښې چې خداي یې مینه د خلکو په زړونو کښې پیدا کړې ده ظلم ونه کړے شي.

لقـد اکرم الله بـنی محمد     فاکرم خلق الله فی الناس احـــمد

و شق له من اسمه لـــیجله     فذوالعرش محمود و هٰذا محمد[3]

ــــ لوي خداي خپل پیغمبر(ص) عزتمن کړ په دې بنیاد د خداي تر ټولو غوره مخلوق احمد دے خداي تعالیٰ د محمد نوم له خپل نومه مشتق کړ چې د هغه د مقام درنښت وکړي نو د عرش خاوند

1. الحجه 57مخ او د همدې په شان په مستدرک حاکم 2ټوک 623مخ بیروت چاپ.
2. تاریخ ابن کثیر لومړے ټوک 42مخ شرح نهج البلاغه (ابن ابی الحدید) دوهم چاپ 14ټوک، 72مخ.
3. شرح نهج البلاغه (ابن ابی الحدید) 2چاپ 14ټوک تاریخ ابن عساکر، 1ټوک 275مخ تاریخ ابن کثیر لومړے ټوک 266مخ، تاریخ الخمیس لومړے ټوک 254مخ.

پروردګار محمود(ستایل شوی) او د هغه پیغمبر(ص) احمد(ډېر ستایونکی) دی.

والله لن یَصلوا الیكَ بـجَمعِهم حتی اوسد فی التراب دفیناً
فاصدع بامرك ما علیك غضاضه و ابشر بذلك و قر منك عیوناً
و دعوتَنی و علمت انك ناصحی و لقد دعوت و کنت ثم امیناً
و لقد علمت بأن دین محمد من خیر ادیان البریه دیناً[1]

ــــ اي د خداي رسوله هیڅکله به د دشمنانو لاس تا ته ونه رسیږي تر دې چې زه د خاورو په بستره څملم نو له چا مۀ ویرېږه او هغه څه چې امر یې درته شوی دی ښکاره کړه او سترګې روښانه او یخې کړه تا زۀ خپل دین ته وبللم او زۀ خبر یم چې ته زما خیر خواه یې او په خپله بلنه ټینګ او صادق او سم کاری یې او زۀ ښه پوه شوم چې د محمد دین د نړۍ تر ټولو ښه دین دی.

یا شاهِد الله علی فاشهد إنی علی دین النبی احمد
من ضل فی الدین فإنی مُهتدی[2]

ـ اي پر ما د خداي ګواه، د خداي د رسول محمد(ص) په دین زما د ایمان ګواهي ورکړه هر څوک چې ګمراه وي، زۀ د هدایت خاوند یم

1. خزانة الادب بغدادی لومړی ټوک 261مخ تاریخ ابن کثیر 3ټوک 42مخ شرح نهج البلاغه (ابن ابی الحدید) 14ټوک 55مخ دوهم چاپ فتح الباري 7ټوک 153 – 155مخ، الاصابه 4ټوک 116مخ مصرچاپ 1358هـ کال دیوان ابی طالب 12مخ.
2. شرح نهج البلاغه (ابن ابی الحدید) دوهم چاپ 14ټوک 78مخ دیوان ابو طالب 75مخ.

و: ابو طالب د خپل ژوند په وروستیو ورځو کښې په یو لړ بیتونو کښې چې دلته یې ذکر کوو د قریشو سپین روبو او مشرانو ته د محمد د بشپړ ملاتړ سپارښتنه وکړه:

اُوصی بِنَصر نبی الخیر اربعة ـــ ابنی علیاً و شیخ القوم عباساً
و حمزة الاسد الحامی حقیقته. جعفرا ان تـذودوا دونه الناساً
کونوا فداء لکم امتی وماولدت     فی نصر احمد دون الناس اتراساً[1]

ـ څلورو تنو ته د نیک پیغمبر(ص) د مرستې سپارښتنه کوم زوی مې علی، زمونږ د قبیلې مشر عباس، او د خدای زمري حمزه ته چې تل یې د پیغمبر(ص) ملاتړ کړے دے او (زوي) مې جعفر ته چې د هغه ملګرے او مرستندویے ووسي او تاسو – چې زما خپلوان له تاسو قربان شه تل د خدای د رسول لپاره د دشمنانو په وړاندې د ډالونو په شان اوسئ.

هر با انصافه او خالص انسان د دومره ښکلیو ادبي شعرونه په لیدلو سره چې په ډاګه په یو خدای او د پیغمبر(ص) په رسالت د ابوطالب د ایمان او عقیدې بیانوونکي دي د شیعه ؤ د خبرې په حقانیت چې ابو طالب رښتنے مؤمن ؤ، پوهیږي او په هغو بې بنیاده تورونو افسوس کوي چې ځینو لیکوالو په خاصو سیاسي اهدافو سره د قریشو په دغه ایماندار کس د خدای د پیغمبر(ص) په ترۀ او د اسلام په لومړیو وختونو او په هغو سختو حالاتو کښې

---

1. مشابهات القرآن (ابن شهر اشور مازندرانی) د سورۀ حج په تفسیر کښې د "وَ يَنصُرن الله مَن يَنصره" په ذيل کښې.

د شريعت په لوي ساتونکي لګولي دي او هغه يې کافر بللے دے.

2. له پيغمبر(ص) سره د ابوطالب سلوک د هغه د ايمان ښودونکے دے.

د اسلام ټولو تاريخ ليکونکو د هغو سربنندنو او بې مثاله فداکاريو يادونه کړې ده چې ابوطالب د رسول الله مبارک د مقدس وجود لپاره کړي دي او د ا خبره پخپله د هغوي په کلک ايمان يو دليل دے.

ابو طالب د اسلام د ملاتړ او د پيغمبر(ص) د حفاظت لپاره درې کاله په شعب ابي طالب کښې د رسول الله مبارک تر څنګ د کډوالۍ او سخت ژوند ته د قريشو په مشرۍ ترجيح ورکړ او د مسلمانانو د اقتصادي کلابندۍ تر پايه پورې د هغوي تر څنګ باقي پاتې شو او په هغو سختو حالاتو کښې يې ټولې ستونځې وزغملې[1]

له دې ورتېر ابوطالب خپل ګران زوے علی(ع) د رسول الله مبارک پوره ملګرتيا او ملاتړ ته وبالۀ او له هغه يې وغوښتل چې په ټولو سختو شيبو او کړاوونو کښې د حضرت محمد(ص) په څنګ کښې پاتې شي.

1. د ډېرو معلوماتو لپاره دغو مدارکو ته مراجعه وکړئ

سيره حلبی لومړے ټوک 134مخ مصردوهم چاپ، تاريخ الخميس لومړے ټوک 254مخونه بيروت چاپ، سيره ابن هشام، لومړے ټوک بيروت چاپ 189مخ، شرح نهج البلاغه ابن ابی الحديد دوهم چاپ 14ټوک 52مخ، تاريخ يعقوبی اول، دوهم ټوک نجف، الإصابه 4ټوک 115مخ مصر چاپ، طبقات کبریٰ اول ټوک 119مخ بيروت چاپ 1380کال.

ابن ابی الحدید معتزلی د نهج البلاغې په شرحې کښې دا خبره له ابوطالبه نقل کړې ده چې خپل زوې حضرت علی(ع) ته يې وفرمايل:

"دخداي رسول تا يوازې نيکۍ او ښو کارونو ته بلي نو تل له هغه سره يو ځاي او ملګرے اوسه".[1]

څرګنده ده چې د حضرت ابوطالب لخوا د پيغمبر(ص) دومره خدمتونه او د اسلام د سپيڅلې دين په دفاع کې د هغوي دومره سرښندنې او زيارونه د هغوي د ايمان ښکاره ګواه دي.

په دې اساس لوي مسلمان عالم – ابن ابی الحديد – د رسول الله مبارک او د هغه د پاک دين په حفاظت کښې د ابوطالب حياتي او مهم وجود داسې ستايي:

وَ لَولا اَبــو طــالب و ابنُهُ لما مثل الدين شخصاً فقاماً
فذاك بمكة أوى و حامى و هٰذا بيثرب جس الحــماما
و ما ضر مجد ابــى طالب ججهول لغى او بصيرٌ تعامى[2]

ــ که ابوطالب او زوے يې نه وے اسلام دين به هيڅکله نه وے ټينګ شوے هغه په مکه کښې پيغمبر(ص) ته پناه ورکړه او ملاتړ يې وکړ او د هغه زوے په يثرب کښې (د خداي د رسول د مرستې په لاره کښې) د مرګ جبو ته کوز شو، هيڅوک د ابوطالب شان ته

1. شرح نهج البلاغه ابن ابی الحديد 14ټوک 53مخ دوهم چاپ.
2. تېر سند 84مخ.

تاوان نه شي رسولے نه د چټیاتو ویونکي جاهلان او نه هغه خبر کسان چې ځانونه یې قصداً ناپوهه کړي دي.

## 3. د ابوطالب وصیت د هغه په ایمان روښانه ګواه دے

د "حلبی شافعی" په شان د اسلامي نړۍ مشهورو شخصیتونو په خپل سیرت کښې او محمد دیار بکري په تارخ الخمیس کښې د ابوطالب اخري خبرې داسې نقل کړي دي چې خپل قوم د رسول الله مبارک مرستې ته بلي:

"یَا مَعشرِ قریش کونوا له ولاةٌ، و لحزبه حماة، والله لایسلکُ احدٌ منکم سَبیله الا رشدٌ و لا یأخذُ احد یهدیه الا سعدٌ، و لوکان لنفسی مدة و لاجلی تأخیر لکففتُ عنهُ الهزائز و لدفعتُ عنه الدواهی ثم هَلکَ".[1]

"ای زما خپلوانو د محمد ملګري او پیروکار اوسئ او د هغه د ګوند(اسلام) ملاتړ وکړئ په خداي قسم هر کس چې د هغه د هدایت د نور پیروي وکړي نیکمرغه کیږي که ژوند له ماسره وفا کړې وے او اجل ماته فرصت راکړے وے بې له شکه به مې له هغه سختیانې او مصیبتونه لیرې کړي وو. دا یې وویل او وفات شو.

1. تاریخ الخمیس لومړے ټوک 301 – 300مخونه بیروت چاپ، سیره حلبی اول ټوک 391مخ مصر چاپ.

4. له ابوطالب سره د خداي د رسول محبت د هغه په ایمان ګواه دے.

د خداي رسول(صلی الله علیه و اله) په مختلفو مناسبتونو د خپل تره –ابوطالب– درنښت کاوه او له هغه سره يې مينه څرګندوله . دلته يې يوازې دوو ځايونو ته اشاره کوو:

الف: ځينو مورخانو دا روايت نقل کړے دے چې پيغمبر(ص) عقيل بن ابی طالب ته وفرمايل: "إنّی احبكَ حبينِ حبی لقرابتك منی و حبّاً لما كنتُ اعلم من حب عمی اياك".[1]

زه له تاسره له دوو سببونو مينه کوم يو په دې خاطر چې خپل مې يې او بل په دې خاطر چې ماته پته ده زما تره – ابوطالب – له تا سره مينه کوله.

ب: حلبی هم په خپل سيرة کښې له رسول الله مبارکه داسې روايت کوي چې د خپل تره حضرت ابوطالب د مقام درنښت کوي:

"مانالت قريش منی شيئاً اكرههُ (ای اشد الكراهة) حتی مات ابوطالب".[2]

تر کومه چې ابوطالب ژوندے ؤ د قريشو کافرانو ماته ازار ونه رسولے شو. څرګنده ده چې له ابوطالب سره د رسول الله مبارک مينه او د هغه د غوره مقام او شان درنښت د ابوطالب د ايمان ګواه دے ځکه چې د قرآن د آيتونو د نص مطابق د خداي رسول يوازې له مؤمنانو سره مينه او محبت کوی او د کافـــرانو او مشرکانو په

1. تاريخ الخميس لومړے ټوک 163مخ بيروت چاپ، الاستيعاب 2ټوک 509مخ.
2. سيره حلبی اول ټوک 391مخ مصر چاپ.

معامله کښې سخت دے قرآن مجید فرمايي:

"محمّدٌ رسول الله والذین معهُ أشِداءٌ علی الکُفّارِ رحماءُ بینَهُم".[1]

محمد(ص) د خداي پیغمبر دے او کوم کسان چې له هغه سره دي له کافرانو سره سخت او پخپلو کښې مهربانه دي.

او په بل ځاي کښې فرمايي:

"لاتَجِدُ قوماً یؤمِنونَ بالله والیومِ الاخرِ یّوادونَ مَن حادالله وَ رَسولُهُ و لو کانوا آباءهم او ابناءهم او إخوانُهُم او عشیرتُهم اولئكَ کتب فی قُلوبِهم الایمان".[2]

هیڅ کله به هغه کسان چې په خداي او د قیامت په ورځ ایمان لري داسې ونه مومې چې د خداي او د رسول دښمنان پرې ګران وي که څه هم دا دشمنان د هغوي پلاران، زامن ورونه یا خپلوان ولې نه وي دوي دي چې خداي تعالیٰ یې په زړونو ایمان لیکلے دے.[3]

دغو آیتونو ته په پام سره او له ابوطالب سره د پیغمبر(ص) له مینې او د مختلف مناسبتونو د هغه له درنښت سره د دغو آیتونو په ترتله کولو سره په دې کښې شک نه پاتې کیږي چې ابوطالب په خداي او د هغه په پیغمبر(ص) ایمان ډېره لوړه مرتبه لري.

1. د فتح سورې 29 آیت.

2. د مجادلې سورې 32آیت.

3 . همداراز د سوره ممنحنه لومړے آیت د توبې سورې 23 آیت او د مائدې سورې 45 او 81آیتونه هم په وې خیره ګواه دي.

### 5. د رسول الله مبارک د اصحابو ګواهي

د پیغمبر(صلی الله علیه و اله) ځینو اصحابو د ابوطالب په ریښتني ایمان ګواهي ورکړې ده دلته یې ځینو ته اشاره کوو.

الف: یو ناپوهه سړي د امیرالمؤمنین علی(ع) په مخکښې د ابوطالب په شان ناروا تور ولګاوۀ، امام علی په داسې حال کښې چې د غوسې نښې یې په مخ څرګندې شوې وفرمایل:

"مه، فض اللهُ فاكَ والذی بَعثَ مُحَمَّداً بالحق نبیاً لو شفع ابی فی كل مذنبٍ علی وجه الارض لشفعه الله".[1]

غلې شه، خداې دې خلۀ ماته کړه، قسم په هغه خداي چې محمد یې په پیغمبری وګمارۀ، که پلار مې (ابوطالب) وغواړي د هر ګناهکار شفاعت وکړي خداي تعالیٰ یې شفاعت مني.

او په یو بل ځاي کښې فرمایي:

"كان والله ابوطالب عبدالمناف بن عبدالمطلب مؤمناً مسلماً یكتم ایمانه مخافةً علی بنی هاشم ان تنابذها قریش".[2]

په خداي قسم ابوطالب، عبدالمناف بن عبدالمطلب مؤمن او مسلمان ؤ او خپل ایمان یې د قریشو له کفارو پټوۀ چې له بنی هاشمو سره دشمني ونه کړي.

د امام علی(علیه السلام) دا ویناوې نه یوازې د ابوطالب د ایمان مزبوتیا تاییدوي بلکې هغه د خداي په ولیانو کښې شاملوي چې

1. الحجه 24مخ.
2. الحجه 24مخ.

د نورو شفاعت هم کولے شي
ب: ابوذر غفاري د ابوطالب په هکله داسې وايي:
"والله الذى لا إله إلا هو ما مات ابوطالب رضى اللهُ عنه حتىٰ اسلم".[1]
په هغه خداي قسم چې له هغه پرته بل خداي نيشته ابوطالب وفات نه شو مګر دا چې له مرګه مخکښې يې ايمان راوړ.
ج: له عباس بن عبدالمطلب د ابوبکر بن ابى قحافه هم په ډېرو اسنادو سره داسې روايت راغلے دے:
إنّ ابا طالب ما مات حتىٰ قال لا إلٰهَ إلاّ اللهُ محمد رسول الله.[2]
ابوطالب له دنيا لا نه رهٔ مګر دا چې وې ويل: لا إله إلا الله محمدرسول الله.

## 6 ـ ابوطالب د اهل بيتو له نظره

ټولو اهلبيتو عليهم السلام د ابوطالب کلک ايمان تاييد کړے دے او په مختلفو موقعو کښې يې د رسول الله مبارک د دغه سربښندونکي ملګري دفاع کړې ده چې دلته يې دوو بيلګو ته اشاره کوو.
الف: امام باقر فرمايي:
"لو وُضِع ايمان ابي طالب فى كفة ميزان و ايمان هٰذا الخلق فى الكفة الاخرىٰ لرجّحَ ايمانه".[1]

1. شرح نهج البلاغه (ابن ابى الحديد) 14ټوک 71مخ دوم چاپ.
2. الغدير اوم ټوک 398مخ دريم چاپ بيروت 1378هـ كال د تفسير وكيع په نقل.

که د ابوطالب ایمان د تلې په یو پلړې کښې واچوو او د دغو خلکو ایمان په بلې کښې د ابوطالب ایمان پرې دروند دے.[1]

ب: امام جعفر صادق (ع) له رسول الله مبارکه نقلوي:

"إنّ اصحاب الکهف اسروا الایمان و اظهروا الکفر فأتاهم الله اجرهم مرتین و انّ اباطالب اسر الایمان و أظهر الشرک فأتاه اللهُ اجره مرتین".[2]

اصحاب کهف (د ځینو مصلحتونو په وجه) خپل ایمان پټ کړ او داسې یې ظاهره کړه چې کافران دي نو خداي تعالیٰ هغوي ته دوه ځله بدله ورکړه او ابوطالب هم خپل ایمان پټ وساته (د مصلحت له مخې یې) کفر ښکاره کړۀ او خداي تعالیٰ دوه ځله هغه ته بدله ورکړه.

له دغو دوو دلیلونو د لمر په شان ښکاره کیږي چې ابوطالب لاندینی مقامونه لرل:

1. په خداي تعالیٰ او د هغه په قدرمن پیغمبر(صلی الله علیه و اله) کلک ایمان.
2. د پیغمبر(ص) په نزد ډېر محبوبیت
3. د رسول الله مبارک کلکه ملګرتیا او د اسلام په لاره کښې سرښندنه
4. د خداي تعالیٰ په نزد د شفاعت د مقام لرل

او په دې ډول د هغو ناروا تورونو بې اساس والے چې ابوطالب ته

---

1. شرح نهج البلاغه ابن ابی الحدید 14ټوک 68مخ دوهم چاپ، الحجه 18مخ.
2. شرح نهج البلاغه ابن ابی الحدید 14ټوک 70مخ، الحجه 17مخ او 115مخ.

ورکول کيږي، څرګنديږي.

له دغه خبرو چې بيان شوې دوه حقيقتونه مونږ ته ښکاره کيږي:

1. رسول الله مبارک، اصحابو اميرالمؤمنين او معصومو امامانو د ابوطالب ايمان منلے دے.
2. هغه ناروا تورونه چې په ابوطالب پورې تړل کيږي څه بنياد نه لري او يوازې د ځينو سياسي مقصدونو او د بني اميه او بني عباسو د ځينو واکمنانو په وسيله چې هميشه له اهلبيتو عليهم السلام او د ابوطالب له بچيانو سره په جنګ وو – په ابوطالب پورې تړل شوي دي – او هغوي جوړ کړي دي.

اوس لازمه ګڼو هغه تر ټولو لوي لاسوند چې دوي د پيغمبر(ص) د دغه کلک او فداکار ملګري د شخصيت د خرابولو لپاره استعمال کړے دے او په "حديث ضحضاح" مشهور دے وڅيړو او د قرآن مجيد د آيتونو، د پيغمبر(ص) د سنتو او د عقل سليم له نظره د دغه حديث جعلي والے او دروغوالے درښکاره کړو.

## د ضحضاح د حديث جاج

ځينو ليکوالانو لکه بخاري او مسلم د ځينو راويانو لکه "سفيان بن سعيد ثوري، عبد الملک بن عمير او عبدالعزيز محمد راوردي او ليث بن سعد" له لورې لاندنۍ دوه خبرې (حديثونه) په پيغمبر(ص) پورې تړلي دي.

الف: وجدتُهُ فی غمراتٍ من النار فأخرجتهُ إلی ضحضاح".[1]
او هغه (ابوطالب) مې په ډېر اور کښې ولیدهٔ نو هغه مې ضحضاح ته بوتلو"
ب: لَعَلّهُ تنفعه شفاعتی یوم القیٰمة فیجعلُ فی ضحضاح من النار یبلغ کعبیه یغلی منه دماغه".
ښايي د قیامت په ورځ زما شفاعت هغه ته څه ګټه ورسوي نو د اور په ضحضاح کښې راوستل شي. چې ژور والے يې د هغه د پښو تر ګیټیو رسیږي په دې ډول چې د هغه مازغه یشیږي".[2]
که څه هم پريمانه روايتونه او روښانه دليلونه چې د ابوطالب د ایمان په هکله مو بیان کړل د دغه لوي تور او تهمت (حدیث ضحضاح) دروغوالے او بې بنیاد والے ثابتوي خو د مسئلې د لا وضاحت لپاره په دوو برخو کښې د حدیث ضحضاح جاج اخلو:

1. د دغه حدیث د اسنادو بې اساس والے.
2. د خداي له کتاب او د پیغمبر(ص) له سنتو سره د هغه ټکر.

## د ضحضاح د حدیث د اسنادو بې اساسوالے.

مخکښې مو وویل چې د ضحضاح د حدیث راویان دا کسان دي سفیان بن سعید ثوري، عبدالملک بن عمیر، عبدالعزیز بن محمد

1. صخضحاح هغه کندې ته وايي چې ژوروالے يې د انسان تر ونې کم وي.
2. صحیح بخاري 5ټوک ابواب مناقب، باب قصه ابی طالب 52مخ مصر چاپ او اتم ټوک کتاب الادب باب کنیة المشترک 46مخ.

دراوردي، او ليث بن سعد. اوس د رجال د علم د اهل سنتو عالمانو په استناد سره چې د محدثانو احوال يې بيان کړي دي د دغه کسانو وضعيت جاجوو.

الف: سفيان ابن سعيد ثوري.

د رجال د علم لوي اهل سنت عالم ابو عبدالله محمد بن احمد بن عثمان ذهبی د ده په هکله داسې وايي:

"كانَ يُدَلِّسُ عن الضعفاء".[1]

سفيان بن ثوري به جعلي حديثونه له ضعيفو راويانو بيانول دا خبره ښکاره دليل دے د تدليس په وجود او له ضعيفو يا مجهولو کسانو د حديثونو بيانول چې سفيان ابن سعيد ثوري به دا کار کاوه چې په دې طريقه د هغه حديثونه له اعتباره لويږي.

ب: عبدالملک بن عمير

ذهبی د هغه په هکله وايي:

"طالَ عُمرُهُ و ساءَ حفظُهُ قال ابوحاتم: ليس بحافظٍ تَغَيّرَ حفظهُ و قال احمد: ضعيف يخلطُ، و قال ابن معين: مخلطٌ، و قالَ ابن فراش: كان شعبه لا يرضاه و ذكر الكوسج عن احمد انه ضَعّفهُ جداً".[2]

عمر يې اوږد شو او حافظه يې کمه وډه شوه ابوحاتم وايي: د حديثو د ساتلو توان يې نه درلود او حافظه يې کمه وډه شوه، احمد بن حنبل هم وايي: عبدالملک بن عمير له غلطيو ډک او ضعيف دے، (يعنې بې بنياده او غلط روايتونه نقلوي) ابن معين

1. ميزان الاعتدال ذهبي 2ټوک 169مخ بيروت 1382کال.

2. ميزان الاعتدال 2ټوک 660مخ بيروت لومړے چاپ.

وايي: هغه سم حديثونه له غلطو حديثونو سره ګډوډ کړي دي، کوسج له احمد بن حنبله روايت کړے دے چې عبدالملک بن عمير يې سخت ضعيف ګڼلے دے".
له دغو ټولو دا خبره معلوميږي چې عبدالمک بن عمير لاندیني صفات لرل:

1. بې حافظه او هيرجن
2. ضعيف (د علم رجال په اصطلاح کښې) يعنې هغه کس چې په روايتونو يې باور نه شي کيدے
3. له غلطيو ډک
4. مخلط (يعنې هغه کس چې صحيح او غلط روايتونه سره ګډ کړي)

څرګنده ده چې په دغو کښې هر يو صفت په يوازې سر هم د عبدالملک بن عمير د حديثونو په بې بنياد والي ګواهي ورکوي حال دا چې دا ټول کمزوري ټکي په هغه کښې موجود دي.

ج: عبدالعزيز بن محمد دراوردي

د اهل سنتو د رجال عالمانو هغه هيرجن او بې حافظه ياد کړے دے چې د هغه په روايتونو استدلال نه شو کولے
احمد بن حنبل د دراوردي په هکله وايي:
"إذا حدّثَ من حفظه جاءَ ببواطيل".[1]
هر کله چې له يادو روايت وکړه بې بنياده او نامربوطه خبرې کوي.

1. تير سند 634مخ.

ابو حاتم هم د هغه په هکله وايي:
"لا يحتَجّ بِه".[1]
د هغه په خبره استدلال نه شي کيدے.
ابو زراعه هم هغه "سيّئُ الحفظ" يعنې بد حافظه بللے دے.[2]
د :ليث بن سعد
د اهل سنتو د علم رجالو کتابونو ته په مراجعې سره ښه معلوميږي چې هغه ټول راويان چې نوم يې ليث دے ناپيژاندي، مجهول او ضعيف کسان دي چې د هغوي په حديثونو استدلال نه شو کولے[3] او ليث بن سعد هم له دغو ضعيفو او بې پروا کسانو دے چې د حديثو له اوريدلو او د هغې د راويانو په نقل کښې يې بې پروايي کوله.
يحيىٰ بن معين د هغه په هکله وايي:
"إنّهُ کان يتساهل فى الشيوخ والسّماع".[4]
ليث بن سعد د هغو کسانو په هکله چې له هغو يې روايت کړے دے او هم دا راز د حديثونو په اوريدلو کښې بې غوري کړې ده.
"نباتي" هم هغه له ضعيفانو ګڼلے دے او د هغه نوم يې په خپل کتاب "التذليل على الکامل" کښې چې يوازې ضعيف روايان يې پکښې معرفي کړي دي راوړے دے.[1]

1. همدغه.
2. تير سند 634مخ.
3. ميزان الاعتدال 3ټوک بيروت چاپ لومړے له 420مخ تر 423مخونو.
4. تير سند 423مخ.

له دغو ويناوو معلوميږي چې د ضحضاح حديث اصلي راويان ډېر زيات ضعيف دي او د هغوي په حديثونو باور نه شي کيدے.

د حديث ضحضاح متن له قرآن او سنتو سره سمون نه خوري

په دغه حديث کښې رسول الله مبارک ته داسې نسبت ورکړل شوے چې هغه حضرت ابوطالب د دوزخ د اور له سختو غرغنډو د اور يوې وړې کندې ته بوتله او په دې ډول يې د هغه عذاب کم کړ يا يې هيله وکړه چې د قيامت په ورځ د هغه شفاعت وکړي. حال دا چې قرآن مجيد او د پيغمبر(ص) سنت يوازې د مؤمنانو او مسلمانانو لپاره د پيغمبر(ص) شفاعت مني نو که ابوطالب کافر وے هيڅکله پيغمبر(ص) د هغه عذاب نه شو کمولے يا يې شفاعت نه شو کولے.

په دا ډول د حديث ضحضاح د محتویٰ بې بنياده والے او دروغوالے د هغو کسانو د ويناوو په اساس چې ابوطالب کافر ګڼي ثابتيږي.

اوس د خداي د کتاب او سنتو په رڼا کښې د دغه مسئلې روښانه دلايل درته وړاندې کوو.

الف: قرآن مجيد په دې هکله فرمايي:

"والذينَ كَفَروا لَهُم نَارُ جَهَنّمَ لا يُقضىٰ عَلَيهِم فَيَمُتُوا و لا يُخففُ عَنهُمُ مِن عذابها كذلكَ نَجزِى كُل كَفُورٍ".[2]

---

1. شيخ البطح 75مخ ميزان الاعتدال 3ټوک 423مخ.
2. سوره فاطر 36 ايت

د دوزخ اور د کافـــرانو لپاره دے نه د هغوي مرګ رارسيږي چې مړۀ شي او نه يې عـــذاب کميږي مونږ کافـــرانو ته داسې سزا ورکوو.

ب: د پيغمبر(ص) سنت هم د کافرانو لپاره شفاعت نفي کوي ابوذر غفاري له رسول الله مبارکه داسې روايت کړے دے:

"أعطيتُ الشفاعة و هىَ نائلةٌ مِن اُمّتى من لا يُشركُ بالله شيئاً".

زما شفاعت زما په امت کښې دهغو کسانو په نصيب کيږي چې مشرک نه وي په دې اساس د حديث ضحضاح متن هم د هغو کسانو د وينا په اساس چې ابوطالب ته کافر وايي هيڅ بنياد او اساس نه لري او له کتاب او سنت سره مخالف دے.

**نتيجه:**

له تيرو وضاحتونو معلومه شوه چې حديث ضحضاح هم د سند له نظره او هم د متن او محتوا له نظره هيڅ اعتبار نه لري او په هغه استدلال نه شي کيدے په دې طريقه هغه مضبوطه کِلا چې دوي د ابوطالب د پياوړي ايمان د خرابولو لپاره هغې ته پناه وړي، ماتيږي او د هغه مؤمن قريش او د رسول الله مبارک د پاخه ملګري او ريښتيني ملاتړي ځلانده څېره هماغه شان ځلنده او روښانه پاتې کيږي.

دیرشمه پوښتنه

## آیا د شیعه ؤ له نظره جبرائیل د رسالت په رسولو کښې خیانت کړے دے او د حضرت علی(ع) په ځاي یې په رسول الله مبارک قرآن نازل کړے دے؟

ځواب:

مخکښې له دې چې د دغه ناروا او بې بنیاده تور چې ځینو ناپوهو او غرضي کسانو په شیعه ؤ پورې تړلے دے دروغوالے او بې اساس والے ثابت کړو غوره ده چې اول یې جرړه ولټوو.

د دغه تور جرړه:

د قرآن شریف له آیتونو او هغه حدیثونو چې د دغو آیتونو په هکله نازل شوي دي څرګندیږي چې یهودیانو به وویل چې جبرائیل د رسالت او وحي په رسولو کښې خیانت وکړ ځکه چې خداي هغه ته امر کړے ؤ چې نبوت د بنی اسرائیلو په نسل کښې نازل کړي خو هغه د خداي د امر په خلاف رسالت او پیغمبري د حضرت اسماعیل نسل ته ورکړه.

په دې اساس یهودیانو حضرت جبرائیل دشمن وبالهٔ[1] او د "خَانَ

1. تفسیر فخر رازي اول ټوک 436 او 437مخونه مصر چاپ 1308هـ کال.

جبرائیل" جبرائیل خیانت وکړ جمله یې خپل شعار وګرځاوه نو ځکه قرآن مجید د هغوي د نیوکې او د هغوي د خبرې د دروغوالي د ثابتولو لپاره جبرائیل په لاندیني آیت کښې "امین" او سم چارې فربښته وبلله:

"نَزَلَ بِهِ الرّوحُ الامین علی قَلبِكَ لِتکونَ من المُنذِرین".[1]

"روح الامین (جبرائیل) قرآن ستا په زړه نازل کړ چې خلک وویروې". او په یو بل آیت کښې فرمایي:

"قُل مَن کانَ عَدواً لِجبریلَ فإنّهُ نزّله علی قلبكَ بِإذنِ اللّٰه".[2]

ووایه هر څوک چې له جبرائیل سره دشمني وکړي، هغه قدرمنې پربښتې د خداي په امر قرآن ستا په زړه نازل کړ.

له دغه آیتونو او د هغو له تفسیره ښه معلومیږي چې یهودیانو حضرت جبرائیل په ځینو دلایلو خپل دشمن ګاڼه او هغه ته یې د عذاب پربښته ویله او هغه یې د رسالت په رَسَوَلو کښې په خیانت تورناوۀ.

نو د "خَانَ الامین" شعار د یهودو د قوم له چټیاتو او فضولیاتو جوړه اخستې ده او ځینې جاهل لیکوالان چې له شیعهؤ سره زړه دشمني لري د یهودو خبره راخستې په هغې شوندوهي او دا تور په شیعهؤ پورې تړي.

1. شعراء 194آیت.

2. بقره 97 آیت.

## نبوت د شیعه ؤ له نظره

شیعه د قرآن او سنت په پیروی د پیغمبر(ص) د اهلبیتو علیهم السلام د روښانه آیتونو په رڼا کښې نه یوازې محمد بن عبدالله صلی الله علیه واله وسلم په حقه پیغمبر ګڼي چې د خداي تعالیٰ په حکم د نړیوالو لپاره پیغمبر او استازے دے بلکې هغه حضرت(ص) خاتم پیغمبران او تر ټولو لوړ مرتبه الهی پیغمبر ګڼي.

د شیعه ؤ لوي امام علی بن ابی طالب(ع) په خپلو ښایسته ویناوو کښې په دې حقیقت داسې ګواهي ورکوي.

"أشهَدُ أنّ لا إله إلاّ اللهُ وحدهُ لا شريك لهُ و أشهدُ أنّ محمداً عبدهُ و رسوله، خاتم النبيين و حجة الله على العالمين".[1]

ګواهي ورکوم چې بې له یوازیني او بې ساري خدایه بل نیشته او ګواهي ورکوم چې محمد د خداي بنده او پیغمبر او خاتم النبیین او د نړیوالو لپاره د خداي حجت دے.

امام جعفر صادق (ع) هم فرمایي:

"لَم يبعث اللهُ عزوجل من العرب إلا خمسة انبياء: هوداً و صالحاً و اسماعيل و شعيباً و محمداً خاتم النبيين".[2]

خداي تعالیٰ د عربو په قوم کښې یوازې پینځه پیغمبران وټاکل: هود ، صالح، إسماعیل، شعیب او محمد(ص) چې خاتم النبیین

---

1. نهج السعاده اول ټوک **188**مخ بیروت چاپ، کافی اتم ټوک **67**مخ دوهم چاپ تهران **1389**هـ کال.

2. بحارالانوار یوولسم ټوک **42**مخ بیروت چاپ **1403**کال.

دے.

دا حدیث شریف ښه په ډاګه ثابتوي چې کوم تور په شیعه ؤ پورې تړل کیږي دروغ او بې بنیاده دے او دا حدیث حضرت محمد بن عبدالله (ص) د خداي اخري پیغمبر معرفي کوي.[1]

په دې اساس د نړۍ شیعه جبرائیل د رسالت او پیغمبرۍ په رسولو کښې امین او سم کارے ګڼي او محمدبن عبدالله په حقه پیغمبر او د خداي وروستے رسول ګڼي او علی بن ابی طالب د هغه وصي او جانشین ګڼي.

دلته غوره ګڼو چې یو روایت چې شیعه او سني دواړه پرې یو نظر لري او هغه یې په خپلو معتبرو کتابونو کښې ذکر کړے دے راوړو په دغه روایت کښې چې په "حدیث منزلت" مشهور دے پیغمبر(ص) د خپل خاتمیت له بیانولو وروسته علی خپل ځاي ناستے او وصي معرفي کړ.

رسول الله مبارک علي بن ابیطالب ته وفرمایل:

"أما ترضٰی ان تکون منّی بِمنزلةِ هارونَ مِن موسٰی إلاّ أنهُ لانبیّ بعدی".[2]

1. له هغو ډېرو آیتونو د خبریدو لپاره چې د شیعو له نظره پیغمر اکرم(ص) د خاتمیت ښودنه کوي، مفاهیم القرآن کتاب ته چې استاد جعفر سبحاني لیکلے دے مراجعه وکړئ.

2. دغه حدیث بې شمیره اسناد لري چې ځینو ته یې اشاره کوو:

1. صحیح بخاري شپږم ټوک دریم مخ مصر چاپ باب غزوه تبوک
2. صحیح مسلم 7جلد 120مخ باب فضائل علی(ع)
3. سنن ابن ماجه لومړے ټوک 55مخ مصر چاپ، باب فضائل اصحاب النبي

آيا ته نۀ خوشحاليږې چې ته زما په نسبت داسې يې لکه هارون چې د موسى په نسبت ؤ مګر دا چې له ما وروسته بل نبي نه راځي. (يعنې لکه څنګه چې هارون د موسٰى وصي ؤ ته هم زما وصي يې خو زه وروستے پيغمبر يم او له موسى وروسته نور پيغمبران هم راغلل.)

دا روايت چې د سند له نظره لويو اسلامي محدثانو که هغه شيعه دي که سني منلے دے روښانه ګواه دے په دوو مسئلو کښې د شيعهٔ د خبرې په صحيح والي:

1. محمد بن عبدالله(ص) د خداي تعالىٰ تر ټولو قدرمن نبي او د الهی رسولانو خاتم دے چې د لوي خداي په امر په نړيوال او هميشني رسالت ګمارل شوے دے او له هغه وروسته بل پيغمبر نه راځي.
2. علی بن ابی طالب د پيغمبر(صلی الله عليه و اله) وصي جانشين او له هغه حضرت(ص) وروسته د مسلمانانو خليفه دے.

---

4. مستدرک حاکم 3ټوک 109مخ بيروت چاپ
5. مسند احمد اول ټوک 185،184،182،179،177،170مخونه او دريم جلد 32مخ.
6. صحيح ترمذی 5ټوک 21مخ بيروت، باب مناقب علی بن ابيطالب(ع).
7. مناقب (ابن مغازل) 27مخ بيروت چاپ 1403ھ کال.
8. بحارالانوار 37ټوک 254مخ بيرت دوهم چاپ 143ھ کال
9. معانی الاخبار (صدوق) 74مخ بيروت چاپ 1399کال.
10. کنزالفوائد 2ټوک 168مخ بيروت چاپ 1405کال.

## يو ديرشمه پوښتنه

## د تقيې معيار څه دے؟

### ځواب:

د تقيې معنا: د خپل باطني اعتقاد پټ ساتل او د مخالفانو په وړاندې د خپل ايمان پټول او مخفي ساتل، د دنياوي زيان او د معنوي او ديني تاوان څخه د بچ کيدو لپاره، دا د هر مسلمان يوه شرعي دنده ده چې له قرآنه ثابتيږي.

### تقيه د قرآن له نظره:

قرآن مجيد په دې مسئله کښې ډېر آيتونه لري چې ځينو ته يې اشاره کوو:

الف:لاَّ يَتَّخِذِ الْمُؤْمِنُونَ الْكَافِرِينَ أَوْلِيَاء مِن دُوْنِ الْمُؤْمِنِينَ وَمَن يَفْعَلْ ذَلِكَ فَلَيْسَ مِنَ اللهِ فِي شَيْءٍ إِلاَّ أَن تَتَّقُواْ مِنْهُمْ تَقِيَّةً.[1]

"اهل ايمان ته نه ده پکار چې مؤمنان پريږدي او له کافرانو سره دوستي وکړي څوک چې داسې وکړي له خداي سره به هيڅ رابطه ونه لري مگر هغه کسان چې تقيه وکړي".

دا آيت په دې حقيقت ښکاره گواه دے چې له کافرانو سره

1. آلِ عمران 28آيت.

دوستي جائزه نه ده مګر د تقیې په خاطر د ځان د حفاظت او له خطرو بچ کیدو په خاطر چې په دې بڼه له هغوي سره ظاهراً دوستي کولے شو.

ب: (مَن كَفَرَ بِاللّهِ مِن بَعْدِ إيمَانِهِ إِلاَّ مَنْ أُكْرِهَ وَقَلْبُهُ مُطْمَئِنٌّ بِالإِيمَانِ وَلَـكِن مَّن شَرَحَ بِالْكُفْرِ صَدْراً فَعَلَيْهِمْ غَضَبٌ مِّنَ اللّهِ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ).[1]

هر څوک چې په خداي له ایمانه وروسته دوباره کافر شي مګر هغه کسان چې له مجبورۍ د کفر اظهار وکړي په داسې حال کښې چې د هغه زړه په ایمان کښې مزبوت او ډاډه وي خو هغه کسان چې خپل زړه له کفر ډک کړي د هغوي لپاره سخت عذاب او قهر دے.

مفسران د دغه آیت د شان نزول په هکله داسې وایي:

یوه ورځ عمار بن یاسر له خپل پلار او مور سره په دشمنانو کښې ونښتل او کافرانو له هغوي وغوښتل چې له اسلامه لاس واخلي او په کفر او شرک اعتراف وکړي، د عمار ټولو ملګرو د خداي په یو والي او د پیغمبر(ص) په رسالت ګواهي ورکړه نو ځینې یې شهیدان کړے شول او ځینې نور سخت وځورول شول خو عمار د خپل زړه او خوښې په خلاف تقیه وکړه او په ظاهره یې هغه څه چې کافرانو ویل، وویل او ازاد شو کله چې د خداي رسول ته راغے په خپل کار ډیر اندیښمن او خپه ؤ نو د خداي رسول هغه ته ډاډ ورکړ او دا آیت په دې هکله نازل شو.[1]

---

1. نحل 106 آیت.

له دغه آیته او د مفسرانو له خبرو روښانه شوه چې د خپل سر د حفاظت او د مادي او معنوي تاوانونو د مخنیوي لپاره د پیغمبر(ص) په وخت کښې هم تقیه او د خپل ایمان پټول موجود وو او اسلام هم منل.

## تقیه د شیعه ؤ له نظره

له دې امله چې د بني امیه او بني عباسو ظالمو حکومتونو په ټول تاریخ کښې له شیعه ؤ سره دشمني لرله او د هغوي د وژلو هڅه به یې کوله[2] هغوي د قرآن په حکم تقیه کوله او خپله رښتنې عقیده یې پټوله او په دې ډول یې په هغو سختو حالاتو کښې ځان او خپل مسلمان ورونه وژغورل. روښانه ده چې د هغه ظلم ساډوبې او استبداد په دوران کښې چې د ظلم توپان له هر اړخه شیعه ګواښل او هغوي یې ختمول له دې د بچ کیدو لپاره بله لار نه وه.

نو ځکه په هغه صورت کښې چې ظالمو باچاهانو او د هغوي ګوډګیانو له شیعه ؤ سره دشمني نه کوله او د هغوي بیرحمانه وژله د حکومت په ایجنډې کښې نه وه شامله د شیعه ؤ د تقیې لپاره څه دلیل نه ؤ موجود.

---

1. تفسیر درالمنثور (جلال الدین سیوطی) څلورم ټوک 131مخ بیروت چاپ ته مراجعه وکړئ.

2. د بنی امیه وو او بنی عباسو په لاس د شیعو د بې رحمانه وژنې په باره کښې د نورو معلوماتو لپاره مراجعه وکړئ دغو کتابونو ته: "مقاتل العالبین، د ابوالفرج اصفهاني لیک، او شهداء الفضیله د علامه امیني لیکل شوې او الشیعه والحاکمون د محمد جواد مغنیه لیکل شوې.

یادونه ضروري ده چې تقیه یوازې په شیعه ؤ پورې نه ده مخصوصه بلکې نور مسلمانان هم د خونړي دشمن په وړاندې چې له ټولو اسلامي مذهبونو سره مخالف دے (لکه خوارج او نور ظالم حکومتونه چې هر حرام کار یې له لاسه کیږي) کله چې له هغوي سره د مقابلې توان نه لري د تقیې لمن ته پناه وړي او د خپل سر د حفاظت لپاره خپله باطني عقیده پټه ساتي.
په دې اساس که د اسلامي ټولنې ټول غړي په خپلو فقهي مذهبونو کښې له یو بل سره تفاهم ولري او په ورورولۍ او یوالي سره ژوند وکړي د تقیې لپاره هیڅ زمینه نه پاتې کیږي.

**نتیجه :**

له دغو خبرو نتیجه اخلو چې:

1. تقیه قرآني جرړه لري او د اصحاب پیغمبر(ص) روده او د پیغمبر(صلی الله علیه و اله) تایید د اسلام په لومړیو وختونو کښې د تقیې په روا والي ښه دلیل دے.
2. د شیعه ؤ د تقیې محرک او انګیزه د شیعیانو د بې رحمانه وژنې او د هغه ظلم او ستم د توپان مخنیوے و چې دغه مذهب یې په نابودۍ ګواښۀ.
3. تقیه یوازې په شیعه ؤ پورې نه ده مخصوصه بلکې په نورو مسلمانانو کښې هم شته.
4. تقیه له مشرکانو د اسلامی عقیدو په پټولو او د کفارو په وړاندې په پرهیز پورې مخصوصه نه ده بلکې د تقیې

معیار چې د مسلمانانو د ځان حفاظت دے عام دے او د هر دشمن په وړاندې چې د مقابلې وس ورسره نه وي او د مبارزې زمینه هم نه وي برابره د خپلو باطني عقایدو پټ ساتل یوه ضروري چاره ده.

5. د اسلامي ټولنو د غړیو د تفاهم په بنه کښې په مسلمانانو کښې د تقیې لپاره هیڅ زمینه او ماحول نه پاتې کیږي.

دوه دیرشمه پوښتنه

## د ایران د اسلامي جمهوریت په اساسي قانون (آیین) کې جعفري مذهب د هیواد رسمي مذهب د ے ولې؟

ځواب:
په دې کښې شک نشته چې د ایران د اسلامي جمهوریت د اساسي قانون له نظره ټول مذهبونه محترم او د قدر وړ دي خو بې له شکه د اسلام فقهي مذهبونه (لکه جعفري، شافعی، مالکی،حنبلی، حنفی وغیره د خلکو د وګړنیزو دندو په بیانولو کښې یو شان او غږمله نه دي او په هغو کښې پریمانه اختلافات موجود دي.
له بل پلوه د یوې ټولنې د حقوقي قوانینو د تدوین او د اصولو او قانونونو د تنظیم لپاره د دغه قوانینو غږ ملتیا او هماهنګي ضروري وي.
په دې اساس یوازې یو اسلامي مذهب په یو وطن کښې د اجتماعي اصولو او قوانینو د برابرولو مرجع ګرځیدلے شي ځکه چې که د قانون مراجع او سرچینې بیلا بیلې وي هماهنګه او کوټلې قوانین نه شو جوړولے نو غوره ده چې د اسلام په فقهي مذاهبو کښې یو په سم معیار سره د اجتماعي قوانینو او اصولو ماخذ او سرچینه وګرځي چې د هیواد په قوانینو کښې د هر ډول ګډوډۍ او ناغږملۍ مخه ونیول شي او په حقوقي، ټولنیزو او

نورو اجتماعي زمینو کښې د هماهنګو برابرو او یوهیږه قوانینو د جوړولو لپاره لاره هواره شي.

## د جعفري مذهب د ټاکل کیدو معیار

اوس بله پوښتنه پیدا کیږي او هغه دا چې په کوم معیار او ملاک مو په اسلامي فقهو کښې جعفري مذهب د هیواد د قوانینو او اصولو سرچینه ګرځولې ده؟

د دې پوښتنې ځواب روښانه دے ځکه چې د ایران ډیر اکثریت خلک مسلمانان دي چې جعفري فقه د فردي او اجتماعي دندو او فرایضو بیانونکې ده او د جعفري مذهب منونکي دي او په دې توګه روښانیږي چې د ایران د اسلامي جمهوریت په اساسي قانون کښې د هیواد د رسمي مذهب په توګه د جعفري مذهب ټاکل له ټولو منطقي او حقوقي اصولو سره برابر دي.

## د نورو اسلامي مذهبونو درناوے او پوزیشن

د اسلامي ایران په اساسي قانون کښې که څه هم جعفري مذهب د هیواد "رسمي مذهب ګڼل شوے خو نور مذهبونه هم منجمله شافعي، حنبلي، مالکي، حنفي او زیدي وغیره هم محترم او د قدر وړ دي بلکې د دغو مذهبونو پیروان په لاندنیو زمینو کښې د خپلې فقهې مطابق عمل کولے شي:

1. د مذهبي مراسمو ترسره کول
2. دیني تعلیم او تربیت

3. شخصي او پرائیوټ کارونه
4. خاص مذهبي اصول لکه واده، طلاق، میراث، وصیت او داسې نور.

له دې ورتېر په داسې سیمو کښې چې په دوي کښې یو مذهب اکثریت ولري په هغه ځاي کښې قوانین د شوراګانو د اختیاراتو په حدود کښې د دغه مذهب مطابق وي په عین حال کښې د نورو مذهبونو د لارویانو حقوق هم محفوظ وي.

دلته د مسئلې د لاروښانولو لپاره د ایران د اسلامي جمهوریت د اساسي قانون د لومړي څپرکي دولسم اصل را اخلو:

"د ایران رسمي دین اسلام او مذهب جعفري اثنا عشري دے او دا اصل الی الابد نه بدلیدونکے دے او نور اسلامي مذهبونه لکه حنفي، شافعي، مالکي، حنبلي، او زیدي پوره پوره درناوے لري او د دغو مذهبونو او په دینې ښوونې او روزنې او شخصي (ذاتي) چارو (واده، طلاق، میراث، وصیت) او په دې پورې په مربوط دعاوو(دعاګانو) کښې په محکمې کښې رسمیت لري او په هره سیمه کښې چې په دغو کښې د یوه مذهب لارویان په اکثریت کښې وي ځایي قوانین به د شوراګانو د اختیاراتو په حدود کښې د هغه مذهب مطابق وي، د نورو مذهبونو د پیروانو د حقوقو په ساتلو سره"

د دغه اصل په رڼا کښې د ایران د اسلامي جمـــــهوریت د اساسي قانون له نظره د اسلامي مذهبونو احترام او موقعیت روښانه کیږي.

## دري دیرشمه پوښتنه

# آیا شیعه د وتر لمونځ واجب ګڼي؟

## ځواب:

د وتر لمونځ د شپې په نوافلو کښې راځي او د دغه لمونځ کول د مسلمانانو او د رسول الله مبارک د منونکو لپاره مستحب دي.خو شیعه فقیهانو د کتاب او سنت په رڼا کښې د پیغمبر(ص) د ځانګړنو د ځینو چارو یادونه کړې ده چې یوه ځانګړنه (خصوصیت) پکښې په پیغمبر(ص) د نماز وتر واجب کیدل دي.

علامه حلی په خپل کتاب تذکرة الفقهاء کښې اویا څیزونه د پیغمبر(ص) خصوصیات او ځانګړتیاوې بیان کړي (چې یوازې په هغوي واجب دي) او د خپلو خبرو په پیل کښې داسې وایي:

"فأمَا الوَاجِبَات عَليهِ دُون غَيره مِن اُمته اُمُورٌ: الف: السواک، ب: الوتر، ج: اَلاُضحیه، رُوِیَ عنه(ص) أنه قال ثَلاثٌ کتب علی و لم تکتب علیکم، السواک، و الوتر و الاُضحیه..."[1]

هغه څه چې یوازې په رسول الله مبـــــارک واجب دي نه د هغه په امت څو څیزونه دي: الف: مسواک کول، ب: د وتر لمونځ، ج: قرباني کول، له رسول الله(ص) روایت دے چې وې فرمایل: درې څیزونه پر ما واجب شول نه پر تاسو: مسواک کول، د وتر لمونځ او قرباني کول.

---

1. تذکرة الفقهاء 2ټوک کتاب النکاح څلورمه سریزه.

په دې اساس د شيعه ؤ له نظره وتر لمونځ په پيغمبر(ص) واجب دے او په نورو مسلمانانو مستحب.

## څلور دیرشمه پوښتنه

# آیا د خدای د ولیانو په غیبي قدرت عقیده شرک دے؟

ځواب:

روښانه ده چې هر کله انسان له بل چا یو کار وغواړي، هغه د دغه کار په کولو توانمن او وسیال ګڼي او دا توانمني په دوه ډوله ده:

1 . په دغه توانمنۍ او وس خبریدل د مادي او طبیعي ځواک په دائرې کښې ده مثلاً دا چې له چا وغواړو چې د اوبو لوښے مونږ ته راکړي.

2. او کله هم دغه طاقت غیبي طاقت دے او د مادیاتو له چوګاټه بهر دے مثلاً دا چې که څوک عقیده ولري چې د خدای نازولے بنده لکه حضرت عیسیٰ بن مریم د لا علاجه ناروغیو درملنه کولے شي او په خپل مسیحایي دم سره د صعب العلاجه ناروغیو علاج کولے شي. روښانه ده چې په دغه ډول غیبي قدرت عقیده که د خدای په اراده او قدرت تکیه ولري په طبیعي او مادي طاقت د عقیدې په شان ده او هیڅکله د شرک سبب نه کیږي ځکه هغه رب چې انسانانو ته یې مـــــادي او طبیعي طاقت

ورکړے دے، ځینو بندګانو ته غیبي طاقت هم ورکولے شي.

اوس د دغه ځواب د وضاحت لپاره وایو چې د خــدای د ولیانو او غوره کسانو په غیبي طاقت عقیده په دوو طریقو تصور کولے شو.

1. د یو کس په غیبي طاقت عقیده خو په دې ډول چې هغه کس په دغه طاقت کښې خپلواکه او د خداي له ارادې او قدرته ازاد وګڼو په دې ډول چې هغه ته د خداي د کار نسبت ورکړو.
په دې کښې شک نیشته چې په دغه ډول مستقل طاقت چې د خداي له ارادې بهر وي ، عقیده لرل د شرک سبب کیږي ځکه چې په دې بڼه کښې مونږ بې له خدایه بل کس د مستقل طاقت سرچینه او اصل ګڼو او هغه ته د خداي د کار نسبت ورکوو حال دا چې د ټول طاقت او کارونو سرچینه د نړۍ پروردګار او د هغه لایزال ذات دے.
2. د خداي د ځینو غوره بندګانو په غیبي قدرت عقیده په دې عقیدې سره چې دغه طاقت د خداي لایزال له طاقته سرچینه اخستې ده او د خداي ولیان – د خداي په امر – د دغه طاقت د تجلۍ او ښکاره کولو یوازې وسیله دي او په خپلو کارونو او غیبي طاقت کښې په لوي پروردګار تکیه لري.
روښانه ده چې دا ډول عقیده په دې معنا نه ده چې مونږ الهي ولیان نعوذبالله خداي وګڼو یا ورته د خداي د کار نسبت ورکړو کــــه چې په دې بڼه کښې د خداي صالح بندګان د خداي په اذن او د هغه په ارادې خپل خداي ورکړے غیبي طاقت ښیي.
قرآن مجید په دې هکله فرمایي:
"و مَا کَانَ لِرّسولِ أن یَأتِیَ بآیةٍ إلاّ بإذنِ اللّه".[1]
هیڅ پیغمبر کومه معجزه نه شي راوړلے مګر د خداي په اذن.

1. رعد. 38 ایت

په دې بيان سره ښه معلوميږي چې داسې عقيده نه يوازې دا چې د شرک سبب نه ګرځي بلکې د توحيد او يو خداي منلې له اصل سره بشپړه هماهنګه ده.

## د قرآن له نظره دخداي د اولياوو غيبي طاقت

د اسلام آسماني کتاب په ډېر صراحت سره د خداي د ځينو غوره بندګانو نوم اخلي چې د خداي په اذن يې داسې حيرانوونکے طاقت درلود دلته دغو ځينو غيبي طاقتونو ته اشاره کوو.

## 1. د حضرت موسیٰ غيبي طاقت

خداي تعالیٰ خپل پيغمبر موسیٰ ته امر وکړ چې خپله امسا(عصا) په يو کاڼي ووهي چې ورځينې د خوږو اوبو چينې روانې شي.

"وَإِذْ اسْتَسْقَى مُوسَى لِقَوْمِهِ فَقُلْنَا اضْرِب بِّعَصَاكَ الْحَجَرَ فَانفَجَرَتْ مِنْهُ اثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْناً"[1]

او هــغه وخت چې موسی د خپل قوم لپاره اوبه وغوښتې هغه ته مو وويل په خپلې امسا سره دغه کاڼے ووهه، نو له هغه ډېرې دولس د اوبو چينې روانې شوې"

## 2 . د حضرت عيسیٰ غيبي قدرت

---

1. بقره 60.ايت

د حضرت عیسی غیبي قدرت د قرآن په مختلفو ځایونو کښې راغلے دے چې ځینو ته یې اشاره کوو:

"أَنّي أَخْلُقُ لَكُم مّنَ الطّينِ كَهَيْئَةِ الطّيْرِ فَأَنفُخُ فيهِ فَيَكُونُ طَيْراً بِإِذْنِ اللّهِ وَأُبْرِئُ الأكْمَهَ والأَبْرَصَ وَأُحْيِي الْمَوْتَى بِإِذْنِ اللّهِ"[1]

زهٔ ستاسو په وړاندې د خټې نه د مارغه په شان یو شکل جوړوم. بیا په کښې پوکې ورکوم، نو هغهٔ به د خداې په حکم مارغهٔ شي. او پیدایشي ړوند او برګ روغوم، او د الله په حکم مړي ژوندي کوم.

## 3. د حضرت سلیمان غیبي طاقت

قرآن مجید د هغه غیبی طاقت په هکله چې حضرت سلیمان درلود داسې فرمایي:

"و ورثَ سُلَيمان داوودَ وَ قَالَ يا اَيّها الناسُ عُلمنَا مَنطِقَ الطَيرِ و اوتينا مِنْ كُلّ شَيئٍ إنّ هٰذا لهوالفضلُ المبينَ".[2]

سلیمان د داوود وارث شو او داسې یې وویل اي خلکو مونږ ته د مارغانو ژبه وښودل شوه او هر نعمت مونږ ته راکړل شو دا ښکاره فضل او بخشش دے.

په دې کښې شک نیشته چې ځینې کارونه لکه له کاڼي سره د حضرت موسیٰ امساء لګیدلو سره د اوبو د چینو روانیدل، یا له خټې د ژوندي مارغه جوړول د لاعلاجه ناروغیو درملنه او د مړیو

1. ال عمران 49.

2 . نمل 16آیت.

ژوندي کول چې حضرت عیسی به کول، یا د حضرت سلیمان د مارغانو په ژبه پوهیدل داسې چارې دي چې خارق العاده او له طبیعي بهیر پورته دي او یو ډول غیبي قدرت او سلطه ګڼل کیږي.
نو کله چې قرآن مجید په دغو آیتونو او نورو آیتونو کښې د خداي د غوره بندګانو د غیبي طاقت خبره کوي آیا په دغو آیتونو زمونږ عقیده چې د خداي د ولیانو د لوي او خارق العاده طاقت ښودنه کوي په دین کښې بدعت یا د شرک سبب کیږي؟
په دې بیان سره ښه څرګندیږي چې د صالحو بندګانو په غیبي طاقت د عقیدې مطلب دا نه دے چې هغوي خداي وګڼل شي یا هغوي ته د خداي د کارونو نسبت ورکړل شي ځکه چې که دغه ډول عقیده د هغوي د الوهیت یا خدایۍ په معنا وي نو باید ووایو چې حضرت موسیٰ، عیسیٰ او سلیمان د قرآن له نظره خدایان او د یوتاګان ګڼل شوي دي. حال دا چې ټول مسلمانان پوهیږي چې قرآن مجید الهي اولیاء د خداي غوره بندګان ګڼي.
تر دې ځایه معلومه شوه چې د خداي د نزدې کسانو په غیبي طاقت عقیده که مونږ د هغوي طاقت د خداي په طاقت متکي او د هغه بې پایانه قدرت له برکته وګڼو او هغوي د خداي د قدرت د څرګندولو وسیله وګڼو، دا کار نه یوازې د شرک سبب نه کیږي بلکې د حقیقي توحید له اصل سره بشپړ سمون خوري ځکه چې د توحید او یو خداي منني معیار دا دے چې د نړۍ ټول ځواکونه د خداي قدرت وګڼو او هغه ذات د ټولو حـــــــرکتونو او طاقتونو سرچینه وګڼو.

# پينځه دیرشمه پوښتنه

## ولې د امام مقام د رسالت تر مقامه لوړ دے؟

ځواب:
دې پوښتنې ته د ځواب لپاره اول په قرآن او حدیث کښې د دریو راغلو الفاظو "نبوت، رسالت، او امامت" وضاحت کوو چې ولې د امامت مقام تر دوو نورو مقامونو لوړ دے.

1: د نبوت مقام
د نبوت کلمه د "نباء" له جرړې اخستل شوې ده چې معنا یې ده مهم او لوي خبر نو د نبي د کلمې لغوي معنا ده هغه کس چې لوي او اهم خبر ولري.[1] د نبی کلمه چې په فارسۍ کښې ورته برابر لفظ پیامبر او په پښتو کښې پیغمبر دے د قرآن په لغت کښې هغه انسان ته ویل کیږي چې په مختلفو طریقو له لویه خدایه وحي اخلي او یو داسې خبریال او راپورګر دے چې بې د انساني واسطې د خداي لخوا خبر راوړي عالمانو دا کلمه داسې تعریف کړې ده.
"إنّهُ موَدٌّ مِنَ اللهِ بِلا واَسِطةٍ مِنَ البَشَرِ".[2]

1. که د نبي لغوي جرړه لازمه صیغه وي نو د اول په معنا ده او که متعدي وي نو دوهم معنا لري.
2. رسائل العشر (د شیخ طوسی لیکل شوې) 111مخ.

نبی هغه کس دے چې د بل کوم انسان له واسطې پرته د خداي وحي خلکو ته بیان کړي.
په دې اساس د "نبی" دنده صرف دومره ده چې هغه څه چې هغه ته الهام شي د هغه د راپور او د وحي اخیستل او خلکو ته یې بیانول، قرآن مجید په دې هکله فرمايي:
فَبَعَثَ اللّٰهُ النبيينَ مُبَشرينَ وَ مُنذِرينَ". [1]
خداي تعالیٰ پیغمبران د زیري راوړونکو او خبرداري ورکوونکو (ویروونکو) په توګه وګمارل.

## 2:د رسالت مقام

د رسول لفظ د وحی په لغت کښې هغو پیغمبرانو ته ویل کیږي چې د خداي لخوا پر وحي اخستلو او خلکو ته د خبر پر راوړلو سربیره د خپل پروردګار له لورې د الهي رسالت د رسولو مسئولیت په غاړه لري او ماموریت لري چې دغه رسالت خلکو ته رسوي.
قرآن مجید په دې هکله فرمايي:
"فَإن تَوَلّيتُم فَاعلَموا أنّما على رسولنا البلاغ المبين"[2]
که مخ مو واړوٸ پوه شئ زمونږ پیغمبر(استـــــازے) بې د روښانه رسالت له رسولو بل مأموریت نه لري.

1. بقره 213 آیت.
2. مائده 92 آیت.

نو په دې اساس د رسالت مقام يو بل مقام دے چې نبی ته ورکول کيږي او په بله وينا د رسالت او نبوت هر يو مفهوم د هغو پيغمبرانو چې د خداي له لورې ورته وحي کيږي د ځانګړتياوو يوه خصوصيت ته اشاره کوي.

په دې ډول چې پيغمبران له دې امله چې د خداي د وحي اخستونکي او د خبر لرونکي دي "نبی" دي او له دې نظره چې خلکو ته د رسالت او پيغام د رسولو دنده لري رسولان دي".

له دغو خبرو داسې نتيجه اخلو چې پيغمبران تر هغې شيبې چې د نبوت او رسالت په مقام کښې دي يوازې د هغو هدايتوونکو په شان دي چې حلال او حرام اعلانوي او خلکو ته د نيکمرغۍ او خوشبختۍ لاره ښيي او د خداي لخوا د خبر رسولو او د هغه د پيغام له رسولو پرته چې د هغوي په اوږه کيښودل شوے بل مسئوليت نه لري.

## 3. د امامت مقام

د "الهی امامت" مقام د قـرآن مجيد له نظره له دغو دوو مقامونو جدا او د خلکو د مشرۍ لارښودنې او د ټولنې د چلونې لپاره لا ډيرو اختياراتو سره يوځاي دے اوس د قرآن د نوراني آيتونو په رڼا کښې په دې هکله خپل دليلونه ذکر کوو.

1ـ قرآن مجيد حضرت ابراهيم(ع) ته د امامت د مقام د ورکولو په هکله داسې وايي:

"وَإِذ ابْتَلَى إِبْرَاهِيمَ رَبُّهُ بِكَلِمَات فَأَتَمَّهُنَّ قَالَ إِنِّي جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَاماً قَالَ وَمِن ذُرِّيَّتِي قَالَ لاَ يَنَالُ عَهْدِي الظَّالِمِينَ".[1]

هغه وخت چې خداي تعالیٰ خپل پیغمبر ابراهیم په څو امتحانونو سره وازمایه او هغه هم له امتحاناتو سر لوړے راووته خداي تعالیٰ هغه ته وفرمایل: مونږ ته د خلکو لارښود او امام وګرځولې، ابراهیم وویل آیا زما بچیانو ته به هم دغه مقام ورکړې؟ ویې فرمایل: دا مقام (له هغوي څخه) ظالمانو ته نه رسیږي.

د قرآن د دغه آیت په رڼا کښې دوه حقیقتونه ښکاره کیږي.

الف: دغه آیت په ډاګه له دوو مفهومونو یعنې له رسالت او نبوت سره د امامت د مفهوم د فرق ګواهي ورکوي، ځکه چې ابراهیم(ع) له دغو امتحانونو کلونه کلونه مخکښې چې یو امتحان پکښې د خپل زوي (اسماعیل) د حلالولو اراده وه د نبوت مقام ته رسیدلے ؤ او دا خبره په لاندیني دلیل سره ثابتیږي.

ټولو ته پته ده چې لوي خداي په بوډاتوب کښې حضرت ابراهیم(ع) ته دوه زامن (اسماعیل او اسحاق) ورکړل ځکه چې قرآن مجید د هغه له خولې داسې وایي:

"الحمدُ للّه الذِیّ وَهَبَ لِیَ علی الکبر اسماعیل و اسحاق".[2]

د خداي شکر چې په بوډاتوب کښې یې ماته اسماعیل او اسحاق راکړل.

له دې معلـــومیږي چې د خداي تعالیٰ له لورې یو امتحان یعنې د

1. بقره 124 آیت.

2. ابراهیم 29 آیت.

حضرت اسماعیل د قربانۍ اراده او له دغو سختو امتحانونو وروسته خداي تعالیٰ د امامت لوي مقام هغه ته ورکړ دا د حضرت ابراهیم(ع) د عمر په وروستیو او بوډاتوب کښې وو او هغه د خپل ژوند په وروستیو کښې د امامت مقام ته رسیدلے دے حال دا چې ډېر کاله مخکښې یې د نبوت مقام درلود. ځکه چې له دې مخکښې چې د "ذرّیه" یعنې اولاد خاوند شي د خداي وحي چې د نبوت نښه ده په هغه نازلیدله.[1]

ب: همدا راز له دغه آیته "وَإِذِ ابْتَلَى إِبْرَاهِيمَ رَبُّهُ بِكَلِمَاتٍ فَأَتَمَّهُنَّ قَالَ إِنِّي جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَاماً قَالَ وَمِن ذُرِّيَّتِي قَالَ لاَ يَنَالُ عَهْدِي الظَّالِمِينَ" دا استفاده هم کیږي چې د الهي امامت او د ټولنې د مشرۍ او د امت د رهبرۍ مقام تر نبوت او رسالته لوړه مرتبه لري ځکه چې د قرآن ایتونه ګواهي ورکوي چې په عین حال کښې چې حضرت ابراهیم(ع) د نبوت او رسالت مقامونو ته رسیدلے ؤ باید لا ډېر سخت امتحانونه او ازمیښتونه یې تېر کړي وے او په هغو کښې له کامیابۍ او سر لوړۍ وروسته هغه ته د امامت مقام ورکړل شو او د دې خبرې علت هم روښانه دے ځکه چې د الهي امامت په مقام کښې د وحي د اخستلو او خلکو ته د هغه د رسولو پر دندې سر بیره، د امت مشري او د ټولنې سرپرستي او کمال او نیکمرغۍ ته د رسولو لپاره د خلکو د چارو سمه اراده هم شامله ده. او فطري خبره ده چې داسې مقام خاص حساسیت او عظمت

---

1. په دې مسئله کښې د صافات سورې **99 – 102** آیتونو د حجر سورې **53 – 54** آیتونو او د هود سورې **70 – 71** آیتونو ته مراجعه وکړئ.

لري چې هغه ته رسیدل بې له دې چې یو انسان له سختو ازمایشونو او ازمیښتونو تېر شي، ممکنه نه ده.

2. له تېر آیته روښانه شوه چې خداي تعالیٰ له هغو سختو ازمیښتونو وروسته چې له حضرت ابراهیم یې واخستل هغه ته د ټولنې د مشرۍ او د امت د لارښودنې دنده ورکړه هغه وخت ابراهیم(ع) له خدایه وغوښتل چې دغه مقام د هغه اولاد ته هم ورکړي.

اوس د قرآن د نورو آیتونو په رڼا کښې معلومیږي چې خداي تعالیٰ د حضرت ابراهیم(ع) غوښتنه ومنله او د نبوت له مقامه وروسته یې د ټولنې مشري او د امت د حکومت کولو مقام د هغه غوره او نیکو اولادو ته ورکړ، قرآن مجید په دې هکله فرمایي:

فَقَدْ آتَيْنَا آلَ إِبْرَاهِيمَ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَآتَيْنَاهُم مُّلْكاً عَظِيماً"[1]

مونږ د ابراهیم آل ته (اسماني) کتاب حکمت او لوي حکومت ورکړ.

له دغه آیته استفاده کیږي چې امامت او د ټولنې مشري د نبوت له مقامه پرته بل مقام دے چې خداي تعالیٰ خپل پیغمبر حضرت ابراهیم(ع) ته د سختو الهي ازمیښتونو له پاس کولو وروسته ورکړ او کله چې هغه له لویه خدایه وغوښتل چې د حکومت او رهبرۍ مقام د هغه په اولاد کښې هم پاتې کړي نو خداي تعالیٰ ومنله چې دغه ستر مقام د هغه عادلو بچیانو ته هم ورکړي او هغو ته یې پر (اسماني) کتاب او حکمت چې د نبوت او رسالت راز

1. نساء 55 آیت.

دے سربیره ملک عظیم (چې هماغه په خلکو حکومت کول او د هغوي مشري ده) ورکړه او په دې طریقې یې د حضرت ابراهیم سوال پوره کړ، او ځکه وینو چې د حضرت ابراهیم(ع) ځینو لمسیانو لکه یوسف، داوود او سلیمان(ع) پر نبوت سربیره حکومت او د ټولنې مشري هم درلوده.

په دې بیان سره ښه معلومیږي چې د امامت مقام له نبوت او رسالته جدا مقام دے او له دې امله چې اختیارات او ذمه وارۍ یې زیاتې دي لوړ مقام او زیات ارزښت لري.

د امامت د مقام لوړاوے

له تېرو خبرو معلومه شوه چې د نبی او رسول د کار حدود او دایره له دې نظره چې د نبوت او رسالت لرونکي دي یوازې خلکو ته د تذکر ورکول او هغوي ته د لارې ښودل دي او کله چې نبي یا رسول د امامت مقام ته ورسیږي د هغه ذمه واري درنیږي او له دې وروسته د یوې آیډیالې او نیکمرغه ټولنې د جوړولو لپاره د سپیڅلې شرعې د اوامرو د اجراء او د الهي پروګرامونو د پلي کولو دنده ورپه غاړه کیږي. چې خپل امت په داسې لاره روان کړي چې د دواړو جهانونو نیکمرغي یې په برخه شي.

روښانه ده چې د دغه شان لویې ذمه وارۍ زغمل لوي معني قدرت او خاصې وړتیا ته ضرورت لري او په دغه ډول درانه مسئولیت عمل کول چې تل ورسره سخت مشکلات او له نفساني خواهشاتو سره مبارزه یو ځای وي د خدای په لاره کښې لازیاتې فداکارۍ

صبر او زغم ته اړتيا لري او د خداي له عشقه او په الهي رضا کښې له فنا پرته تحقق نه شي موندلے او له دې امله خداي تعالیٰ د امامت مقام د حضرت ابراهيم له سختو ازميښتونو او ملاماتوونکو ازمايشونو وروسته د عمر په وروستيو کښې هغه ته ورکړ او له همدې امله يې د حضرت محمد مصطفیٰ (ص) په شان خپل تر ټولو غوره بنده ته د امامت مقام او د امت مشري ورکړه او هغوي ته يې د ټولنې د مشرۍ او
د حکومت د مقام نعمت ورکړ.

آيا د نبوت او امامت تر مينځ تلازم موجود دے؟

له دې پوښتنې وروسته يوه بله پوښتنه پيدا کيږي او هغه دا چې هر پيغمبر چې د نبوت مقام ته ورسيدۀ آيا ضروري ده چې امام هم وي؟ او چا ته چې د امامت مقام ورکړل شو ضروري ده چې پيغمبر هم وي؟

د دواړو پوښتنو ځواب منفي دے اوس د وحي د منطق په رڼا کښې د دغه مسئلې وضاحت کوو: له هغو روايتونو چې د طالوت په هکله او له جالوت ظالم سره د هغه د مبارزې په هکله نازل شوي دي ښه روښانه کيږي چې د حضرت موسیٰ له وفاته وروسته خداي تعالیٰ د نبوت مقام يو کس ته چې ښايي "اشموئيل" نوميدۀ ورکړ حال دا چې د امامت او رهبرۍ او د حکومت مقام يې د طالوت په غاړه کيښودۀ، اوس به د دې کيسې وضاحت وکړو:

د حضرت موسیٰ(ع) له وفاته وروسته ځينو بنی اسـرائيلو د خپل

وخت پیغمبر ته وویل: "زمونږ لپاره یو مشر وټاکه چې د هغه په کومانده د خداي په لاره کښې وجنګیږو، بالاخره د هغوي پیغمبر داسې وویل:

"وَقَـــالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ إِنَّ اللّهَ قَدْ بَعَثَ لَكُمْ طَالُوتَ مَلِكاً قَالُوَاْ أَنَّى يَكُونُ لَهُ الْمُلْكُ عَلَيْنَا وَنَحْنُ أَحَقُّ بِالْمُلْكِ مِنْهُ وَلَمْ يُؤْتَ سَعَةً مِّنَ الْمَالِ قَالَ إِنَّ اللّهَ اصْطَفَاهُ عَلَيْكُمْ وَزَادَهُ بَسْطَةً فِي الْعِلْمِ وَالْجِسْمِ وَاللّهُ يُؤْتِي مُلْكَهُ مَن يَشَاءُ وَاللّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ"[1]

خداي تعالیٰ طالوت ستاسو د مشرۍ لپاره وګماره بنی اسرائیلو وویل: هغه څرنګه زمونږ واکمن کیدلے شي حال دا چې مونږ تر هغه زیاته وړتیا لرو او له هغه سره زیات دولت (شتمني) نشته؟ د هغوي پیغمبر وویل: خداي تعالیٰ هغه ستاسو لپاره خوښ کړے دے او هغه ته یې زیات علم او بدني طاقت ورکړے دے او خداي تعالیٰ هر چا ته چې وغواړي خپل ملک (مشري) ورکوي او خداي د لوي احسان خاوند او پوه دے"

له دغه آیتونو دا ټکي لاسته راځي:

1. کیدے شي ځینې مصلحتونه وي چې نبوت له امامته جدا وي او په یوهٔ وخت کښې نبوت او پیغمبري له یوهٔ کس او امامت او مشري له بل کس سره وي او هر یو د دغه منصب او مقام چې ورکړل شوے وړتیا او شایستګي ولري او د دغو دوو مقامونو د جدایۍ په خاطر بني اسرائیلو هیڅکله اعتراض ونه کړ چې اي پیغمبره ته تر طالوته زیات غوره او ښه یې بلکې د اعتراض لپاره

---

1. بقره 247 آیت.

يې وويل چې مونږ تر هغه غوره يوو.
2 . هغه مقام چې طالوت لاسته راوړ د خداي تعالیٰ له لوري ؤ او خداي تعالیٰ هغه ته دغه مقام بخښلے ؤ هلته چې فرمايي : "إنّ الله قد بعث لکُم طالوت مَلکاً".[1]
"خداي تعالیٰ طالوت ستاسو د مشرۍ لپاره وګمارۀ". او هم داراز فرمايي: "إنّ اللهَ اصطفاهُ عَلَيْکُم". خداي تعالیٰ هغه په تاسو خوښ کړ.
3 . د طالوت الهی مقام يوازې د سپايانو کومانده نه وه بلکې هغه د بنی اسرائيلو واکمن او چارواکے ؤ په دې دليل چې آيت فرمايي: "ملکاً" (يعنې د حکومت چلوونکے او واکمن) که څه هم په هغه ورځ د دغه مشرۍ مقصد د خداي په لاره په جهاد کښې د بني اسرائيلو مشري وه. خو د هغه الهي منصب هغه ته د نورو کارونو اجازه هم ورکوله چې ټولې د حکومت چارې او کارونه وو په دې دليل چې آيت په اخر کښې فرمايي:
"والله يُوتی مُلکَهُ مَنْ يَشاءُ"
خداي تعالیٰ هر چاته چې وغواړي خپل ملک (واکمني) ورکوي.
4. د ټولنې د رهبرۍ "امامت" او د امت د مشرۍ مهم شرط د علم او د ضروري معنوي او جسمي وس پراختيا او زياتوالے دے په تيره بيا د هغه وخت د واکمنانو لپاره چې ضروري وه مشر له سپايانو سره يوځاي جنګ ته لاړ شي.[2]

1. بقره 247 ایت
2. د منشور جاوید قرآن لیک استاد جعفر سبحاني نه اقتباس.

نو څه چې وويل شو واضحه شوه چې د نبوت او امامت تر مينځ ملازمه نشته او له يو بله جدا کيد ے شي. يعنې ممکنه ده چې يو کس د نبوت مقام ته ورسيږي خو د امت امام او مشر چې د هغوي د واکمنۍ دنده په غاړه ولري نه وي يا يو انسان د خداي له لورې د يوې ټولنې سرپرستي او مشري په غاړه واخلي خو پيغمبر نه وي او کله هم خداي تعالیٰ يو غوره او شايسته انسان ته دواړه مقامونه په يو ځاي ورکوي لکه څنګه چې قرآن مجيد فرمايي:

" فَهَزَمُوهُم بِإِذْنِ اللّه وَقَتَلَ دَاوُودُ جَالُوتَ وَآتَاهُ اللّهُ الْمُلْكَ وَالْحِكْمَةَ وَعَلَّمَهُ مِمَّا يَشَاءُ"[1]

د طالوت لشکر د جالوت سپايانو ته ماته ورکړه او داود(پيغمبر) جالوت وواژه او خداي تعالیٰ د ټولنې واکمني (پر پيغمبرۍ سر بيره) او حکمت هغه ته ورکړ او هغه څه يې چې غوښتل هغه ورزده کړل.

---

1. بقره 351 آيت.

## شپږ دیرشمه پوښتنه

## له شرکه د توحید د پیژندلو معیار څه دے؟

**ځواب:**
د توحید او شرک په مسئلو کښې تر ټولو مهمه مسئله د دغو دوو د پیژندلو د معیار پیژندل دي او تر څو چې دا مسئله په بنیادي ډول حل نه شي ځینې مسائل چې بنیادي نه دي نه شي هواریدلے له دې امله د توحید او شرک مسئله په مختلفو اړخونو کښې خو په لنډه ډول څیړو.

1. په ذات کښې توحید
په ذات کښې توحید په دوه ډوله مطرح کیږي
الف: خداي تعالیٰ (او د علم کلام د عالمانو په تعبیر واجب الوجود) یو دے او سارے او مثل نه لري دا هماغه توحید دے چې خداي تعالیٰ په قرآن مجید کښې هغه په مختلفو طریقو سره یاد کړے دے او فرمایي:
"لَیسَ کَمِثلِهِ شَئٌ".[1]
هیڅ څیز د هغه په شان او مثل نه دے.
او په یو بل ځاي کښې فرمایي:
"لَم یَکُن له کُفواً احد".[1]

1. شوریٰ 11 آیت.

د هغه لپاره هیڅ سارے او برابر نیشته.
البته کله کله دغه ډول توحید په عوامو کښې په بله طریقه تفسیریږي او د عددي توحید شکل خپلوي او هغه دا چې خداي یو دے دوه نه دي البته څرګنده ده چې دغه (عددي) توحید له الهي مقام سره نه ښايي.
ب: د خداي ذات بسیط دے نه مرکب ځکه چې یو څیز په ذهن (سوچ) یا په خارج کښې مرکب وي نو هغه خپلو اجزاوو (برخو) ته محتاج وي، نیاز د امکان نښه ده او امکان هم علت ته محتاج دے او دا څیزونه د واجب الوجود له ذات سره سمون نه خوري.

## 2. په خالقیت کښې توحید

په خالقیت کښې توحید د توحید له مراتبو دے چې عقل او نقل منلے دے د عقل له نظره له خدایه پرته هر څه یو امکاني نظام دے چې پخپله هیڅ کمال او جمال نه لري او هر یو څیز هر څه چې لري له هغه ذاته یې سرچینه اخستې چې غني بالذات دے نو څه چې په نړۍ کښې د کمال او جمال جلوې ګورو ټولې د خداي تعالیٰ له لورې دي.
په قرآن کښې ډېر آیتونه په خالقیت کښې په توحید صراحت لري چې د نمونې لپاره یې یوه ته اشاره کوو:
"قُلِ اللهُ خَالِقُ كُلّ شِئٍ وَهُو الواحِدُ القهّار".[2]

1. اخلاص 4 آیت.
2. رعد 16 آیت.

ووایه خداي تعالیٰ د هر یو څیز پیدا کوونکے او یوازینے او غالب دے نو په کلي ډول په خالقیت کښې په توحید کښې د الهیونو تر مینځ اختلاف نه شي کیدے. خو په خلقت او پنځون کښې توحید دوه تفسیره لري چې د دواړو یادونه کوو.

الف: په موجوداتو (مخلوقاتو) کښې هر ډول علمی او معلولي نظام او سبب او مسببي روابط ټول علت العلل او مسبب الاسباب ته ورګرځي او په حقیقت کښې خپلواکه او اصیل خالق خداي دے او په خپلو معلولونو کښې له خدایه پرته د نورو علتونو تاثیر تبعي او د خداي په حکم او مشیت سره دے. په دې نظریې کښې په نړۍ کښې د علت او معلول په نظام چې د انسان علم هم ورځینې پرده پورته کړې ده اعتراف کیږي خو په عین حال کښې دا ټول نظام په یو ډول په خداي پورې تړلے دے او هغه دے چې دا نظام یې پیدا کړے دے او اسبابو ته یې سببیت او مؤثراتو ته یې تأثیر ورکړے دے.

ب: په جهان کښې یوازې یو خالق موجود دے او هغه خداي دے او د هستۍ په نظام کښې د اشیاوو تر مینځ هیڅ ډول تاثیر او تأثر نه دے موجود او خداي د ټولو طبیعي ښکارندو بلاواسطه خالق دے او حتی د انسان طاقت د هغه په کار کښې هم تاثیر (اغیز) نه لري.

په دې اساس په نړۍ کښې یوازې یو علت موجود دے او هغه د هغو ټولو علتونو ځاي ناستے دے چې په علم کښې ورته طبیعي علتونه ویل کیږي.

البته په خالقیت کښې د توحید لپاره په دغه تفسیر ځینې اشاعره عالمان عقیده لري خو د هغوي ځینې شخصیتونه لکه امام الحرمین[1] او په دا وروستیو کښې شیخ محمد عبده په رساله توحید کښې د دغه تفسیر انکار کړے دے او لومړے تفسیر یې غوره کړے دے.

3. په تدبیر کښې توحید

له دې امله چې خلقت یوازې په خداي پورې مخصوص دے د هستۍ د نظام تدبیر هم د هغه ذات په لاس کښې دے او په نړۍ کښې یوازې یو تدبیروونکے (مدبر) موجود دے او هماغه عقلي دلیل چې په خالقیت کښې توحید ثابتوي په تدبیر کښې هم توحید ثابتوي.

قرآن مجید هم په ډېرو آیتونو کې خداي تعالیٰ د جهان یوازینے مدبر ګڼلے دے او فرمایي:

"قُلْ أغیرَ اللهِ أبغی رَباً وَ هو رَبّ کلِّ شیئٍ".[2]

"ووایه آیا بې له خدایه بل پروردګار ولټوم حال دا چې هغه د هر څه مدبر دے".

البته هغه دوه تفسیرونه چې په خالقیت کښې د توحید لپاره بیان شول په تدبیر کښې د توحید لپاره هم مطرح کیږي او زمونږ له نظره په تدبیر کښې د توحید مقصد دا دے چې مستقل او

---

1. ملل و نحل شهرستاني اول ټوک.
2. انعام 164 آیت.

خپلواکه مدبر يوازې خداي دے. نو که د هستۍ د نظام په موجوداتو کښې يو ډول تبعي تدبيرونه په نظر راځي دا ټول د خداي په اراده او خوښه کيږي قرآن مجيد هم په حق (خداي) پورې د دغه ډول مدبرانو تړښت (وابستګۍ) ته اشاره کوي او فرمايي "فَالمُدَبراتِ اَمراً".[1]
هغوي چې د هستۍ د نظام چارې چلوي (اداره کوي).

## 4. په حاکميت (واکمنۍ) کښې توحيد

په حاکميت کښې د توحيد مطلب دا دے چې حکومت د يو ثابت حق په توګه د خداي تعالیٰ دے او يوازې هغه د ټولنې په وګړو حاکم (واکمن) دے لکه څنګه چې قرآن مجيد فرمايي:
"إن الحکم إلاّ للّه".[2]
د حاکميت حق يوازې د خداي تعالیٰ دے.
نو د نورو حکومت بايد د خداي تعالیٰ په اراده او مشيت سره وي چې غوره او نيک انسانان د ټولنې د چارو واګې په لاس کښې واخلي او خلک د کمال او نيکمرغۍ په لور روان کړي لکه قرآن مجيد چې فرمايي:
"يا داوودُ إنّا جَعَلْناكَ خَلِيفَةً فی الاَرضِ فَاحکُم بَينَ الناس بالحقّ".[3]

1. نازعات 5 آيت.
2. يوسف 40 آيت.
3. ص 26 آيت.

اي داؤده مونږ ته په ځمکه کښې خپل استازے وټاکلې نو په خلکو کښې په حق سره واکمني کوه.

### 5. په اطاعت کښې توحيد

په طاعت کښې د توحيد مطلب دا دے چې مطاع بالذات او هغه ذات چې په اصل کښې يې پيروي لازمه ده لوي خداي دے. نو د نورو کسانو لکه پيغمبر(ص)، امام، فقيه، پلار مور وغيره د اطاعت ضروروي والے ټول د خداي په حکم او ارادې سره دي.

### 6. په قانون جوړونې او تشريع کښې توحيد

په تقنين او قانون جوړونې کښې د توحيد معنا دا ده چې د قانون ټاکلو او شريعت جوړولو حق يوازې د خداي دے او په دې بنياد اسماني کتاب هر هغه حکم چې د الهي قانون له چوکاټه بهر وي کفر، فسق او ظلم ګڼي هلته چې فرمايي:

"وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَا أَنزَلَ اللّهُ فَأُوْلَـئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ".[1]

هغه کسان چې د خداي د قوانينو مطابق حکم نه کوي کافران دي.

"وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَا أَنزَلَ اللّهُ فَأُوْلَـئِكَ هُمُ الفَاسِقُونْ".[2]

هغه کسان چې د خداي د قوانينو په بنياد حکم نه کوي فاسقان دي.

"وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَا أَنزَلَ اللّهُ فَأُوْلَـئِكَ هُمُ الظالِمون".[3]

---

1. مائده 44 آيت.
2. مائده 47 آيت.
3. مائده 45 آيت.

څوک چې د خداي تعالیٰ له قوانینو سره سم حکم نه کوي ظالمان دي.

## 7. په عبادت کښې توحید

په عبادت کښې د توحید په هکله تر ټولو لوي بحث د عبادت د معنا معلومول او پېژندل دي ځکه چې ټول مسلمانان په دې خبره یو نظر لري چې عبادت صرف د خداي کيدے شي او بې له خدایه د هیچا عبادت نه شي کیدے لکه څنګه چې قرآن مجید په دې هکله فرمايي:

"إِيّاكَ نَعبُدُ وإِيّاكَ نَستَعِينُ".[1]

یوازې ستا عبادت کوو او یوازې له تا مرسته غواړو.

د قرآن شریف له آیتونو داسې استفاده کیږي چې دا مسئله د ټولو پیغمبرانو په پیغام او بلنه کښې یو مشترک ټکے ؤ او ټول الهي استازي او پیغمبران د دې ټکي د تبلیغ لپاره ګمارل شوي دي قرآن مجید په دې هکله فرمايي:

"وَلَقَدْ بَعَثْنا فى كُلّ أُمّةٍ رَسولاً انِ اعبُدُ اللهَ و اجْتَنِبوا الطاغوتَ".[2]

په هر امت کښې مو یو پیغمبر پاڅوه چې د خداي عبادت وکړئ او له سرکښو او سرغړاندو ډډه وکړئ.

په دې اساس په دې منلې شوي اصل کښې چې پرستش او عبادت یوازې له خداي سره مخصوصه ده او بې له هغه د بل چا عبادت نه

1. حمد 4 آیت.
2. نحل 36 آیت.

شي کیدے هیڅ اختلاف نیشته او هیڅ یو کس ته موحد نه شو ویلے تر څو چې یې دا اصل نه وي منلے خبره په بل ځاي کښې ده او هغه دا چې له عبادته د غیر عبادت د تشخیص (معلومولو) معیار څه دے؟ آیا مثلاً د استاد، مور پلار او عالمانو د لاس ښکلول او یا د هغو کسانو چې پرمونږ حق لري هر ډول درناوے او تعظیم د هغوي عبادت ګڼل کیږي؟

او که نه عبادت د مطلقې خضوع او ډېر تعظیم او ټیټیدو په معنا نه دے بلکې که په دغه تعظیم کښې یو خاص عنصر نه وي نو حتیٰ د سجدې تر حده هم وي عبادت او پرستش نه دے.

اوس دا کتل پکار دي چې هغه عنصر چې تعظیم، خضوع او ټیټېدو ته د عبادت نوم او د پرستش عنوان ورکوي څه دے؟ دا مسئله ډېر مهم بحث دے.

## له عبادته غلط اخستون (مطلب اخستل)

ځینو لیکوالانو د عبادت معنا خضوع یا ډېره زیاده خضوع راخستې ده خو دغه کسان د یو لړ قرآني آیتونو په حل کولو کښې پاتې راغلي دي، قرآن مجید په ډاګه وایي: پرښتو ته مو امر وکړ چې آدم ته سجده وکړئ:

"وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلاَئِكَةِ اسْجُدُواْ لآدَمَ فَسَجَدُواْ إِلاَّ إِبْلِيسَ أَبَى وَاسْتَكْبَرَ وَكَانَ مِنَ الْكَافِرِينَ".[1]

1. بقره 34 آیت.

او کله چې مو پرښتو ته وویل آدم ته سجده وکړئ نو ټولو سجده وکړه سوا د ابلیس نه چې تکبر یې وکړ او له منکرانو څخه ؤ.
آدم ته سجده بالکل په هماغه شکل سره وه چې خداي ته سجده کیږي حال دا چې آدم ته سجده تواضع احترام او عاجزي وه او دوهمه عبادت او پرستش دے.
اوس ولې دغه دوه یو شان سجدې دوه مختلف ماهیتونه لري؟
قرآن مجید په یو بل ځاي کښې فرمایي: یعقوب پیغمبر له خپلو بچیانو سره یو ځاي یوسف ته سجده وکړه.
"وَ وَقَعَ اَبَویْهِ عَلَی العَرْشِ وَ خَرّ لَهُ سُجّداً وَ قَالَ یَا اَبَتِ هَذا تَاوِیل رُؤیَایَ مِنْ قَبْلُ قَدْ جَعَلَهَا رَبّی حَقاً".[1]
او حضرت یوسف خپل پلار او مور په تخت کښینول او هغوي ټولو یوسف ته سجده وکړه او یوسف وویل اي پلاره دا دے د هغه خوب تعبیر چې له دې مخکښې مې لیدلے ؤ او خداي تعالیٰ د هغه حقانیت ثابت کړ.
یادونه ضروري ده چې له تیر خوبه د حضرت یوسف(ع) مطلب هماغه خوب ؤ چې لیدلې یې وو چې یوولس ستوري لمر او سپوږمۍ هغه ته سجده کوي لکه څنګه چې قرآن د حضرت یوسف(ع) له قوله فرمایي:
"إنّی رایتُ اَحَد عَشَر کَوکباً وَالشَمسَ والقَمَرَ رأیتُهُم لی ساجِدینْ".[2]

1. یوسف 100 آیت.
2. سوره یوسف 4 ایت

ما یوولس ستوري اولمر او سپوږمۍ ولیدل چې ما ته سجده کوي.
له دې امله چې حضرت یوسف د خپلو خپلوانو سجده د خپل تیر خوب تاویل ګڼي نو معلومیږي چې له یوولسو ستوریو د هغه مطلب یوولس ورونه او لمر او سپوږمۍ د هغه مور او پلار دي.
نو معلومیږي چې نه یوازې د یوسف ورونو بلکې مور او پلار یې هم هغه ته سجده وکړه.
اوس پوښتنه کوو ولې دغه سجدې ته چې د عاجزۍ خضوع او فروتنۍ اوج دے د عبادت نوم ورنه کړل شو؟

عذر بدتر از ګناه

دلته دغه کسان له ځوابه پاتې راغلي دي او وایي له دې امله چې دغه خضوع ګانې د خداي په حکم شوي نو شرک نه دے.
خو ټولو ته ښکاره ده چې دا ډېر نامناسب ځواب دے ځکه چې که د یو عمل ماهیت شرک وي خداي تعالیٰ یې هیڅ کله امر نه کوي قرآن مجید فرمایي:
"قُلْ إنّ اللّهَ لا يأمُرُكُم بالفَحشاءِ اَتَقُولُونَ عَلى اللّهَ مَالا تَعلَمُون".[1]
ووایه: خداي تاسو ته د فحشاء امـــر نه کوي آیا هغه څه چې نه پرې پوهیږئ په خداي پورې یې تړئ؟

1.سوره اعراف 28 ایت

اصولاً د خداي حکم د يو څيز ماهيت نه بدلوي که د يو انسان په وړاندې د خضوع حقيقت د هغه عبادت او پرستش وي او خداي هم د هغه امر وکړي نتيجه به يې د خپل ځان د پرستش امر وي.

## د اشکال (اعتراض) حل او د عبادت حقيقي معنا

تر دې ځايه روښانه شوه چې بې له خدايه د بل چا د عبادت ممنوعيت داسې مسئله ده چې د نړۍ ټول مؤحدان پرې د نظر اتفاق لري له بلې خوا معلومه شوه چې آدم ته د پرښتو سجده او يوسف ته د يعقوب (ع) او د يوسف د ورڼو سجده دواړه عبادت نه ګڼل کيږي.

اوس بايد وګورو چې کوم عامل د دې سبب کيږي چې يو حرکت يو ځل د عبادت نوم ولري خو يو ځل بيا همدا حرکت په دغه ځانګړتيا سره د عبادت له ټولګې ووځي؟

د قرآن آيتونو ته په مراجعې سره معلوميږي چې عبادت، د يو موجود خضوع ده خو په دې عقيدې سره چې هغه موجود خداي وګڼل شي او يا ورته د خداي د کارونو نسبت ورکړل شي، نو معلومه شوه چې په خداي عقيده او د خداي کارونو په وس لرلو عقيده هماغه عنصر دے چې که خضوع ورسره شي نو د عبادت رنګ اخلي.

او د نړۍ مشرکانو که هغه د هند اوسيدونکي دي او که د نړۍ د نورو سيمو د ځينو موجوداتو په وړاندې خضوع او خشوع کوله البته دغه موجودات يې د خداي مخلوق ګڼلو خو په عين حال

کښې يې دا عقيده لرله چې د خداي ځينې کارونه چې لانديني حد يې د ګناهانو د بخښلو حق او د شفاعت د مقام ملکيت دے هغو ته سپارل شوے دے.

د بابل ځينو مشرکانو به اسماني اجرامو (ستوريو وغيره) ته عبادت او سجده کوله هغوي به يې خپل پالونکي (رب) ګڼل نه خالق او پنځوونکي. يعنې داسې موجودات يې ګڼل چې د نړۍ او انسانانو تدبير او چلول هغوي ته ورکړل شوي دي. او له هغوي سره حضرت ابراهيم(ع) مناظره په همدغه خبره وه ځکه چې د بابل مشرکانو لمر مياشته او ستوري خالق نه ګڼل بلکې داسې قدرتمن مخلوقات يې ګڼل چې د نړۍ چلول پالل او تدبير هغوي ته ورکړل شوے وے.

د قرآن آيتونه هم چې د بابل له مشرکانو سره د حضرت ابراهيم(ع) د مناظرې ښووونکي دي د "رب" په ټکي تکيه کوي.[1] او د رب معنا د خپل مملوک مدبر او پالونکے دے.

عربان د کور څښتن ته وايي: "ربّ البيت" او د پټي خاوند ته وايي: "ربّ الضيعه" دا ځکه چې د کور چلول او پټي سرڅښه او پالنه يې د خاوند په غاړه وي.

قرآن مجيد د نړۍ د يوازيني مدبر او پالونکي په توګه د خداي تعالیٰ په معرفي کولو سره د مشرکانو له ډلې سره مبارزې ته پاڅيږي او ټول د يوازيني خداي عبادت ته بلي او داسې فرمايي:

"إنّ الله ربی وَ رَبّکُم فاعبُدُوه هٰذا صراطٌ مستَقيم[1]

---

1. انعام 76 – 78 آيتونه.

لوي خداي زما او ستاسو رب دے نو عبادت یې وکړئ او دا نیغه او صحیح لاره ده.
او په یو بل ځاي کښې فرمایي:
"ذَلِکُمُ اللّهُ رَبُّکُمْ لا إِلَـهَ إِلاَّ هُوَ خَالِقُ کُلِّ شَيْءٍ فَاعْبُدُوهُ".[2]
هغه دے داسې خداي چې ستاسو پالونکے دے بې له هغه هیڅ خداي نیشته د هر څه پیدا کوونکے دے نو د هغه عبادت وکړئ.
او په سوره دخان کښې فرمایي:
لا إلهَ الاّ هو یُحْیِ وَ یُمِیتُ رَبّکُم وَ رَبّ اٰباءکمُ الاولین[3]
بې له یوازیني خداي بل پالونکے نیشته ژوندې کول او مړکول کوي ستاسو او ستاسو د تیرو پلار نیکونو د چارو مدبر او پالونکے دے.
قرآن مجید د حضرت عیسیٰ له خولې داسې فرمایي:
"وَقَالَ الْمَسِیحُ یَا بَنِي إِسْرَائِیلَ اعْبُدُواْ اللّهَ رَبِّي وَرَبَّکُمْ".[4]
حضرت عیسیٰ وفرمایل: اي بني اسرائیلو د خداي عبادت وکړئ چې زما او ستاسو پالونکے دے.
څه چې مو بیان کړل له هغو ښه معلومیږي چې هر داسې خضوع او فروتني چې بل ته پکښې د خدایۍ او ربوبیت عقیده نه وي او

1. آل عمران 51 آیت.
2. انعام 102 آیت.
3. دخان 8 آیت.
4. مائده 72 آیت.

بل ته د خداي د كارونو د سپارلو نسبت پكښې نه وي عبادت نه شي بلل كيدے كه څه هم د خضوع اخري درجه (سجده) ولې نه وي.
نو د پلار او مور په وړاندې د اولاد خضوع او د پيغمبر(ص) په وړاندې د امت خضوع چې دغه نسبت پكښې نيشته د هغوي عبادت نه دے.
په دې بنياد ډېرې خبرې لكه: د خداي د وليانو په آثارو پورې ځان مبارك كول د زيارت ښكلول او د زيارت د ديوالونو او دروازو ښكلول او د خداي د در په نازولو پورې توسل، د خدا ي د غوره بندګانو بلل او د خداي د وليانو د زوكړې يا وفات د ورځو لمانځل او داسې نور چې ځينې ناپوهه كسان ورته د شرك او بې له خدايه د بل چا د عبادت رنګ وركوي دا ټول له خدايه پرته د بل چا د عبادت له قيده ازاد دي او شرك نه ګڼل كيږي.

WWW.AL-SHIA.ORG